# GHAR GHUNDE

DR. IHSAN ZAHEER AFRIDI

# غرغونډې



ډاکټر احسان ظهیر افریدی

غرغونډې

ډاکټر احسان ظهیر افریدی

دغه غرغونډې مې د سترګو نم زړه وينه کښې ګډه
پيغلې ځلمي څه چې ځ. م دشتې تاتره به شنه کړي

# غرغونډې

ډاکټر احسان ظهير افريدی

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب د چاپ ټول ځانګړي حقوق د ارسلان افریدی سره خوندي دي


## لار ټوکیه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | **غرغونډې** |
| لیکوال: | احسان ظهیر افریدی |
| مخ پاڼه: | **وروڼ ډیزائن کور.** |
| د چاپ کال: | ۲۰۲۵ء. |
| د چاپ شمېره: | ۱۰۰۰ جلده. |
| اهتمام: | کلیم اللّٰه طوفان او ډاکټر زبیر حسرت. |
| چاپ چارې: | مُبارک پبلشرز او قلم کتاب مرکز. |
| خورونکي: | **پښتو ادبي مرکز، پېښور، پښتونخوا، خپلواک پښتو ادبي جرګه خیبر پښتونخوا.** |
| د موندلو درکونه: | یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پیښور، کتاب کور یونیورسټی روډ پیښور، پښتواکیډیمي بک شاپ پیښور، ادب محل قیصه خواني بازار پیښور، اباسین بک شاپ کراچي، ټکټوکتاب کور کاسي روډ کویټه. |
| انلاین: | https://ketabton.com<br>https://www.amazon.com/b |



# تړون

تړون د خپل ډير خوږ ښه زړي ځوي ارسلان په لاس خپلو اروانښادو په ما مئينو مور او پلار ته چې د هغوی د سيوري لاندې نن د هغوی مقام ته د رسيدو هڅه کوم.

**احسان ظهير افريدى**

# ډالۍ

د يو لر او بر درنو زړه پورې اغلو، ښاغلو، ملګرو شاعرانو او اديبانو، اولس پالونکي مشرانو او هر نږئيز کس ته چې د ښځې او سړي د يووالي زيار کاږي ته د مينې نه ډکه ډالۍ

منني

احسان ظهير افريدى

# پېژندګلو

ډاکټر احسان ظهير افريدى زوى د عبد الاعظم نمسى د سيد احمد په قام كوكي خېل افريدى پښتون افغان، په كال ۱۹٤٠ كښې په ټېډې بازار جمرود خيبر كښې زېږېدلې دې دځلورم پينځم ټولګي نه د شاعرۍ سره پاخه اړيکي لري.

په كال ٦٤-۱۹٦۳ كښې د اسلاميه كالج پېښور د خيبر يونين صدر پاتې دى.

ټولنيزه انسان پيژندنه (social Anthropology او اروا درملنه Psycho Therapy دواړو كښې يې د ولايت د سترو پوهنتونونو نه د ډاكټرۍ ډګرياني اخستې دي. د كولمبيا ميسوري امريكه نه ئې په مديريت او پرمختيايي لوستنو كښې MS (Management in Development Studies) كړي دي. د كال ۱۹۸۵ نه تر ۱۹۸۹ پورې د UNDP له اړخه د هېواد د استازي ( Country Representative) په توګه څه موده ې د NIPA د مشر ښودونكي ( Senior instructor ) په حيث خدمات تر سره كړي دي.

د پېښور پوهنتون ګڼ شمېر د ډاكټرۍ سبقيانو ته يې لارښودنه كړې ده. دپېښور پوهنتون د پروفېسرى او د شمالي سيمو د اېډيشنل سكتر چوكى ورته وړاندې شوې دي خو په كورني وجوهاتو يې نه دي قبولې كړي.

د اولسي ادبي جرګې لواړګي (ځانګې سره دنورو ګڼ شمېر ټولنو په تنقيدي غونډو كښې ې په مودو مودو ناسته او زدكړه كړې ده. حمزه، همېش، اجمل، طوفان، كامل، ناظر، خاطر خيبر او قيوم كوثر غوندې صاحبانو سره ورته د ملګرتيا ناستې ولاړې او نزديكت شرف هم حاصل دى. د كال ۱۹٦٠ خواوشا د پاكستان رائټز ګلډ غړى جوړ شه او د خپلې صوبې په نمائندګى د اردو د فيض قتيل او نورو لوړو ليكوالانو سره يې هم په شريكه كار كړى دى.

د ښاغلي ظهير د شاعرۍ موضوعات علامات تشبيهات، کنايات، ژبه، رنګ روغن بېخي ځانګړی، خوږ او اثري دي قاميت مقاميت، انسان دوستي او ترقي پسندي ئې د خوښې سرخطونه دي. اندازې فلسفيانه، منطقي او مدلل ښکاري. کله کله دومره رندانه شوخ شي چې په لوستونکو غوني لشي لشي کړي او د ځينو ټولنيزو کردارونو داسې بې نشي جراحي وکړي چې هغه په ځان خبرېږي کار شوی وي آزاد خيالي او شعله بياني د دوي د شعر لويه خاصه ده.

په درناوي

ډاکټر اباسين يوسفزے

رېښمينه مانی د پوهنتون، لاره پېښور پښتونخوا

۲۰ - جنوری – ۲۰۲۵

# شاعري څه و

شاعري د لفظونو د ترتیب او تر کیب نظم او تشکیل نوم دې چې د شعر خیال اول د شاعر د هنر هنر لوبه کوي او بیا د نورو خلکو د ماغو سره د عقل عقل لوبه کوي او بیا د زړونو سره د مینې مینې او حسن حسن لوبه کوي پدې ټولو لوبو کښې د شاعر خیال شریک وي

شعر یو داسې هنر دې چې د ژبې مالک دې او د ژبې تعلق د معنو سره وي او معنې د ژوند تصویرونه جوړوي او د خلکوفکرونه بیدار ساتي او شعور ته رڼرا ورکوي

په دې وجه شاعري یو ذمدارانه عمل ګنړلې شي

ډاکټر ظهیر افریدی د شاعرۍ کتاب غرغنډې چاپ کوي او د خپلې غریبې پښتو جولۍ ته خپله برښه وراچوي

ځما د زړه نه دعا ده چې دې دې تل ژوندې وي او یقین لرم چې پښتانه به ې قدر اوکړي او په ډیر درناوي.

رحمت شاه سایل

۲٦-جنوری- ۲۰۲۵

# عرض خليل

محمد احسان ظهير اپريدے د پښتو د هغه ادبی ټولی (انجمن) ستورے دے چې د شلمي ميلادي پيړۍ په منځوٌمانه کښې ئې د نوی ادب او شاعرۍ پلوشې خوروليې، خو دغه ستورے ډېره موده له مداره وتے وو ځکه چې په ځوانۍ کښې په لندن کښې ميشته شوے دے او تر اوسه هم هلته ميشت دے د خوشحالۍ خبره داده چې د لندن رڼاګانو او ځلاګانو هم ترې خپله ساهو او خوږه پښتو هيره نه کړه، تر دې چې خپل پښتو ليک د فارسۍ، عربۍ اونورو بهرنو ژبې نه هم په ډ ډه يې ساتل غواړي او په سوچه او ساهو پښتو کښې ليک او شاعري کوي ښاغلے احسان ظهير صاحب په خپله ځوانۍ کښې هم دومره ګړندے او خوښ شخصيت وو چې د حمزه بابا، اکرم فاروق او ناظر شنواري نه علاوه د طاهر کلاچوي، ولي محمد طوفان، اجمل خټک، هميش خليل او قلندر مومند غوندې نوموړو ليکوالو د علمي اوادبي ناستو غړے او په د غو ټولو ډېر ګران وو، دومره ګران چې طاهر کلاچوي او همش خليل د احسان ظهير صاحب او د هغه د ورور نواز اپريدي په ودونو کښې ګډون کولو نو دغو دواړو نوميالو د احسان ظهير صاحب ته سهري (نظمونه) هم ليکلې وې چې د دواړو په شعري ټولګو د (مينې غيږ) او (زما سندري) کښې چاپ هم دي.

محمد احسان ظهير صاحب چې د هغه زلمي توب نه پښتو ژبې او شاعرۍ سره پت پاللے دے نو تر ننه ئې پالي،خپله شاعري ئې خوندي ساتلې ده لس اته ټولګې ئې ترې تيارې کړې دي چې په دغو ټولګو کښې يوه اوس

دادے په کتابي شکل خپل پښتون اولس ته وړاندي کوي د هغهٔ په دي ټولګه کښې زيات نظمونه او غزلې دي، خو ورسره ځني قطعې، ځانګړی شعرونه او نور صنفونه هم شته، د ظهير صاحب په شاعري کښې يو مست رومان او جمال هم شته چې د ډيرې زړه راښکونکي منظر کشی سره يي وړاندې کوي، خو ورسره د ټولنيز شعور او ترجمان نظمونه او غزلي، د سياسي نظرياتو نمائنده کلامونه، او د مقصديت ترجمان شعرونه هم لري، په هر اړخ او هره موضوع ئې په خلاص مټ او ازاد فکر اظهار خيال کړے دے، او په خپله روانه او فطري ژبه کښې ئي کړے دے، د هغه شاعري يو تاريخی تناظر او د هغه د ماضی عکسونه هم لري او د پښتو کلتور رنګونه هم، زه ورته په دغه اوسنۍ ټولګه مبارکي ورکوم او نورو شعری ټولګو ته ئې سترګې په لار يم.

حنيف خليل

اسلام آباد

۲٦ جنوري ۲۰۲۵ ء

# د ویاړ خبره

د ډاکټر احسان ظهير اپريدي په حقله ما ډېر اوريدلي وو، خو هغوي په لندن کښې ژوند کوي، نو ليدل کتل مې ورسره نه وو شوي، دا خو په ۱۲ جنوري ۲۰۲۵ باندے زما د کتاب مخکتنې په دستور کښې د ډاکټر صيب ګډون وو چې هغوئ سره ليدل اوشول، ډاکټر صيب را له ډېره مينه راکړه، ډاکټر صيب يو ډېر فعال ادبي، سماجي او علمي شخصيت دے.

دا ډېره د وياړ خبره ده چې په ۱۹۷۲ کښې ئې د لندن سکول آف اکنامکس انګلستان نه په سوشل انتهراپالوجي کښې ډاکټريت کړئ دې، ډاکټر ظهير صيب په ۱۹۶۰ کښې د جمرود په خاوره د جم پښتو ادبي ډله) جوړه کړے وه، نو دا ويلی نشو چې په جمرود کښې د پښتو ادبي ټولنو او مشاعرو بنياد دوی ايخودے دے.

ډاکټر احسان ظهير اپريدی صيب دے ژوندئے او په صحت روغ وی. آمين.

پروفيسر ډاکټر منظور مضطر اپريدے

ډين (Dean) فيکلټي آف سوشل سائنسز

نړيوال اسلامي پوهنتون اسلام آباد

۲۵ جنوري ۲۰۲۵

## يا الله

# د زړه خبره

زما د طالب علمۍ زمانه کښې ما دکاکا جان ډاکټر احسان ظهير اپريدى شعري مجموعه (سرې لمبې) لستلې وه چې ډېره قامي اؤ د مشرقي فکر او نن نه ډکه شاعري وه پکښې. دغه شاعرۍ کښې رومانويت هم وه او مقصديت هم، اشتراکيت هم وه اؤ د خپلو اسلافو د قدم خاپى (نخښې) هم، ولې بيا هغه يو دم دَ پښتونخوا د منظر نه غائب شو ډېره موده پس مې بيا د پښتونخوا په سټېج منظرنامه کښې د خوبروۍ سره وه ليدهٔ سور سپين، رنګ کوټلى وجود، ښکلى سرى کلين شيو او هغه بيا غائب شو خبر شوم چې لندن کښې ډاکټرى اؤ استوړنه کوي، بيا تر ډېرې مودې لۀ منظره پناه وه، داسي چې د پښتو لستونکيو د ذهنونو دَ ائينو نه هم هېر شوى وى.

او اوس چې ډېره موده پس د لندن د ډاکټرۍ نه بېرته راغلى دى نو درې اتيا کلنۍ کښې مې وه ليده دا ځل چې هغوى ځان سره د شاعرۍ کومې صحيفې راوړى دى، ګويا دا پرې الله الهام کړى وي حلانکې زما په خيال دې شاعرۍ کښې د هغوى د خارجيت سره سره د هغوى انتهائى داخليت هم شامل دى.

غني خانه (د پنجرې چغار) کښې ليکلى وو چې د شاعر په وجود څرمن نه وى چې پوټې غندې د ازغي څوکه وروړي نو دى په ترټرقو شى مطلب دى هر څۀ ډېر زر جس کولى شى زود رنجه هم دى او خوش بينه هم راتلونکى وختونو ته، امن، سوکالۍ اؤ د قام اولس او وطن پښتونخوا خوشحالۍ ته، ځکه نو دې شاعرۍ کښې يې قام پرستى په غورځنګونو بريښى شايد ډېرو لُستونکيو ته دا شاعرى هسې د لېونى دَ خُلې بې توله او بې توکه خبرې وه بريښى خو لېونى خو لېونى وى نو په خبرو يې ډېر کم خلق پوهېږي هغه هم چې لېونى وي دلته دَ

لېونی نه زما مراد (جينيس(genius) دی چې خپل فکر او فن (هنر) کښې يکتا، لاثانی او لاجواب وي. دې شاعرۍ کښې به د يوې انتها نه تر بلې انتها هر څه وي، مذهب، جنس، جذبات قام قام پرستی او وطن دوستی خو د خپلو انتهائی احساساتو او جذباتو سره سم ځکه چې عموماً شاعرۍ کښې د دين، وطن، ائين، مختلفو قومونو او قوميتونو او شخصيتونو په حقله ځېنې خبرې د پروپيګنډې په شمېر کښې راځي او شعريت اؤ تغزل ترې له مينځه ووځي اؤ محض نعره بازی پاتې کېږي، خو د ظهير صاحب دا موجوده شاعري تر ډېره حده د پښتو او پښتونولی په معنيو پوره خيژي، ولې دا خبره هم بې ځايه نه وي چې په ظهير صاحب که څه هم مغربي اثرات غالب ليدی شي ولې دوی په مغرب کې هم خپله پښتو، پښتونولی او پښتون شناخت له لاسه نه دي ورکړي او دا ټول هر څه په دې موجوده شاعرۍ کې پريمانه وجود لري.

ظهير صاحب خپله شاعرۍ کښې ځينې علاقائي ټکی اؤ د خپلې اپريدوالې لهجې | لفظونه هم استعمال کړی دی چې يوه فطري خبره ده اؤ شايد د دوی په فکر هم درست وي چې د لهجو لفظونه ژبې ته راتلل د ژبې وسعت او پراخي زياتوی، خو د شاعرۍ دَ پاره زما په خيال بين الافغاني پښتو ژبه پکارول به ډېر غوره وو، چې درست پښتون له قندهاره تر اټکه پرې يو شان پوهېږي.

نور د ډاکټر صاحب (غرغنډې) پوهه شه او تاسو چې په لستو به يې درته دا اندازه وه لګي چې دې کښې چې څومره غرغنډې اور اؤ انګار دی نو شايد چې دومره غرغنډې په دوزخ کښې هم نه وي، ولې له دوزخونو مو دې لوی الله وه ساتي.

پروفيسر ډاکټر محمد زبير حسرت

۲۰ جنوری ۲۰۲۵

د باچا خان د وفات وؤه ديرشمه کاليزه

# د پښتون قام روښانه سبا

ساده پښتونه تهٔ خبرات کښې آزادۍ غواړې
هغوي دې پوزه پرې کوي او تهٔ نتکۍ غواړې

ګران مشر ډاکتر احسان ظهير افريدی هم د ګوتو د شمار پهٔ داسې يو څو ساده پښتنو کښې دی چې د پښتون قام د روښانه سبا او پرمخ تللې ټولنې خوبونه د خپل ځانګړي خيال پهٔ ټالونو زنګوي ښکاره خبره ده د لېونتوب دا مرتبه خبراتي پهٔ لاس نه راځي. دا اوږدې ټولعمري هڅې غواړي د تخت و تاراج قهر ته ځان نيول غواړي او د دربارونو مزې قربانول غواړي، لنډه دا چې ښاغلی د ډېرو سختو جرندو وتی هغه کلکه هيره ده چې ريښتيا هم وئيلي شي او خپل فکر هم لرلی شي. د غلامۍ رنځونو خوړلي او يرولي قام سره د يو بېدار ضمير ژوند ډېر ګران وي او هم د دهغه وجې د ذهن د پارې ښکته کولو د پاره څوک لېوني لېوني تقريرونه کوي، څوک د زمانې زنځيرونه ماتوي او څوک د زړهٔ بړاس د قلم په تېره شوکه راوباسي. زما په خيال د دې
کتاب ليکوال هم دهغه لمبې د شعرونو پهٔ لار قام ته رسوي او ځان قلاروي.
د پښتون قام او د پښتو ادب د پاره د هغوي دا کتاب يو داسې پېرزوئنه ده چې د پښتون فکرۍ نوې لارې به پرانځي او راروانې زمانې به پکښې د پښتون فکر د آزادۍ او ګڼ اړخيزۍ ډېرې ائينې او ويني او ډېرو ملګرو ته به پکښې خپل عکسونه او رنګونه هم ښکاره شي. قبضه ګر قامونه د دې تجربو نه تېر دي او خبر دي چې خپلو قبضه شوو قامونو له د غلامۍ تربيت کول څومره ګران کار وي او څومره صدۍ غواړي خو د دې نه په لس چنده زيات ګران او د صدو متقاضي کار دهغه غلامانو له د آزادۍ او بغاوت تربيت ورکول دي. د داسې مجاهدو بريالي چې کامياب شي نو ننګيالي او بريالي قهرمانان بللی شي او چې ناکام شي نو باغيان او د وژلو قابل مجرمان شي. د دې سوبه ډېر کم خلق داسې هڅو ته غاړه ږدي او زما په خيال ظهير افريدی د داسې

قافلو په وړومبي قطار کښې ولاړ ښکاري. باقي کامیابېږي او که نه، میر وس پۀ خپل وس پر دی۔ زما ورسره ملاقاتونه کم او خبرې ډېرې شوي دي. د قدرمند ظهیر افریدي د پوهې او فکر تول زما غوندې د کم علمه او بې تجربې کشرانو د وس خبره نۀ ده خو دا په ډاډ وئیلی شم چې د دوي شمار زما په هغه مشرانو ملګرو کښې دی چې خبرې ورسره شورو کړم نو د دماغو بې شماره کړکۍ مې پخپله پرانستی شي او زه هم د هغه تارونو پۀ بنګار کښې سر سره سمې د منطق او فلسفې خبرې شورو کړم او د خلقو په خیال زۀ هم هوښیار ښکارم دا کمال ډېرو کمو مشرانو کښې وي۔ افریدی صېب سره چې خبرې شورو کړم نو د خپل فکر پۀ موسیقۍ کښې د منطق او فلسفې یو داسې ماحول جوړ کړي چې اجمل بابا ئې یو شعر کښې داسې بیانوي.

په دې ښکلې فضا کښې چې هم حسن شته هم مینه

رباب که دلتـــــــــه کېږدې نو پخپـــــــله به ټنګېږي

یو پوهه ملګري راته وئیل چې سړی په یو شعر شاعر کېږي او که خوشحال بابا د دې لاندیني شعر نه پس یو شعر هم نه وی لیکلی نو بیا به هم ډېر لوې شاعر وۀ.

عزرائیل دې ځان له بل څۀ کار پېدا کړي

ساه خو هاغه وه د یار په خنـــــــــدا لاړه

مطلب مې دا دی چې قدرمند ظهیر افریدی یو لوې شاعر دی خو د ډاکټر صېب نور کمالونه شمارل هم آسان نه دي . دا د زده کړې او پوهې یو داسې درنګ دی چې را روان نسلونه به ترې ډېره رڼا و مومي. زما دعا ده چې خدای پاک دې مونږ ټولو له د ریښتیا ویلو توفیق راکړي چې دا خو اوزار انسان چې ځان ئې د خپله لاسه د غلامۍ زنځیرونو کښې تړلی دی د خپل اصلي مقام نه خبر کړو او د انساني سوکالۍ د دهغه روښانه لارې په جوړخ کښې لاس وکړؤ۔ آمین

د روښانه سبا په اومید

یاسین اقبال یوسفزی

# ورک قلمکار

يو ليکلې لوستلې مشــــــــر استاذ شاعر او دانشور دې
دخپل شپېته کلن بڼ باس نه يو وارې بيا کاروان سره راګډېږي

دا د پښتو او پښتنو خوش نصيبي ده چې يو ورک قلمکار يې بيا موندلو او دايې بدنصيبي هم ده چې خپل دغه پوهه زيرک او استاذ تخليق کار ترې په مودو مودو دولايت په مصروفه ژوند کښې ديو شاعر په حيث ډډې ته وه.

د پښتو دشلمې پېړۍ دنماينده شاعرانو اديبانو دناستې پاستې او محفل دغه تکړه قلمکار او ارواپوه مسيحا يو مينه ناک او انسان دوسته پښتون اپريدے دې چې هم تخليقي توان لري هم پراخه مشاهده او هم ژوره پوهه خوشحال بابا وائ:

د خوشحال خټک له عشقــــه ګفتګوۍ شي
چې په لوخي کښې څه وي هغه ترې توۍ شي

هم دغه سبب دې چې دروايتي پښتون رومان سره دډاکټر صيب په شاعرۍ کښې فکري ژورتيا موضوعاتي تنوع اوصحت منده قابل فهم علامت نګاري هم په نظر راځي جرات اظهار سره موضوعاتي شوخي او نوښت درووايت په غېږه کښې شوې دغه شاعرۍ ته يو داسې ښه وربخښلې ده چې هم دلوستواو هم داورېدو خواږه لري او داځکه چې هم شاعرانه رنګيني او هم تخليقي صداقت باندې د غي د ځمکې غني شاعري ده

زه دې استاذ جرات مند او انسان دوسته شاعرته په دې زوړ عمر دځوانې جذبې سره ادبي کاروان سره په مل کېدو مبارکي وایم او پښتنو لپاره یې درواېت په غېږه کښې دجدت علامت ګڼم
د ډاکټر ظهیر دا یوه لاندینې چوڼ څلوریځه دې دیو موټې له خروار تاسو ته ډالۍ وي:

## غرغونډې

حسن فن هوس نفس خــــوند له ادراک وجدانه ډک دې
مولا جانه! تا ته ښکاري، خوشـــــــــې تشې دا ملنډې
دا دلراوبر زړه سوز دې حـــق غوښتن ژوند اغوستن دې
تش شراب کباب دا نه دي پښتون غوښته ده غورغونډې

نورالامین یوسفزے
شاه منصور صوابی
۲۴ جنوري کال ۲۰۲۵

# ښائسته انسان او خوږ زور ظهير

څه د تيرو دري کالو راسې د فيس بک د لارې خپل مشر رور ډاکټر ظهير افريدي سره په رابطه کښې ووم ـ بيا څه موده وړاندې د وټس ايپ د لارې مې د دوي اواز هم تر غوږو شو او د نصيب خبره وه چې تيرو ورځو کښې مې د خپل بل رور ډاکټر احمد علي عاجز د پاره د درناوي په دستوره کښې مې ورسره ليدهٔ کاتهٔ هم اوشو کومه چې خوئېندې ادبي لښکر پښتونخوا، پښتو اکېډمي کښې راجوړه کړې وه ـ ډاکټر صيب نهٔ يوازې يو خوږ او دروند انسان دې ـ بلکې يو ليکوال او شاعر هم دې ـ شاعري ئې ډيره ځانګړتيا لري ـ کله کله چې د فيس بک په پاڼه د دوي شعرونه اوګورم نو د کلاسيکل دور د يو زوړ شاعر ګمان مې پرې راشي ـ يو پښتون چې د رومان سره نزدې دې ـ او د متنوع موضوعاتو لاندې شعرونه ليکي شعرونو کښې ئې بيلا بيل رنګونه ښکاري ـ او دغه رنګونه د ژوند مختلف رنګونه او آهنګونه لري ـ لېونتوب ئې دومره دې چې د خپل ټول عمر جمع شوې شاعري ئې په يو ځاى د نهو لسو کتابونو په شکل کښې کمپوزنګ ته سپارلې ده ـ دا يو شعري مجموعه غور غونډې تياره ده ـ چې نوم ئې د ښکلا نه ډک دې لړمون به ئې هم ضرور خوږ وي ـ څه د زړه د تل نه خپل رور ته مبارکي ورکوم يو خو په دې چې د خپلې مور پښتو لمن ته ئې خپله پنګه او سپارله او بله داچې په اولس ئې هم احسان اوکړو ځکه چې حق حقدار ته اورسي د هر څه لويه خبره وي ـ

ما د متنوع موضوعاتو کومه خبره اوکړه دغه کښې که يو خوا رومان دې نو بل خوا په جنسياتو د ليک جرات هم دوي کړې دې ـ او دغه جرات د جدت نخښه ده چې د هر چا د وس خبره نه ده ـ دغه مشر استاد، دانشور، خوږ او سپېڅلې انسان چې ماته په شيرينه ژبه خور اوائي نو زړه مې خوشحاله شي چې د پښتو مور ټول ځامن راته الله ښاد اباد لره او دې رور له مې لوى عمر او ژوند ورکه امين! ـ

ډاکټر صیب وائي چې:

## خپلې کورنۍ مینه

خیال ساتي مې له اخلاسه پریوتو ته مې نه پریږدي
خوږه مینه پیرزوئینې په خوښي ې رالوګۍ کـــړل
د اتیو نه تیر شوي باندې څه به نظــــــــر لږي؟
خوشالي عمر ې ښه شه سپیلني ې را لوګۍ کـــړل

که ډاکټر صیب د اتیاؤ نه بره دې خو د قلم ښاپېرۍ ئې ځوانه ده ـ او لا دې ځوانه وي دغه مې دعا ده ـ

د ډیرو دعاګانو سره
کلثوم زیب ـ پېښور
نېټه ـ ۲۴-۱-۲۰۲۵

# زمونږ نازولی اؤ قدرمن مشر

# ډاکټر احسان ظهیر افریدی

محمد احسان یې خپل نوم اؤ ظهیر یې تخلص دے، خو پۀ ادبي دنیا کښې دَ احسان ظهیر افریدی پۀ نوم ډېر شهرت او مقبولیت لري، اؤ نن سباد ډاکټر احسان ظهیر افریدی په نوم پېژندے شي، دوي ډېر د تعارف محتاج نۀ دي ځکه چې دَ پښتو ژبې اؤ ادب سره واسطه لروونکي ټول خلق یې ښۀ پوره پیژني.

زمونږ دې ښاغلي مشر پۀ یو داسې وخت کښې د خپل ادبي اؤ فني ژوند اغاز کړے وُه، چې پۀ هغه وخت کښې د ستر حمزه بابا، اکرم خان فاروق، لعل زاده ناظر شینواري، مراد شینواري، مصري خان، خاطر افریدی، قیوم کوثر افریدی، خیبر افریدی، ضابط خان حلیم افریدی، ساحر افریدی او د ځینې نورو لویو لویو شخصیاتو د موجودګۍ پۀ وجه د خیبر په سیمه د مخکښې نه یوه زبر دسته ادبي فضا قائمه وه او یو ادبي اؤ فني چاپېرچل د مخکښې نه تشکیل موندلے وه، ددې ټولو نومورو سره د احسان ظهیر صیب ادبي مراسم اؤ روابط قائم وو او ددوی سره سم یې د دوی په عصر کښې خپل ادبي اؤ فني فعال کردار ادا کولو، پۀ دې زمانه کښې دوی ډېر زیات لیکل کول، غزل یې هم لیکلو، خو د نظم په طرف د دوی رجحان زیات وۀ، پخپل قام او وطن باندې مئین وه، پخپله هم د یو بیدار قامي شعور څښتن وۀ، او د نوي زلمي کهول دَ شعوري بیدارۍ هڅې یې هم کولی، هغه وخت هم روشن خیال، آزاد خیال اؤ د قام خواخوږے او همدرد وۀ، او اوس هم دے،

په کال ۱۹۵۸ء کښې د مراد شینواری په ادبي تذکره "دَ خیبر ادب" کښې د دوی د ژوند حالات، رجحانات او د کلام نمونې شاملې دي، په کال ۱۹٦۰ء کښې د " سرې لمبې" په نوم ددوی د شاعرۍ وړومبۍ مجموعه هم چاپ شوې وه بیا په کال ۱۹۸۲ کښې د خیبر افریدی په ادبي تذکره "د خیبر انګازې" کښې هم ددوی ذکر او د کلام نمونې موجودې دي، دوی ته دا اعزاز هم حاصل دے چې سید احمد جان افریدی ته خیبر تخلص دوی ورکړې وه، کوم چې اوس هم ډېر خلق دَ سید احمد جان په نوم نۀ پېژني، خو د خیبر افریدی په نوم یې هر څوک پېژني- یو بل اعزاز چې دوی ته حاصل دے هغه دادے چې د جمرود په سیمه د ټولو نه اول مشاعره هم دوی کړې وه، کومه چې د دوی پخپل واده کښې منعقد شوې وه، او د پښتو ژبې ډېرو لویو لویو شاعرانو پکښې برخه اخیستې وه، او د احسان ظهیر صېب د واده منظومې څهرې یې هم لیکلې وې، په خپله زما والد صاحب لعل زاده ناظر شینواری هم په دې موقع (په ١٤ مئ ۱۹٦۰ ء کښې) د دوي دَ پاره چې کومه څهره لیکلې وه، هغه څۀ پۀ دې ډول ده:

## د احسان ظهير څهره

وي پـۀ ګلونـو کښـې بـه بـدې اؤ هـم ښـې سـترګې
ظهـيره سـتا پـۀ لـور دي نـۀ شي دَ څهـرې سـترګې
مرغــۍ مرغــۍ دَ انتظـار دَ ګهـړۍ سـترګې شـولې
ړنـدې څهـرې تـه تـر سـبا دَ شـوګيرې سـترګې
چـې دَ څهـرې دَ خـوب پـۀ طمـع يـې پـۀ سرخـوب وۀ
ځکـه مـدام وې دَ کليـو تکـې سرې سـترګې

نـــن دَ هـــر گـــل دَ زړهٔ پـــه ســـيمه کـــې وادهٔ ښـــکاري
لاس دَ گـــلاب دَ خوشـــحالۍ پـــهٔ حنـــا سرهٔ ښـــکاري

هـــر پسرلـــی بـــه کلـــۍ گـــل شـــوې اؤ بيـــا مـــړهٔ گلونـــه
نـــــن دَ کلـــــۍ دَ زړهٔ دَ بـــــاغ اُوغوړيـــــدهٔ گلونـــــه
اؤ هـــر گـــل خپلـــې تقاضـــې ډولـــۍ ډولـــۍ ښـــکاري
هـــم پـــهٔ انگـــڼ کښـــې يـــې دَ زړهٔ اُووريـــدهٔ گلونـــه
بـــس دَ کلـــۍ لمـــن شـــوه ډکـــه دَ مـــراد پـــهٔ گلـــو
چې پهٔ څهره پسې پهٔ سترگو کښې يې شوهٔ گلونه

زلمـــي زلمـــي شـــو تـــر ځـــوانۍ ؤرســـيدهٔ وختونـــه
دَ ژونـــــد دَ نـــــاوې دَ اوربـــــل اُوغوړيـــــدهٔ وختونـــــه

زمونږ دا نازؤلی اوُ ښاغلی مشر دَ ځوانۍ ددې دور نه وروستو څهٔ موده دَ ادبي دنيا نه غائب وه، انگلينډ ته تلی وهٔ، هلته يې دَ خپل ژوند شپې ورځې تېرولې، خو اوس څهٔ مواده وړاندې بيا را پيدا شو، پهٔ تېرو څو کلونو کښې يې ډېره شاعري اوکړه، اؤ لا لگيا دی کوي يې، اوس دوی اراده کړې ده چې دوی سره دَ خپلې شاعرۍ کوم مواد موجودی، هغه ټول پهٔ مرحله وار ډول په کتابي شکل کښې خپل قام اؤ اولس ته وړاندې کول غواړي.

زهٔ د دوی دَ شاعرۍ پهٔ تفصيلاتو کښې نور تلل نهٔ غواړم، دومره به اووايم چې دوی دَ خپلو مخصوصو افکارو اؤ خيالاتو پهٔ تناظر کښې پهٔ يو مخصوص انداز کښې شاعري کړې ده.

خدائی دې ؤکا چې ددوی دغه شاعري دَ خپل قام اؤ اولس پۀ ګټه تمامه شي اؤ د خپلې مورنۍ پښتو ژبې اؤ ادب پۀ پرمختګ اؤ ارتقاء کښې يو مثبت کردار ادا کړي.

پۀ اخير کښې زۀ دَ خپل قدرمن مشر مننه کوم چې ما ته يې دَ خپلو تاثراتو دَ وړاندې کولو وينا اوکړه اؤ پۀ ما يې دا سود ؤشو، زۀ يې ممنون يم، اؤ په دې غرض مې دغه څو کرښې اوليکلې.

ډاکټر کليم شينواری.

۲۵- جنوری – ۲۰۲۵

# مننې يادګيرنې

ځما چلندويه اولسي او ادبي ژوند د ۱۹۵۸د جم د عبد الاعظم هايی سکول نه شورو شوې دې. دا سکول ځما د پلار په نوم دې چې ځما د وراره هم دا نوم وو او هغه د ارمی پبلک سکول د نسل کشي په حادثه کښې شهيد شوې وو. په هغې دوران کښې ما د جم د قامي ادبي ډلې نه علاوه د قبائيلي ځلمي کهول تحريک هم جوړ کړې وو او ور پسې وروستو په ۱۹۶۰ کښې د اسلاميه کاليجيټ سکول صدر او د هغې نه پس د اسلاميه کالج پوهنتون نه مې د تحريک اتحاد قبائيل بنړې کيښوه او په ۱۹۶۳-٤ کښې د خيبر يونين صدر هم وټاکل شوم او په دې دوران کښې ما د صوبه سرحد پښتونخوا نمايندګي په پاکستان رائټرز ګلدز کښې هم وکړه او د پښتو په ټولو ادبي سرګرميو کښې سره د اولسی ادبی جرګې هم لګيا وم. د پيښور پوهنتون نه مې د بې اې هانرز په سياست او اکنامکس کښې ډګري اخستلو نه پس مې د پنجاب پوهنتون په عمرانيات کښې ايم اې وکړه او ۱۹۶۸ کښې برتانيه ته د پي ايچ ډي د پاره لاړم او د لندن سکول آف اکنامکس نه مې وکړه . خو د دې سره سره دوطن د ادبي چاپيرچل نه بيخي کټ کړی شوم خو د لوی ځښتن ډير احسان په احسان دې چې د منظور پشتين د پښتون تحفظ مومنټ جهاد لکه د هر لر او بر افغان ځه هم بيا راژوندی کړم او نن د خپلو ډيرو نورو کتابونه سره د خيره په وار وار دا اولنی د غړغونډې″ کتاب افغان اولس ته وړاندې کوم او اراده مې ده چې د نورو ډيرو کتابونو سره به ځما او لنی کتاب سرې لمبې چې په ۱۹٦٤ کښې عظيم پبليشنګ هاوس بشپړ کړې وو بيا ې چاپ کړم .

ځه د خپل ځوي، ارسلان او لکه د ځوي کليم طوفان چې ځما د يو ډير خوږ ملګري ولی محمد طوفان ځوی، دی ورسره د پروفيسر دکتور زبير حسرت پروف کتنه او تيکه ونه او هغه هم ځما د يو بل نږدې ملګرې قلندر مومند

بالکې دی نو هغه هم ځما د وراره شو او ددې سره د فضل الله او د انعام الله ډیزاینر چې ې پرې شورو کړې وه او دې ټولو ډیره مینه خلوص سره په دې پروژه کښې خپله کارکردگي ثابته کړه نو ځه ې د زړه له کومي نه بې حده مننداويه یم.

دا کتاب په ډير لنډ وخت کښې د دې پروژې شتانتو ټيم په ډير هنر سره ته ورسولو. پروفيسر ډاکټر یاسین اقبال سره د بې حده مصروفیات اگر چې په کتاب څه وه نه شو لیکل خو په ما ې ولیکل همدا رنگې اباسین یوسفزي په خلوص او د زړه د مینې نه په ما شا پانړې ولیکله او پروفیسر زبیر حسرت خپله ریښتینې د مینې نه ډکې پیرزوئینې وړاندې کړې او ځما د کورنۍ خپل زړگی پروفیسر منظور اضطر افریدی او حما د مشر امیر حمزه خان شینواری د محفل د روح روان ډير دروند لعل زاده ناظر

شینواری ځوی دکتور کلیم شینواری چې دا مې بل وراره ملگرې دې، او د دې ټولو په دې کتاب لیکل هم بېشکه چې د یو معجزې نه کم نه دي او ځه د دې ټولو بیحده بسر و چشم ډير مشکور یم.

ډيرې درنې کلثوم زیب او راته درنو پروفيسر حنیف خلیل، رحمت شاه سایل، پروفيسر ډاکټر نور الامین یوسفزی او اقبال حسین افکار هم ځما سره په دې زغلن مزل کښې ډيره لار ښودنه راکړې او مننداوۍ ې یم.

په ډير درنښت

هم تاسو ټولو

ظهیر

# ډاکټر احسان ظهير اپريدی

# يو سپيڅلې ښاغلې شخصيت

مونږ چې په کال ۷۸ - ۱۹۷۷ کښې د پښتو ادب په دبستان قدم کېښود پل مو واخست نو په دغه لار مو د ډيرو علمي ادبي شخصيتونو سره پيژندګلو وشوه او د ځنو د کار او زيار نه د مطبوعاتو د لارې خبرېدو، په دغه ښاغليو کښې يو د قدر وړ نوم د محترم ډاکټر احسان ظهير آفريدي صيب دے، ډاکټر صيب دغه وخت په ادبي، کلتوري محفلونو کښې ګډون کول، او تخليقات به يي ددغه وخت په مختلفو مجلو اخبارونو کښې چاپيدل او مونږ به لوستل خوند رنګ به مو ترې اخستو خو بيا يک دم ډاکټر احسان ظهير اپريدے له نظره انجل بنجل شو، کله چې جديد ټيکنالوجي راغله د کيبل نيټ ورک سره انټرنيټ او د سوشل ميډيا نورې څانګې لکه فيس بک، مسينجر او نور اجرا شول نو د محترم ډاکټر احسان ظهير اپريدي سره رابطه راجوړه شوه هر څو که مونږ يو بل مخ په مخ نه ۇ ليدلي خو هغه به اکثر زما ډاډګيرنه کوله ويل به يي ستا کار، زيار وينم ليک او تخليق فکر و نظر دې زما خوښ دے او د سپيڅلے پښتنې جذبې ليونتوب ته دې پسخيرم نن چې مونږ د ژوند په دريځ په کوم مقام ولاړ يو په دې کښې د ډاکټر احسان ظهير اپريدي د ښاغليو د ډاډګيرنې لوے لاس دے۔ وخت او حالاتو که هر څو مونږ د يو هېر، بېر کړې ۇ خو بيا هم په روحي توګه د يو بل د لارې مله ۇ دا د ډاکټر صيب مينه او پښتونواله وه او ده چې هغه په ما خپل ځان را وپيژند, او دغې پيژندګلو راهسې تردې دمه د ډاکټر احسان ظهير اپريدي او زما ترمينځ پښتنه مينه په غورځنګونو ده الله پاک دې هم دغسې لري آمين۔

څه موده وړاندې يو ملګري چې د پښتو نظم جديد انقلابي شاعر ولي محمد طوفان ځوے ے نوم يي دا وخت نه راياديږي راته په مسينجر وويل چې محترم

احسان ظهير اپريدے ستا د رابطې نمبر غواړي دغه رنګ د هغه سره يو ځل بيا مواصلاتي رابطه جوړه شوه هغه د خپل ځوي او وريرې د ودونو بلنه راکړه ورسره يي دا زيرې راکړو چې ځما د کتابونو چاپ روان دے، ما دپاره د خوشحالۍ خبر دادې چې په پښتو ژبه د ډاکټر احسان ظهير اپريدي په څير د يو ځيرک دروند پښتون چې د خپلو سپيځلو رواياتو آمين دے, اعلي تعليم يافته او لوستې انسان دے ټوله دنيا يي د نيزدې ليدلي ده په انسان او انسانيت مئين دے د قامي مترقي فکر څښتن دے په سينه کښې يو دردېدلې زړه لري او په دغه زړګوټکي کښې پريوانه پښتنه مينه لري نو دداسې شخصيت ليک او تخليق په کتابي بڼه چاپ کيږي نو دا د پښتو او پښتنو دپاره د خير او خوشحالۍ لوے خبر دے يقيناً په دې کتابونو کښې به فن هم وي علميت هم مشاهده او تجربه به هم وي او د خيالونو رنګارنګي هم د ټولو لوے ځيز جذبه ده د ښاغلي ډاکټر احسان ظهير اپريدي جذبه سپيځلي ده د هغه حس ژوندې دے ـ زه ښه په يقين سره وايم چې د ډاکټر احسان ظهير اپريدي د نظم او نثر دغه کتابونه او خصوصاً شعري مجموعه " غړ غونډې " د پښتو د يويشتمې پيړۍ د نوي کهول د پاره د پرمختګۍ سره سره د نوو نوو تجربو يو ځانګړې نمونه وګرځي لکه چې د هغه په
دې قطعه " د مريخ لندن خيبر " خپلو راتلونکو نسلونو ته پيغام ورکوي۔

ورځې شپې وخت نوے ، ته هم د فکر ټال بدل کړه
که خوږ ژوندغواړې وخت دې خپل فکر نظر يو رنګ کړه
د تيراه بوړيې ، اوس تاريخ ، د اوسيدو کور نه دے
نن په مريخ کښې کړه کور جوړ ، لندن خيبر يو رنګ کړه

خيبر، لندن يو کول د علم د لارې کيږي او مريخ ته هم ختل هم د علم په لاره ممکنه ده نو ډاکټر احسان ظهير خپل پښتون ځوان کول د ژوند د ترقۍ لارې ښايي يو وخت ؤ چې انګريز قام زمونږ نه زيات د جهل په تيرو کښې ښکيل ؤ، قبليت ؤ او پاپائيت ؤ هغوي ددې دواړو بلاګانو ځان خلاص کړه او

علم ته يي لاس واچول او د يونان فلسفې چې مسلمان حکماء په عربی ژبه وژباړلے وے او تنقيدي تعبيرونه يي په کړي ؤ خپلې ژبې انگريزی ته راواړول او د مسلمانانو منورينو بنيادي سائنسي ايجادات يي پرمخ بوتلل او مسلمان خپلو کښې په اقتدار او فقهي مسلو ونختل او هغه جديد اسلام چې نه ورکښې پاپائيت او رهبانيت ؤ او نه ملوکيت هغه يي ددې بلاگانو سره مخ کړو، او مسلمان د پستی ښکار شو نو ډاکټر احسان ظهير په خپله دې قطعې کښې خپلو پښتنو ځوانانو ته ترقی لار ورښايي هيله من چې پښتانه ځوانان به د هغه دغه شعري مجموعه د زړه په مينه ولولي او خوند رنگ به ترې واخلي۔

زه ډير يقين سره وايم چې د محترم ډاکټر احسان ظهير اپريدي دا کتابونه به په پښتو ادب په ذخيره کښې غوره اضافه وي، زما دعا ده الله دې ډاکټر احسان ظهير اپريدي په خير شخصيتونه په ښه روغ ژوندي سلامت لري چې هم دغه رنگ ليک او تخليق کوي او د پښتو ادب ځولی د کتابونو برجغه کوي آمين ۔

اقبال حسين افکار
بهاره کهوه اسلام آباد
۲۶, جنوري ۲۰۲۵

# د خپل قام سره مینه

هغه ورځ مې د محترم مرحوم و مغفور خېبر اپريدي په کلي جمرود خېبر کښې د پروفېسر ډاکټر منظور مضطر اپريدي د کتاب " د خېبر وړانګې " په مخکتنه کښې د يو خويي په رنګ ښائستهٔ بزرګ شخصيت سره ملاقات اوشو چې نوم يې احسان ظهير وو، چې ما کله په سټېج خپله خبره د کتاب، صاحب کتاب او موقعې په مناسبت سره اوکړه نو د ناستې سره سم راته په دريځ ناست پروفېسر ډاکټر فخرالاسلام اووې چې ډاکټر صېب رانه تپوس اوکړو. چې ګني زما تعلق د کومې سياسي پارټۍ سره دے؟ فخرالاسلام صېب ؤفرمائيل چې ما ورته وې بس شاعر دے او بيا ډاکټر صېب ماته مخاطب شو چې تا خو سم سياسي تقرير اوکړو ، پته نشته چې شاعران به غېر سياسي ولې وي؟ ډاکټر احسان ظهير زمونږ د اکادمي، ادبي، قامي او سياسي تاريخ يوه ژوندۍ، ارزښتناکه او فعاله نامه ده.

په ولايت کښې يې پښتو پښتونولي د خپل ژوند ملګرې ساتلې ده، د ډاکټرېټ د غبرګو ډګريو سره سمه يې هم د روايت لمن نۀ ده پرېښې ـ د شرق و غرب د رنګينيو نه ډکو ښارونو ترې د خپل خړ خېبر او پښتون فطرت مينه نه ده تروړلې ـ د غربي ژبو د ادبياتو مطالعې ورته حمزۀ بابا، همېش خليل،اجمل خټک،ناظر بابا، خاطر او خېبر نور خوارۀ کړې دي ـ د قام او قام پرستۍ سبق يې د باچا خان د شخصيت او افکارو نه ايزده کړے دے ـ د امن ، ترقۍ،انصاف او خوشحالۍ پلوي دے ـ د صنفي تضاد بيخي خلاف دے ـ شعر يې د منطق او فلسفې نه ډک پک دے ـ سوچه کوکي خېل اپريدے پښتون دے ـ

پنځه اتيا کاله عمر يې دے خو زړۀ يې د خپلې خاورې د اب وهوا په مينه مست او ځوان دے ـ قام پرستي يې د ترقي پسندۍ سره همغاړې ده ـ هره قطعه يې د خپلې خاورې د مينې او خپل قام د نفسياتو د احساساسو سره کلک پېوستون لري ـ چې خله پرانيزي نو د قامي ترقۍ ، امن، خوشحالۍ او پښتون کلتور سره د مينې توري ترې لکه د ستوريو وربږي ـ چې فکر کوي نو د پښتنو د خويونو خصلتونو او عادتونو د مدنيت او تهذيب په چوکاټ کښې ځاے کولو خوبونه ويني ـ د پښتو ژبې او کلتور په هر ديار او ډګر ساتندويه دے ـ الله دې ورله د پښتو، پښتنو او پښتون خوا دپاره نور هم ډېر توانيز ژوند ورکړي ـ

ډاکټر اقبال شاکر

مرستيال ليکوال "مل" ملاکنډ

ـ۲۰۲۵/۰۱/۲۶ـ

## حمد ﷻ

### لويه خدايه -لويه خدايه !!

لاندې پاس په هره ساکښې، هر شي ښکلي په لوی شان کښې
په خوب ويښ انکار، اقرار، ې موجود شعور وجدان کښې
يو نوم ټکی، کائينات، ې خو موجود ځمکه اسمان کښې
دا ړانده چرته ليدی شي سراپا ې په احسان کښې؟
لويه خدايه! لويه خدايه!، شپه ورځ ځه ته په اتڼ يو
مخامخ سره ګڼ نه کړو، خو يو بل مينه، ګوڼ ګڼ يو
جم ټېډي بازار خيبر ۲۰ جنوري ۲۰۲۵



## نعت ﷺ

### ځان او مينه محمده ﷺ!

له مور پلار، جمال کونړ، په ګيلان* کښې مې هم ته ې
له زرتشت، ابرم له کوره، کړه، وجدان کښې مې هم ته ې
تا تيرې د خدای په امر، رڼاګانو کښې بدل کړې
ځما هر ټکي کښې پټ ې، ان او شان کښې مې هم ته ې
خلق دې هر څه هر څه وايی، ته ځما ې محمده ﷺ!
ځما څه، چې ته خو مينه، د هر چا ې محمده ﷺ!

*له پلار د کونړ مازومان، کچکول باباګان جمال الدين افغاني، له مور نه د عبدالقادر ګيلانی وينه.

ټېډي بازار، جم خيبر ۲۱ جنوري ۲۰۲۵

## د شملې خاوند

شمله ې بت کړه را په سر زړګیه!
خیبر ځما ځه د خیبر زړګیه!
ښکل باچا خان اؤ محمد ګل مومند کړم
زړه د کاکا، ولي رهبر زړګیه!
وو مولانا قادر، سلطان حسین شاه
د لار ښودنې مې رهبر زړګیه!
غني نېکمرغه د غني ملګرې
اجمل مئین هم بختور زړګیه!
بیا مو حمزه، ناظر، خاطر، ژوندي کړو
قیوم کوثر، ساحر، خیبر زړګیه!
لار ې درنه سخته خو تینګ لکه غر
کامرېد د علم سمندر زړګیه!
خدای شته چې هره ورځ یاد یې ځما
همېش، طوفان، راز د زړه سر زړګیه!
د علم فن د پښتو پنګې سپایان
وو بخش کوثر او قلندر زړګیه!
هم بېنوا، مفتون د حسن بنده!
ریشتین، الفت لوی جادوګر زړګیه!



د پیو شنې ښپراز زرغونې ځمکې
کامل وه پلار د لر او بر زړګیه!
خادم، رسا، وو رسیدلي فن ته
اعظم، مراد، سلیم، لوړ غر زړګیه!
کوم کوم به شمیرم ټول لالونه غمي
ستوري سپوږمۍ وو لکه لمر زړګیه!
سپین وېښته سرکښې هم ځما زرغون شول
هم د کوواټ ایوب صابر زړګیه!
نه مې دې هیر هغه چاربېتو باچا
د اسمائیلې جوشي حیدر زړګیه!
هم تني او اوسني غمي ټول
شته اپیردې په کښې مضطر زړګیه!
د لر بر ښځې سړي یو خپلواک غاړ
زوړ نوي کهول ظهیر پدر زړګیه!

خیبر لاج حیات اباد پیښور، ۲۳ جنوری ۲۰۲۵

## غرغونډې

حسن فن هوس نفس خوند، له ادراک وجدانه ډک دي
ملا جانه! تا ته ښکاري، خوشې تشې دا ملنډې
دا د لر او بر زړه سوز دی حق غوښتن ژوند اغوستن دی
تش شراب کباب دا نه دي پښتون غوښته ده غرغونډې

اعظم اباد ورسک روډ پیښور، ۲۳ جنوری ۲۰۲۵

## خپلې کورنۍ مينه

خيال ساتي مې له اخلاسه پريوتو ته مې نه پرېږدي
خوږه مينه پيرزوئينې په خوښي ې رالوګۍ کړل
د اتياو نه تير شوي باندې څه به نظر لږي؟
خوشالي عمر ې ښه شه سپيلني ې رالوګۍ کړل

خيبر لاج حيات اباد پېښور، ۲۴ جنوری ۲۰۲۵

## درويش د خدای په کور کښې

چې ستا دعا واعظ جنت ته ورلېږلی شي زر
نو ساقی څه چې په شرابو به دې ولامبوي
بيا لږ ورمخکې شه غوېي څو نوري اووهه ته
نو يو وجود به شي الله ته به دې ورسوي

لندن، ۲۳، نومبر، ۲۰۱۷

## مور په بچي ساه اخلي

اوده پښتون له مورې! کونه کښې لغتي ورکړه
ګڼې ژوندې مړې د ساه د اخيستو به نه وي
نن هم څه تلي څه راغلي نه دي کور به جوړ کړي
خو که سبا ته شوه د خپلو د پردو به نه وي

لندن، ۲۳، نومبر، ۲۰۱۷



## پاکي فرض ده

د تن او ذهن صفايي، د رنځ درمل عبادت
په هر مذهب پوره ايمان دی د خپل ځان پاکي
د کور کوځي صفايي، واړه چاپېرچل صفايي
فرض دي واړه د هوس نفس شېطان پاکي

لندن، ۲۳، نومبر، ۲۰۱۷

## غازي هم شهيد

چې په پښتو پښتون خپل سر په پښتونخوا ورکوي
هغه رېښتونی مسلمان به دا جنت ساتي
دواړه جهانه يې روښانه که غازي شهيد وي
د ازادی په بام اوچت به سر اوچت ساتي

لندن، ۲۳، نومبر، ۲۰۱۷

## ماته را اوګوره د يار په سترګو!

هره ورشو مې د وطن زرغون کړه
بيا هم ازغی يم د اغيار په سترګو
ظهيره! پورته کړه نظر دې مړه
لږ راته اوګوره د يار په سترګو

لندن، ۲۳، نومبر، ۲۰۱۷

## ښځه او حوره

خدایه! ستا حوره ښځې ذات ته رسېدې چرته شي
هغه خدائينه مخکښې وروستو جنتونه لري
شهد خوړل، ګنې څوپل د لوږې تندې درمل
دغه دنيا جنت دې واړه نعمتو نه لري
لندن، ۲۲، نومبر، ۲۰۱۷

## لاندې باندې کښې پرخ نشته!

ګرم مې مه ګڼه بلنه ستا د سترګو
که يوه خوله بې اجازې زه له تا واخلم
سزاوار مې کړه خولې په ما سوره شه
ته رابانـدې زه درلاندې بلا واخلم
لندن، ۲۲، نومبر، ۲۰۲۰

## مشر مشر

مشر هغه، لارې کوڅې چې ساتي
زما او ستا د بل پړدې چې ساتي
مينه او يره له اولسه کوي
په شپه او ورځې دروازې چې ساتي
لندن، ۲۲، نومبر، ۲۰۱۷



## ښځه او حوره

خدایه! ستا حوره ښځې ذات ته رسېدې چرته شي
هغه خدائينه مخکښې وروستو جنتونه لري
شهد خوړل، ګنې څوپل د لوږې تندې درمل
دغه دنيا جنت دې واړه نعمتو نه لري
لندن، ۲۲، نومبر، ۲۰۱۷

## بيل بيل خوند له مينې واخله

ترهګر خود کش د ګور په خاورو موړ کړه
مينې دوه ورځې ژوندون دې خوند ترې واخله
خوند د مينې کرونا وبا کښې بيل دې
دا بندون ناشتون لوې شتون دې خوند ترې واخله
لندن، ۲۱، نومبر، ۲۰۲۰

## درويش د خدای په کور کښې

چې ستا دعا واعظ جنت ته ورلېږلې شي زر
نو ساقي څه چې په شرابو به دې ولامبوي
بيا لږ ورمخکې شه غوږې څو نوري اووهه ته
نو يو وجود به شي الله ته به دې ورسوي
لندن، ۲۳، نومبر، ۲۰۱۷

## لیوني لیوني نه وي!

وایي ترابان په کاڼو اووله
کار خو دي‌زما خپلي لیلو سره
“مم” او“ شوده” غواړم نور څه نه غواړم
څه به کړي خبرې لېونو سره!

لندن، ۲۱، نومبر، ۲۰۱۷

## د ژوند خاطر

چې د ژوند ژواک، واک په خاطر نه رسي
څنګه به وخت په تول او تله تېر کړي؟
د ژوند په خوند، سړی شي هله پوهه
چې څنګ په څنګ، تر یو تر بله تېر کړي

لندن، ۲۱، نومبر، ۲۰۱۷

## رنګین خوبونه

زه یې سزا او جزا نه تولمه
زه په رنګین ښکلو خوبو کښې لامبم
که لاس مې نه رسي منګولو ته ستا
درسره خوب کښې په کوسو کښې لامبم

لندن، ۲۱، نومبر، ۲۰۱۷



## چې د وطن شوې د هر چا شوې

د وطن چې شوې نو ګوره د هر چا شوې
خیر د ځان، نه د ادي نه د بابا شوې
ولې داسې چې در مخکښې شوم په شا شوې؟
زما هڅې هم‌ته نه وې د بل چا شوې
ښکلی باغ د پښتنو دي کړو دوپچن
خدای وهلي‌نور تور مخی په دنیا شوې
تا خو ویلو زما ځان زما ځیګر دی
نو بیا ولې تري په څنګ شوې‌په‌ژړا شوې؟
دغه تمه زما نه وه پښتون کور نه
اشنا سترګي په‌کښې‌ګوره نا اشنا شوې!
بې وسي خوره، څه پاتي نه شو ژوند کښې
پېغورونه او ګیلي له‌ما او تا شوې
جدایي زما د وژنې نیت دې کړی
غرضي لکه په خټه اور هوا شوې
لا خو دا ګورې د مینې ابتدا ده
ظهیرجانه! ولې دومره وار خطا شوې

لندن، ۲۱، نومبر، ۲۰۱۷

## زړه یې د ستني ترسوم

وشوه بس ډېره وشوه، وژني مې تر کومه پوري؟
زړه کښې مې زړه ې ته د ستني نه تر ترسومه پوري
د خوږې خولې شهد پري لیو کړه چې وړمې یې ورشي
مهې بیا ځان در رسوي تر دغې لومه پورې
لندن، ۲۰، نومبر، ۲۰۲۰

## خپله خپله خوښه

څوک چې له ټکنه غرمي نه انتظار کړي ورته
دیدن هغه ته د شهو ماذیګرۍ خوند کوي
د شونډو خوند نورهم زیاتېږي چې ورټوپ کړي ډنډ ته
لکه له پټې تیکي وروستو کرېندي خوند کوي
لندن، ۲۰، نومبر، ۲۰۱۹

## مینه مینه نشته

اي د ملا لورې ته خو پلار د ملا وختي!
ځکه مې د چرګ په لنګې ناسته ښه پرې سوبې کړي
مینه فارمي کاغذي، هیڅ په چا باور نه کړي
هڅې خوند اخلي زما مینې سره لوبي کړي
لندن، ۲۰، نومبر، ۲۰۱۷



## د پښتو لمن کړه ټینګه

هغه کم نه وي د شیطان له بچې
چې څوک لمنه د شیطان نیسي
احسان خو مینه پیرزوئین د خدای
نېکمرغ لمنه د احسان نیسي
لندن، ۱۹، نومبر، ۲۰۲۰

## انتباه Warning

خوړل دې دومره څه اسان نه دي ښکاري دې پوه شي
ځان به اول خوري دا تالب د پنجابۍ دې پوه شي
یې د ګبین مچې چیچل به زړه تنها کې یې کړي
په دې تورسپین که عربی او عجمی دې پوه شي
لندن، ۱۹، نومبر، ۲۰۲۰

## نوک د خوړلو نه دي

نوک ګوته دواړه دي د کار خو د خوړلو نه دي
ګوته به هضم کړي خو نوک د هضمولو نه دي
تالبه! موتې درله ښه وو، په ماشوم وختي کښې؟
بیا په جومات کښې دغه کار خو د کولو نه دي
لندن، ۱۹، نومبر، ۲۰۱۹

## کرکه رنځ مينه ترياق

خولې چې بند نه کړي دا درمل د هر يو رنځ دې ګوري
خوله ډوبه راکړه دا ترياق د کرونا راکړه
خوله خوله ويکسين شه چې هر هڅه ته دمه ورسوي
د هر يو رګ سترګو ته بيا د ژوند رڼا راکړه
لندن، ۱۸، نومبر، ۲۰۲۰

## زمکه خاوره

زه خاوره زمکه ښکلوم تري نه رانجه جوړوم
له دغي خاورې نه زما او ستا خمير جوړ دی
دا زمونږ کور دی زمونږ اور جنت دوزخت دی زمونږ
د دې حجرې جومات، زمونږه د ملې تير جوړ دي
لندن، ۱۸، نومبر، ۲۰۱۷

## په سترګو زړونو پوهېږي

که د زړه سترګو په سوزولو نازولي پوهېږي
د وخت او مينې په قيمت باندې هم ښکلي پوهېږي!
که لر او بر سره واو نه ورو نو ورکېږو ګورې
ډېره ده سمه پرې ښاغلی او اغلي پوهېږي
لندن، ۱۸، نومبر، ۲۰۱۷



## اخلاص

پړانګ د اخلاص په ډانګ کړه سم چې لاره وونه وکړي
که اړه ونه، که دونړه وي، خپل منزل راټينګ کړه
هوا خوره ده د يووالي، لر او بر يو کېږي
ګوتې د وخت په نبض کېږده سور قاتل راټينګ کړه
لندن، ۱۷، نومبر، ۲۰۲۰

## که را نه غلې زما سترګي به ړندې شي

ستا يادونو کښې ژړا مي دې سرې کړي
نه ليچنې نه مي سترګي شرابي دي
که زر رانه غلې کيدی شي چې ړندې شي
د بيلتون بې وفايې په اور ستي دي
لندن، ۱۷، نومبر، ۲۰۱۷

## خوب راغلو

ستا خوندورو چې کيسو ته مې غوږ ونيوو نو خوب راغلو
دی تلوسو ته وسوسو ته مې غوږ نيوو نو خوب راغلو
دا نه په ميو په سجدو، ستا الهو ووده کړم
د ترمو شونډو رپېدو ته مې غوږ ونيوو نو خوب راغلو
لندن، ۱۷، نومبر، ۲۰۱۷

## کرکه رنځ مینه تریاق

خولې چې بند نه کړي دا درمل د هر یو رنځ دې ګوري
خوله ډوبه راکړه دا تریاق د کرونا راکړه
خوله خوله ویکسین شه چې هر ځله ته دمه ورسوي
د هر یو رګ سترګو ته بیا د ژوند رڼا راکړه
لندن، ۱۸، نومبر، ۲۰۲۰

## زمکه خاوره

زه خاوره زمکه ښکلوم ترې نه رانجه جوړوم
له دغې خاورې نه زما او ستا خمیر جوړ دی
دا زمونږ کور دی زمونږ اور جنت دوزخت دی زمونږ
د دې حجرې جومات، زمونږه د ملې تیر جوړ دي
لندن، ۱۸، نومبر، ۲۰۱۷

## موسی شپون او کرونا

که غواړې بیا چې سترګې وغړوم
خوله ځیني خال په کرونا کېږده
سیني سیني شه پوکي پوکي راکړه
د ژوند د میني بنیاد بیا کېږده
لندن، ۱٦، نومبر، ۲۰۲۰



## ژوند

ناکامي او نا خوالي خو په ژوندوني باندي مرګ دی
ژوند هغه چې هر یو ګام دې خوشحالي او کامیابي وي
علامې د ازادۍ وي، سقالۍ رڼا هرلور وي
هر طرف خندا، نڅا وي، سره ګلان او پسرلي وي
لندن، ۱٦، نومبر، ۲۰۱۷

## د میني وړه دي غریب

که زور یې نه وي په ژړا به درله سر وه خوري
ماشوم غریب له ډوبه خوبه چې راویښ نه کړې
ورپورې خاندې ولې دا خو مناسبه نه ده؟
چې تېر وتلی په سهي لاره ورسیخ نه کړي
لندن، ۱٦، نومبر، ۲۰۱۹

## خوږ او تریښ

جوړې ختمه مې له داسې بوتی جوړه نه بدلېږي
چا ته شهد چا ته ذقن، چا ته ژوند او عقوبت شي
لاتر اوسه زه پوه نه شوم د خپل ژوند په دي کرکېچ
مئینان راځیني تښتي، ډېره مینه هم نفرت کړي؟
لندن، ۱٦، نومبر، ۲۰۱۷

## انغري اور چې مړ نه کړې!

چې له حجري نه انغرۍ سکاره او اور لرې کړې
نو هديره شي، ځان له دې نه خبريدلۍ ساته
د ايرو غم وه نه کړي دا به يو ورځ وه تو کېږي
حق خپل ګټه، د لړمانه اور لګيدلۍ ساته

لندن، ۱۵، نومبر، ۲۰۲۰

## بريال اوسه

وايي وريځي چې غورېږي نو وربږي کله
بريال هغه چې ګټې وکړي هم ځان غلي ساتي
ژوندي قومونه خپل کردار، پندار ګفتار او ژبه
له ځان او ماله ګران هېواد سرلوړ ښاغلي ساتي

لندن، ۱۵، نومبر، ۲۰۱۹

## لمر خاته لمر پرواته

لمر پريواته، سور ماښامۍ اخري شپه ده جوړي
د نوي ژوند د ازادي نوې سبا رادرومي
بيا زه او ته به وو او مينه مينه امن به وي
سوره په ما او د نمر ځړيکه به په ما رادرومي

لندن، ۱۵، نومبر، ۲۰۱۷



## زوړ خو نو ظهير

زه هم د اجمل او د حمزه د کډې يار يمه
پاتي شوم يوازي د مغل سترګو کښې خار يمه
ځنګ کښې مي د زړه، پنجاب ازغن ګلاب کرلې دي
وينه مي د زړه سترګې زبيښي، ډير بي قرار يمه
وي که ملالۍ، قنديل نجيب که فرخنده افغان
نن ولاړ په حق د استعمار سترګو کښې خار يمه
نه د ګندومک، کواټې، ډيورنډ کيسي منلۍ شو
نه د دي فتني هوايي کرخو ته تيار يمه
ديرش لکه وم آرين اوغان پنځه لس سوه کال مخکې
دوه ميليون کړل مړه عرب، مشال ولاړ په دار يمه
ملک مي ټول جنت دۍ د کوترو د سيسو د باغو
تا په کښې اور بل کړو،اوس اخته په سور انګار يمه
ډير صبر مې وکړو نور زغم نه لرم بې صبره شوم
نور د سور بېرغ اوچتيدو ته په تلوار يمه
نه مي پت ناموس د خپل لوي شپون بابا پرې ايښې دۍ
يم احسان ظهير، په يو ګفتار، پندار، کردار يمه

لندن، ۱۵، نومبر، ۲۰۱۷

## ذقن ترياق انجروت

څه کلانکاره يې ټېنډې نه هم امروت جوړوې
خو بيا هم ښه شوه په هنر يې ښه په چروت جوړوې
تابيه دې جوړې مې دې مرګ ته جوړه کړې ګرانه!
چې د ذقن نه ته ترياق او انجروت جوړوي
لندن، ١٤، نومبر، ٢٠٢٠

## زړه مې دې بخښلی نه شي

پښتو خو څه کړي زړه مې مات شو پيوستون يې نه شي
زه به دې وه بخښم خو زړه مې دې بخښلی نه شي
په پښتني مينې ژوندون دې سم ډيورنډ راښکلو
بدل د مينې کښې نفرت هېڅوک زغملی نه شي
لندن، ١٤، نومبر، ٢٠١٩

## زړي خيښې نوي شوي

لاس او په اوږه يو لر بر کړي لارې نېغې
هر څه په وخت به اوس راځي لارې کوڅې نوې شوې
ستړيه زړګيه! اخر خدای دې فرياد واورېدلو
هغه زړګونه کاله ورکې ښيښې مړې نوې شوي
لندن، ١٤، نومبر، ٢٠١٧



## د ډيورنډ مزی په جهلم واچوه

نن دې بوټان په تناره او کټ په پښه ولاړ دي
شه را اوچت ورته يو دم الم غلم ې سم کړه
پورته شه شېر او يا شنګيړي کړه، مړ هڅې هم يې
د ډيورنډ مزی له تورخمه په جهلم يې سم کړه
لندن، ١٤، نومبر، ٢٠١٧

## عجيبه مخلوق

هڅې چا نه دې ويلي، دی له جن پيري له ذاته
شيطان خو څه کړې چې خدای هم ترې ځيني ځنډي وهی
خو نه شوو ټينګ، د دې لېوانو پنجابيانو د اسلام چابې ته
په اسلام ورک پشتون لوړ ګوره پاپړ ځيني نن منډي وهي
لندن، ١٤، نومبر، ٢٠١٧

## اوښکي دي نه شم زغمئ

ولې دروغ وو وايم ولې د حق ژبه کټ کړم؟
په زړبودی کښې هم هر ښکلی په ما ښه لګېږي
ژوند زما واخله، ساه مې واخله، اوښکې مه راښايه!
ستا هره اوښکه مې سکروټه په زړګې بلېږي
لندن، ١٤، نومبر، ٢٠١٧

## ازادي

زما تر کومه پوري ژبه خپله شوي نه وي
که شاهنشاه هم شم تالي به د مریانو څټم
که مې خپل کور باغات سیندونه وطن نه کړو ازاد
په شته اوبو کښې به زه لاړې د مارغانو څټم

لندن، ١٤، نومبر، ۲۰۱۷

## ژبه ټوپک

عمر مې وه‌خوړو په‌تا، سترګي مې سرې په‌ژړا
اوښکي مې وچې کړه په‌پیڅکه نور مې مه ژړ وه
اینده کښې بدبختي! داسې څوک کړي مئینانو سره
ژبه دې بده له‌ټوپکه، نور مې مه ژړوه

لندن، ۱۳، نومبر، ۲۰۲۰

## خیال که حقیقت؟

ته راته دا وو وایه‌خیال که حقیقت یې زما
د افلاطون له پلاره تا له ما ماشوم جوړ کړو
نور د زړه راز د پټېدو نه څرګندویه غواړي
که داسې غواړي چه هرځاې دي راته لوم جوړ کړو؟

لندن، ۳۱، نومبر، ۲۰۲۰



## ریښتینتیا به مني
## Accept Reality

زړه راته وایي لیونۍ یې حور غلمان نه مني
په تول د عقل چې انسان نه مني ځان نه مني
یاد کړه طوطي غونډې مې لویه په چورۍ مینه کړي
چې شولې پېغله نو شین سترګې شوې احسان نه مني

لندن، ۱۳، نومبر، ۲۰۱۹

## ښه پوهېږم خو نه پوهېږم؟

پښي خو په مینه کښې منډم ورله، چې مور مې شوله
خوړې ګولۍ ورله راوړم ډېري، چې خور مې شوله
پنډۍ، بغني کښې منډم ورله رنځوره ډېره
واړه وړوکې صبروم به، چې انړور مې شوله

لندن، ۱۲، نومبر، ۲۰۱۹

## مست الست ستا په نشه کښې

څه شې څه معجزې څه تماشي به، درته مخکښې مخکښې راشي ښکته پورته به ښکاره درته نړۍ شي، مینځ کښې ننه شه جنت ته زه‌هم داسې بې‌هوش ښه یم، ستا په مینه مست الست یم ټول وجود زما دمه دی، کښې منډي مې راته وایي غم یې مه کړه، عقوبت ته

لندن، ۱۲، نومبر، ۲۰۱۷

## اوښه پښتنه ده معمه ده؟

اوښه مې څه کړي دواړه اوښي سم وژل کوي
پښتنه اوښه مې کړي زړه که بيا چلول کوي
چې دا زېږېږي که د لمسه، که خندا په ما کړي؟
حيران يم کسم ورته څه سترګې وهل کوي؟
لندن، ۱۲، نومبر، ۲۰۱۷

## عجيبه مخلوق پشتون

تيار پسونه که حج وي که قربان درنه د دين په نامه
څه پښتانه دي خدای وهلي، پويول ګران دي
د خپل تره زوي يې دی تربور، د بېری بور دی خوری يې
وری او تری به روان وي شهادت ته د جنت په ارمان
لندن، ۱۲، نومبر، ۲۰۱۷

## مينه

## LOVE

مينه په نن سبا د فکر غورځنګونو نه شي
مينه چې کړي نو کړه په نره ډوبه خوله تري واخله
په هغه دغه نه شي، ځان پري سم ور وه غورځوه
زړه له ګوګل ورته را وه باسه سم زړه تري واخله
لندن، ۱۱، نومبر، ۲۰۲۰



## زما د زړه کلي کښې

زما زړه د مينى امن، يو نړۍ د سکون کلى
يو شېبه دلته سر کېږده چې خوند واخلې له جنته
دلته پت، انسانيت، د رېښتيا ګلان ټوکېږي
خدای رسول غاړه په غاړه، کړي نفرت له هرنفرته
لندن، ۱۱، نومبر، ۲۰۱۷

## د نا خوالې سوله

ډېر څه مې وکړل په خوږه او په ترښه وه نه شوه
د بنګو بوټۍ يې د چا درباندې ښه وه نه شوه
نور د زړه زور مې نشته ځان به تيار سولې ته کړم
يمه په حق خو په توده او په سړه وه نه شوه
لندن، ۱۱، نومبر، ۲۰۱۷

## د مريخ لندن خيبر

ورځې شپې وخت نوې، ته هم د فکر تال بدل کړه
که خوږ ژوندغواړې وخت دې خپل فکر نظر يو رنګ
کړه د تيراه بوړېږي، اوس تاريخ، د اوسيدو کور نه دي
نن په مريخ کښې کړه کور جوړ، لندن خيبر يو رنګ کړه

لندن، ۱۱، نومبر، ۲۰۱۸

## هوا مينه ، مينه ژوند

ځوک يې خوند اخلي له وړمو د چا مړخت په بېړي بور نشته
د خداې پسته پتهه تيکه ده، مړېدل يې په سپين سور نشته
زار له ادم چې ځان له پتهه يې له خدای کړه دا منهه هندوانهه!
هوا ناسور که شي خوړه ده، وايم ژوند دې دا ناسور نشته
لندن، ۱۰، نومبر، ۲۰۲۰

## مېړه پښتون کړه

سپېرمړی ښه دي کينولی دې په ګوته باندي
ته يې بګوه ګوره شه چې ګيدړه نه شي
چې په خپل ورور پسي بد وايي غوړ پري وه نيسه سم
ته پښتنه مېړه پښتون کړه، پنجابنهه نه شي
لندن، ۹، نومبر، ۲۰۲۰

## سوزني کښې ټينګ تړلی

په کليواله، پښتونواله ګلوني ځانګو کښې
ښکلی زمری بچی مور څه ټينګ په سوزني تړلی
چې د ژوند هر يو ازمېښت لکه زمری وزغمي
له غاړې پښو پورې يې ټينګ سراسري تړلی
لندن، ۹، نومبر، ۲۰۱۸



## مينه ليونی ده

تيلی مې څه درکړو چې اور دي انغري شوغلې کړي نوري تېزې
قربان چې وايي نور هم راکړه، ستا تيلي په لګيدو کښې خوند دی
سبا مابنام مې سوزه وه په مينه تور مې چې پښتون مجنون کړې
ريښتيا ريښتيا چې په قسم دي جنتونه، سوزېدو کښې خوند دی
لندن، ۹، نومبر، ۲۰۱۹

## قابو ذهن

لکه د کوږ او جګجګي يم ويښ اوده نه خوځم
سترګې هم نن ژباړم تا غواړم ته مې زړه کښې ګرځې
هم هغه وشوو رانه لاړې پرې دي ښوم تياره ته
لکه ورک کونګ دې زه ځارم د شپې ساړه کښې ګرځې
لندن، ۹، نومبر، ۲۰۱۷

## د ژوند ساه

زما رو ژوند، ساه اخيستل وېستل، تا مړ ګڼلم
قربان قربان په مينه بيا دې د ژوند ساه راکړه
مازغو تري واخيسته رڼکه، سرغوټ بيا زلمي شو
زما، نفس، هوس، زړه، سترګو له رڼا راکړه
لندن، ۸، نومبر، ۲۰۲۰

## د خولې او تلې خيال

ستا دبدبه کېمخواب، لته مي د پښو خاوري دي
خبري ماسره که کړې، په تول درنه تله کړه
زما پښتو، مينه، کړاو، که په سم تول ته تلې!
نو د خولې بيه دې په پوخ سير او پخه تله کړه

لندن، ۸، نومبر، ۲۰۱۸

## تا ته سجده مې خدای قبوله کړله

د ټول عمر سجدې خدای زما قبول کړې
په لمانځه په ميکده کښې شوې رايادہ
خوب مې وتښتېدو ځان مې په لړزان شو
ناڅاپي په نيمه شپه کښې شوې رايادہ

لندن، ۸، نومبر، ۲۰۱۹

## شپونکی که ښاپيری

زما وړوکی نازک زړه يې په سارا کښې پټ کړو
چرته هغه زما د کلي ته شپونکی خو نه يې؟
بيا ارادې څه دي، بيا د چا د قتل وار دی
بيا را ښکاره شوې، څه شيشکه لېونی خو نه يې؟

لندن، ۸، نومبر، ۲۰۱۸



## ښکلي پښتنه ده

که ادا يې که مسکا ده، که يې ويار ځان پښتونخوا ده
خدای په مينه جوړه کړې، ډيري موتې کښې نيولې
ښکلي وخت ته ده بلنه، سترګې شونډې يې خوږ ژوند دي
کوم کوم ځای به يې ستايمه، هر څه هرڅه يې دي ښکلي

لندن، ۸، نومبر، ۲۰۱۷

## الهام که معجزه

خدای الهام او معجزه تش په زيار فکر نه شي
لته بکړې ته سپڼکي سپرغۍ رڼا رڼا شي
ډوب کوي کنم په کوداله ناست يم تندې والې
تېل مي اوبه اوبه تېل، ژوند تياره سبا سبا شي

لندن، ۸، نومبر، ۲۰۱۸

## چاپېرچل سهي کړه

د خر بچي دې په چوکه بلند دي
په مينه نه پوېږي په ډب پوهېږي
څوک چې لوي شوي د ځاروو سره وي
هغه به څه لا په ادب پوهېږي

لندن، ۷، نومبر، ۲۰۲۰

## چاپېرچل سهي کړه

د خــــر بچـــــۍ دي پــــه چوکــــه بلـــــد دي
پــــه مينــــه نــــه پــــويږي پــــه ډب پــــوهېږي
څـوک چـې لـوي شـوي د څـاروو سـره وي
هغــــه بــــه څــــه لا پــــه ادب پــــوهېږي
لندن، ۷، نومبر، ۲۰۲۰

## پېښور

اسـلام ابـاد دي درپسـي لېونـو سـپو اوخـوړې
وه پېښـوره تـه هـم خپلـو او پـردو اوخـوړې
تـه دردانـه د آريانـه وې، ټـول جنـت باغونـه
نـن د نـړۍ د وخـت تـودو او هـم سړو اوخـوړې
لندن، ۷، نومبر، ۲۰۱۷

## مينه جنون خيالي بلا او پولاو

که لېونۍ جنون د مينی په زړه دين حور او غلمان سترګو کښې
د کايينات، ژوند ، په هر څيز کښې ورته ته، او ته بس ته ښکارېږې!
زمکه، اسمان، غر، سيند ، سپوږمۍ، لمر اور دوي خداې ګڼي ښه
په ګل، آمو کښې ننه ته، مينه، هوس، واړه د زړه ښکارېږې!
لندن، ۷، نومبر، ۲۰۱۸



## جنتي خوب

هېڅ خبر نه وو له ځانه خوله لګيا يې په سورنۍ وه
چا ماشوم نازک ماشوم يې په رو رو مينه رولو
چې يې سترګې شوې رابېرته توره شپه ږلۍ باران وو
که وه خوب هم سم جنت وه ژړېدلو خندېدلو؟
لندن، ۷، نومبر، ۲۰۱۹

## څه عجب پښتون مخلوق

څـه عجـب مخلـوق دا پښـتانه لـه کومـه پوسـته دي
خپلو ته ساړه، پردو ته درونـد او مېلمه دوسته دي
تره زوي يې تربور، مېلمه دښمن ته مېلمستيا ورکړي
سم دي ليونيـان کـه لـه خيبـر او کـه لـه خوسـته دي
لندن، ٦، نومبر، ۲۰۲۰

## هواي ريښتين خيالونه

خيـــال تزنـــوونکۍ او غوغـــا غوغـــا ده
مينـــه، ســـکون، کرکـــه، تنهـــا تنهـــا ده
کلـــه پېـــرۍ او ښـــاپيرۍ شـــي راتـــه
کلـــه ډرون، بـــم، تـــوره بـــلا بـــلا ده
لندن، ٦، نومبر، ۲۰۱۸

## نن د سبا سیلاب ته بند وتړه

نـه چـا لیـدلی، سـبا، نـه پـرون واپـس رادرومـي
د سبا توې ته بند تړل، تینډک پرون هېر نه کړې
چې د دمې پړاو ته ورسي، اوده نه شي ډېر
بیدار اوسېږه په ځان تېر چې شواخون هېر نه کړې
لندن، ۵، نومبر، ۲۰۱۸

## ایره او انغری

خیر که په شونډو مې د زړه وینه ته هم وڅوپي
خو انغري ایرو کښې پوې شه چې توکل منع دي*
زوړ موړ کوچي ته که اور ور نه کړې، پوه ماه مې اخلي
د نیمي شپي یې په کیږده، سوړه وښکل منع دي
لندن، ۵، نومبر، ۲۰۱۸

## تاریخ او اتلان

چې هېر نه کړي حق ویونکي مبارز او شهیدان
هم نجیب نقیب مشال او عارف ښکلی ارمان
افغانی مامدګل خان، باچاخان او سمد خان
له تاریخ ځیني به اوځي که دي هېر کړل اتلان
لندن، ۵، نومبر، ۲۰۲۰



Those were the days now proudly leaving to the New Generation to Lead
Great reminiscence. Thanks for this post of sharing my ۱۹۲۴ Khyber Union Cabinet when I was the President. I was tall and slim young really smart guy with usually having crewcut hair style. At that time I was pioneering the confederation of Pak Afghan Iran as one Aryana Nation. I had also invited Chau in Lai the The Head Of the People Republic Of China to be the honorary member of the Khyber Union which was in principle accepted but due to global political pressure ،from his itinerary Peshwar was removed when visiting Pakistan and my dream of Ahmad Shah Abdali and Afghan Emperor Mirwis was broken.
**London, ۰۵, November , ۲۰۲۱**

## تیراه

د تیـــراه بـــاړې اوبـــو زرکـــو ســـندرو،
واوریـــن بـــاد د ســـحر پرښـــي تـــاترې مـــې
د خیبـــر تنبـــې پـــه جـــم ټیـــډې بـــازار کښـــې
یـــو وړه غـــوټۍ پـــه مینـــه زه زرغـــون کـــړم
خدای لـه ورایـه مـي مسـکۍ وه لیوتتـوب تـه،
ځلمـی پیغلـې زلمیتـوب کښـې رانـه تـاو وي
نـړه ایـز پښـتون یـووالۍ، او د مـور ښـځې بـری،
هزاده په مخ او خوي مینه والو د ژوند شپون کړم
لندن، ۵، نومبر، ۲۰۱۹

## زه لا زلمې يم

زوړ بوډا هغه وي چې ي زړه زوړوی
زما زړګی خو يوشتم کښې دی لا
هغه ځلمو ته زه ځلمی نه وايم
چې هره پېغله ورته ښکاري بلا

لندن، ۵، نومبر، ۲۰۱۹

## دلته قاتل غازی شهيد جوړيږي

د زړه کردار په ائينه کښې چې ته ځان نه وينې
د بل ګفتار، د چا پنجار دي ولې بيا پليد شي؟
دا خو اسانه ده چې بل ته ګوته ونيسې ته
ګرانه خو دا ده، چې مجرم قاتل غازی شهيد شي

لندن، ۵، نومبر، ۲۰۱۸

## افغان پور

پښتنو وخت دی لر بر سره بيا يو کړی
ګني پاتي به نيمګړی افغان پور شي
ننې مغل ته زوړ تاريخ ورياد کړی
پښتو مينه ريښتونتيا به ورته اور شي

لندن، ٤، نومبر، ۲۰۲۰



## غوا ته زه مور وايم

يا خو يې نمک حرام، يا حرامي يې
چې د مور شوده مني له غوا انکار کړې
دواړه ميندې په شود يې مونږه پايو
دا نفرت دی په هندو چې ته ګوزار کړې

لندن، ٤، نومبر، ۲۰۲۰

## مينه توده وينه

مخ ګلورين دې نور وږمې خوروی
لکه په منی کښې سپرلی ښکاري
اوړی دې اور وروي بيا هم ښکلی
ژمی دي غيږه انغری ښکاري

لندن، ٤، نومبر، ۲۰۱۸

## دا خلک خلک توبه!

اووب يم اخيستی، يم ژوندی که مړ د خداې دنيا کښې؟
دي مخکښې، وروستو، هغه، دغه، ته، زه، خلک خلک
دلته انصاف او قانون نشته د، برزخ عالم دی
کوتک، ټوپک، مذ هب، چاړه، اور په خوله خلک خلک

لندن، ٤، نومبر، ۲۰۱۸

## په پښتون ذات قسم خورم

ته که وې خدای، که د چنګېز بد ذات، سجدو پورې مې هم خندا کړي؟
خاوره وجود مي ورکوی، سم شه که نه وي، ګنی ورک به دې کړم
په تا ګټبې هم وینه زما ده، ستا مئینو مې وړوکی ته سجدي کړي تل
که نه شوې سم قسم په خاوره غرو سیندو مې خورم ورک سپک به دې کړم
لندن، ٤، نومبر، ۲۰۱۸

## حیا پښتو پېغله!

پېغله د مینې، د حیا، فکر، پښتو اختراع!
د تاترې روح ګټو جوړه ده مثال یې نشته
چاته به وي، مونالیزه، ما ته درنه ملالۍ
په ښکلوو سجدو مدام، هم هېڅ وبال یې نشته
لندن، ٤، نومبر، ۲۰۱۸

## پښتو ګټه ازادي

پښتو وه ژبه د شاهانو د زرتشت پیغمبر
که ګټه وکړي اوس هم ژبه ده د ګټې روزي
ګټه په متبه، دماغ سکتبه، قربانیو کېږي
ویښ شه اوچت شه بیا به وي مزې مزې ازادي
لندن، ٤، نومبر، ۲۰۱۷



## خپل کو وی کني ځان ته

خپله زور ظلم او طاقت، ړانده کاڼه او ګونګ کړل
له مینی امن نه، نفرت، ځان په مرګ ژوبله ښایی
د استعمار، دا فرعونیت، موسی پښتون زېږوي
خپلواک یو والی به راوړي، که پرې خپل سر هم بایې
لندن، ۳، نومبر، ۲۰۱۸

## زما جنت سوات

د سوات چینې او جونه چې هر رنځ لره درمل وو
غونځاخي خواږه ککوړي، شیریني د پیر بابا وو
نن تور مخي شرمخان او بې ډب خونخوار غوایان
پنجابی تالب پرې سپور دي د پښتون ناموس حیا وو
لندن، ۳، نومبر، ۲۰۲۰

## جل مې نه ماتېږي

اوبه د ژوند چې څومره څکم دومره مي جل زیاتیږي
د سبا ګله حلق مې تاند کړه ډېر ستغ شوی دی نن
چینه د حسن یې یو څو قطري ترې ما له راکړه
ستا په لتهون لېونی شوي کړیدلی دي نن
لندن، ۳، نومبر، ۲۰۱۸

## وینه هیڅ کله اوبه نه شي کېدی

ویني ته وینه وایم نه شي په دروغو نوره
توت ته بکیانه وئیل سم په غوشایو لګیا یم
چې په ځنګلو کور مې اور بل ډېره وشوله دا
د باز زمري بچی بدل په اخپستو لګیا یم
لندن، ۳، نومبر، ۲۰۱۹

## انسان ته سر په سجود

محمد امي محمود، له بوت صاف مکه، سومنات کړل
وژني ورور یزید، تالب، ریال، شیخ ته په سجدو دي
زمزم صاف جنت شراب، زر دارو د خدای په نوم شي
یو الف، افغان ایمان یو، حدیث سر خور په مېرو دي
لندن، ۲، نومبر، ۲۰۲۰

## ښځو له پښتنو سړو خپل حق ورکړي

انصاف او توره دا نه ده چې زما د ښکلي جم جمرود زما تورزن نران بچي او همځولي د ښځو د سکول تعلیم د پاره مطالبي کوي او دا مطالبي جایزي هم کیدې شي او ښه کوي، خو په نني ۲۱ شمه پیړۍ کښې، د ښځي سره انصاف به هله وي چې ښځې په خپله خپل حق اوغواړي او دا که نن زه نه وینم ان شاالله سبا له به ښځې خپل حق په خپله غواړي او هم دا رنګه به په زرګونو د باب خیبر مخې ته غورزنګ کوي.



## سور مینه انقلاب

زما زړه سور، او که کړم سترګې سري د چا په سترګو
د مینې ویني اوښکې ښوري به زما په سترګو
سور رنګ غورزنګ دي لویه مینه انقلاب او ثواب
که پرون را نغلو نن پیه یې کړه سبا په سترګو
لندن، ۲، نومبر، ۲۰۱۹

## د زړه خوښه
## VOLITION

تا ویل چې زه درنه خوله اخلم ماویل زه یې اخلم
رضا په دا شوه چې مونږ دواړه سره خوله په خوله شو
د مینې څرک وو ورخبر چې شوو نو دواړه یو وو
زه پټ ستا زړه کښې، ته زما زر به په خپل کاله شو

Volition or Will is cognitive process by which an ndividual decides on and commits to a particular course of action. It is defined as purposive striving and is one of the primary human psychological functions. Others include affect (feeling or ،motivation (goals and expectations) ،emotion) and cognition (thinking). Volitional processes can be applied consciously or they can be automatized as habits over time.

لندن، ۲، نومبر، ۲۰۱۹

## د مینی لټون

له ځانه ورک شوم د جانان په موندو
بختور هغه چې جانان وه وینې
که ځان ته وه ګوري د زړه په سترګو
نو خامخا به په کښې جانا وه وینې
لندن، ۲، نومبر، ۲۰۱۹

## دغه جنت دوزخ دي

لره اشا تورات انجیل زبور کړه
خوند که له ژوند غواړي لټون کړه
چې چرته ښه او په عزت تېرېږي
هغه ستا حق دی ته یې شتون کړه
لندن، ۲، نومبر، ۲۰۱۷

## د چرغړک خیال ساته

مینی دې دومره قابو کړی یمه
لکه له چرګ څوک چنغک اوباسي
خیال کوه خولي له دې پړچم واچوه
څوک لېونی به درنه پرک اوباسي
لندن، ۲، نومبر، ۲۰۱۷



## ځانا وه پیژنه

که ځان دې هېر کړو نو په ځان به لا بې ځانه ګرځې
لکه چې خواره غوا په خاورو په بېدیا څرېږي
چې شپون یې تونډ وي دهغې رمې وي غوښه خوړه
هغه شپانه سره‌زرغونه په ویړیا څرېږي
لندن، ۲، نومبر، ۲۰۱۷

## وربشه او شوله

کړي لنده په مینه موره، چې پتیره خمبیره کړې
خو اسان نه شوخین کار دي، ککي زی که پښتنه کړې*
چپاتي او نان کښې پرخ دی، هم تلل، ګفتار، کردار کښې
اسان کار نه دي ظهیره! چې وربشې به شوله کړې

*د هند ککیزی د اصل نه پښتانه دي خو ککی زي کینه او جګړه مار خو دي خو ډېر خویونه یې پښتني نه دي لکه زما د میرمن.

لندن، ۱، نومبر، ۲۰۲۰

## د میورکه هوا ښکلي

چې هوا ښکلي، چار چاپېره درنه ښکلي ناست وي
نو جنتي یې د ترخو اوبو په ډوب اثر کښې
عرب په الله هو اکبر په زور د توري نیزي
آخر تېنګ نه شو سر یې کېښودو د مې مینې در کښې
لندن، ۱، نومبر، ۲۰۱۷

## دړدونه دي دړدونه

که دي سهي، شکمن د ذهن، سترګو، زړه دړدونه
ډېر تزنبدلي، ترهېدلي وخت لوټل غواړي
د چا د کونې استعمار، مذهب خپسي تریخ دړد
د جنت حورو په خاطر خپل بل وژل غواړي
لندن، ۱، نومبر، ۲۰۱۸

## په خپل سیل کښې امن

غوړ غوړ غوړ هم سم څوټک له سیله ورک شو
ډېرو شتوکښې خوارپړک، ورک او زیړن شو
له خپل سیل نه چې ځان ورک نه کړې زړګیه!
ګورې نه ظهیر! چې څومره لوغړن شو!
لندن، ۱، نومبر، ۲۰۱۹

## غیږ کښې ارام

ډېر له ژوند ستړی زوربدلی یم ورک شوی
لکه ماشوم غوندي په غیږه کښې ارام راکړه
لکه له مور د تي شوکولی حادثو وهلی
بې پلار بچی یم مینه لاس په احترام راکړه
لندن، ۱، نومبر، ۲۰۱۹



## ژوند تربیه لټون دي

کله کله نور هم ورک شم، ولې ځان نه جوړوم خدای؟
ملامته کړمه ځان، که د بل پرې ښه کېدی شي!
کله کله وېم رېښتیا دي ځېګ څرمنه نه بدلیږي
شمپوګانې او کریمونه، نه یې مینه بدلوي شی!
باید نور چې زه انسان شم پیښي پریږدمه د خدائ
د انسان د زده کړي لاري هر یو کس ته وښایمه!
ژوند ځارنه ده لټون دی، تربیه به تل ستایمه
لندن، ۳۱، اکتوبر، ۲۰۱۷

## نیکمرغه وخت ښکلوي

چې نه خوري نه یې واوري، نه منت او زور کوی شم
که نه شې تلی نو کړم په شا به دي ښه ورځ چې ستا شي
خو کله کله لکه څوک بټن د ذهن بند کړي
په سپینه ورځ توره تیاره شي او په شا رڼا شي
لندن، ۳۱، اکتوبر، ۲۰۱۷

## خدائېنه ته زما يې، خدائېنه ته زما يې!

مخکښې حور جنت غوټۍ يې، غلمان وروستو ژوند ګړنګ يې
زه په حوره باندي څه کړم که ايجړا غلمان دي وي دی
يو ادا مسکا سترګک دی، سم بخښل، جنت، ژوندون دی
ته زما د ژوند تالاب يې، تل غوټې درکې وهمه
خدايه! ته زما يې، خدايه! ته زما خدايه!

لندن، ۳۱، اکتوبر، ۲۰۱۹

## خاموش زړه

زړه له ورايه هم هغه خاموش ګړنګ دی
اور لاوا په‌کښې خوټکېږي سر په‌جنګ دی
ما او تا ته خو ښکارېږي ژوند له خوند ډک
خو له زيار حادثو ډک منډه غورځنګ دی

لندن، ۳۰، اکتوبر، ۲۰۲۰

## ازاد جنت

په خوب له‌تا نه شي، بيا ځانه ځيني پړانګ جوړ کړه
بيا د چترال جنت او مورګې د تيرا ازاد کړه
دا نتۍ ژوند د دوزخ دی‌ته يې جوړ کړه جنت
د غلامۍ نه ځان او ژبه پښتونخوا ازاد کړه

لندن، ۳۰، اکتوبر، ۲۰۱۷



## ستا ښائيست کښې زه خندېږم

زه ګلاب تاند او رنګين له چمن چا را بيل کړي
شم به مړاوی، احساس سوزي خو بي حس پرې نه رسېږي
تا که زړه کښې وکرلم، نور به سور تاند شين شم ښکلې
زه به نور شم ستا د غولي، ستا ښائيست په ما زياتېږي

لندن، ۳۰، اکتوبر، ۲۰۱۹

## پروټونه

د پردي چرګ حلواګانو او پروټونو
که سيدان، پير او تالب يا ملايان دي
شرمخان خرڅ قاتلان دي د زرګونو
ځان ترې خلاس کړه جنتي روه دي ازاد کړه
اريانا دله امن مينې شاد باد کړه

لندن، ۲۹، اکتوبر، ۲۰۲۰

## ژوند

ژوند عمل د شواروز دی، په کچ نه شي
په لاس، ګوته، وليشت، څپک، پيته هم نه شي
ناکامي تيندک ازمېښت، تودي سړې ژوند
چې کړي تېري غورزې پرزي نو ژوند ښه شي

لندن، ۲۹، اکتوبر، ۲۰۲۰

## شا تیر مه ماتوه

رقیبه! ته زمونږ په منځ کښې چې ښلتون غواړې
شوله ظاهره، له دښمن سره تړون غواړې
لکه تورخم د لر او بر د تلو راتلو شاتیر دې
چې ملا شي ماته بیا یې څه رنګ پیوستون غواړې
لندن، ۲۹، اکتوبر، ۲۰۱۹

## د هر چا خپل کردار

ته کلانکاره یې ورانه په خندا مې وژنې
په دې خندا سترګو وهلو کښې تل ښکار پټ دې
ساده پښتون زه د جم کلي ته ایندکې ښکار یې
زمونږه دواړو په ادا کښې بیل کردار پټ دې
لندن، ۲۸، اکتوبر، ۲۰۲۰

## د شونډو زهر تریاق

کائینات نه ده! ځان له ټوله مینه مینه به وي
خو د ګل سره ازغي، د زهرو بوټي هم وي ګورې
چا ته تریاق چاته زقوم شي د وخت وخت پورې ده
د شونډو زهر ماته تریاق او ګوټي هم وي ګورې
لندن، ۲۹، اکتوبر، ۲۰۱۹



## تربګني نه دوستي غواړم

مړو سترګو ته دې اوږې کارغان ناست دي
شوروز یې په سر سترګو زه څوکۍ کړم
زه مالي د زړه په نم ساتم د زړه ګل!
د دوستۍ ملګرۍ زه، نه تربګنۍ کړم
لندن، ۲۸، اکتوبر، ۲۰۱۸

## توپیر د ښه او د بد

خواره چې زهر شي، چودون شي، پیوستون یې ګران شي
غم د خوږو یې مه کړه، خیال یې د خوږو نه ښه وي
چې زړه، نیت، تور وي، د رڼا په ځای تیاره راولي
په داسې حال کښې، نه راتلل یې د راتلو نه ښه وي
لندن، ۲۸، اکتوبر، ۲۰۱۸

## د مور زړه په زوي د زوي په وچه تیږه!

میاشتې نهه ګېډه کښې تود ساتلې
که وه پردې بیا هم ادې مې شوله
که یو ساعت به شوم له سترګو لرې
ویل به یې تا پسې ژبې شوله
لندن، ۲۸، اکتوبر، ۲۰۱۹

## نن مي ارمان سره نقيب راياد شو

د نقیب مرګ نسل کشي د پښتون
خوب دی حرام تر څو بدل وګټي
زما دا یو هغه د سلو یو وه
پښتو هغه ده چې پرې سل وګټي

لندن، ۲۹، اکتوبر، ۲۰۱۹

## یار سره ژوند مې سیلفي پاتي شو!

ژوند مي ټول تیر په سیلفي شو، پردی خپلې لاس را نه کړو
هر څه ځان له کومه جام یوازي مې ملګری
اریانا د امن میني مېخانه د ژوند اباد کړم
هم جهان له هم افغان له جام یوازي مې ملګری

لندن، ۲۷، اکتوبر، ۲۰۲۰

## خدای ادم هم پوهه نه شو؟

زه څه، ادم خدای هم په تا پوهه نه شو
سم د نارنج له ذات خوږه تراخه شي
په یو ساعت کښې پسرلي خواره کړي
بل کښې سور اور، لکه پوه ماه څله شي

لندن، ۲۷، اکتوبر، ۲۰۲۰



## ټوقه د ملا او جینی

ملا: وه جیني خدای روي زما غیږ له لږه راشه کنه!
جیني: یا ځواني مرګه! ته څپلی راباندي مه اوباسه
ملا: یه زوره وري، متکورې، سرې غولانځې جیني!
زه په جومات کښې نه یم څو به په ما ښه اوباسه

لندن، ۲۷، اکتوبر، ۲۰۱۸

## پرون ډیوه نن ایتمي رڼکه

هغه ډیوه، او انغری، څراغ کیسې د پرون
نن ایل اي ډي، سولر، اېټم، په خپل هنر راټینګ کړه
که ځان ارین، زرتشت، او زوي د ابراهیم ګڼې ته
د لوی افغان په نوم امو او ګوادر راټینګ کړه

لندن، ۲۷، اکتوبر، ۲۰۱۸

## مینه لافاني ده

خود غرضي هم ځان غرضي ده مینه پټه نه ده
چې له سترګو دې فنا شوم زه دي هېر شوم
زه په ځای له خپلو ښکلو ګیله من یم
توښه دا چې ورک، له سر او ماله تېر شوم

لندن، ۲۷، اکتوبر، ۲۰۱۹

## د يو لوئ افغان غټ زيرى

که وه NAP که ANP ده، د خدايي خدمتګار لار ده
دا د مينى پښتو علم د بابا د حق اواز دى
تشدد دهشتګردي ته لويه تېښته ده د امن
د ګاندهی او منډېله نه هم اوچت د دې مجاز دى
لندن، ۲۷، اکتوبر، ۲۰۱۷

## تالب د غوايي ښکر

اقا ته لاس په سينه، ورور، ښځه سپې هم نه ګڼې
د سپي بچى خپله په زړه تور، وينه توره لري
د تالب جان ملا نه تمه د دوه جوړ مه کوه
د غوايي ښکر نيولى غر ته، کيسه نوره لري
لندن، ٢٦، اکتوبر، ٢٠٢٠

## ټيټ سترګې ملا

رهبر مې خوله وښکه له خپلې ژبې واوړېدلو
وطن يې خرڅ کړو، د کور کلي نه جامه يې وښکه
ملا حلوا په سپينه ورځ وه پټه کړي لور له
غله يې معلومه شوه ټيټ سترګې پټه پښه يې وښکه
لندن، ٢٦، اکتوبر، ٢٠١٩



## مور

مور لکه موره ده، خواږه، تريو او هم تراخه يې خوند کړي
له ځانګړى کور، ګور، هم پياځه او سابه يې خوند کړي
زما خداينه ده، پيدا له خپلي خېټې يې کړم
د غېږې تاو، مسکا ځوپل د تي، هر څه يې خوند کړي
لندن، ٢٦، اکتوبر، ٢٠١٩

## پلار په خوب کښې

غبرګ مګ له لاس مې خوئېدو پلار مې مسکا را وکړه
غېږ ته راجوخت د توئېدو نه بچ منونکى يې کړم
که روح مې نه منلو تل ژوندى د ښکلو وي تل
ابدي ښکلي اتلان خپل، زه ساتونکى يې کړم
لندن، ٢٥، اکتوبر، ٢٠٢٠

## مينه که لېږ دېږ

پرون، نن، سبا، سهي ده، مينه زړه دى، تور سپين نه
مينه خپله ده شته منه، د خداى مخ، زړه، او مازغه دي
چې رنګ، مخ، عمر ته ګوري، بيا د بيي دي خبرې
مينه نه سودا، هوس، د چلول، لېږ تله راتله دي
لندن، ٢٤، اکتوبر، ٢٠١٨

## په دي خبرو چې نور تير نه اوزي

تالب يې مخکښې وروستو دواړه وهي
زما ستا هر كار ته ګناه وايي
د منافق بچی دی مه يې واوره!
په هر مذهب دا ناروا وايي
لندن، ۲۵، اکتوبر، ۲۰۱۸

## خيالونه ګلورين

ګوته څوپل، ژبي غاښونو سره لوبې کول
که يې ملهم د شونډو ما له تبه غوځه کړله
زه په دې يري چرې خپله ژبه غوځه نه کړم؟
بس دخندا شوم چې مې خپله ژبه غوځه کړله
لندن، ۲۵، اکتوبر، ۲۰۱۸

## ته څه مې کښېږې؟

که مې يې لور، خور، لمسۍ، هم وي محبوبه پښتنه
خوښه په دي مي يې بې ډاره چې الفت راکوې
د ښځې، نر، خبره، نه په پېرزوئينې مينه
ته لکه مور مي لمبوې ما له قوت راکوې
لندن، ۲۵، اکتوبر، ۲۰۱۹



## د مازغو اېم آر آيي مريخ ته سفر

څملاستم د محراب مينځ کښې، پښې مې شا ته د کابې کړې
تيارې د لوي سفر وو، هم پښې مې ارادې کړې
نه مې ستوري شو ليدلې، خو که ور راته خدای پيه کړې
نو منزل ته به رسېږم، دا د ژوند به تسله کړې
واخېستي مې سيالې ډوبي، سترګي هم مې رېولې
کالي ټول مي کړل سمبال، ارزوګانې تلې راتللې
فکر يوړم له فنا نه هيولا ته يې نيزدې کړم
زه ققنس خپله ايرو نه پسرلي غوټې غوټې کړم
چې مې دا جوړې سفر د زمکي مور نه دې مريخ ته
راته سم اوسه زيرک، مخکې وروستو، خواړه تريخ ته
دلته ګوره چې ژوندون شته، که د مرګ په لور روان يې
سياره کښې د ژوند پروت يې، لا خو وينې يې ور روان يې
په زړه پښو خو يې چابک، زړه ملګرې د مازغو دې
چې يو جوړ وي بل دې جوړ هم، ولې زړه په مسئلو دی؟
هيلي کوپټر ګاډې ستارټې شو، عجيبه ډوب ډوب غږونه
له غوګين مالوچ پيډ تير، دا شنګاري اوازونه
توغندي له الوتکو، د ډرونونو بارانونه
د نازې هټلر بمونه، د يهود ژړا، څويرونه
د تورو او تالبانو، په وزير، خيبر بمونه
ککرې مې څوښېدله په هر لوري وو تاوونه
پيشو چرګې سپې غوايان، په هوا وو ټول کورونه

د ورو زرو فغان، وینه وینه او دودونه
کړو د فکر تسلسل یې ټول ریتي ریتي دی، شور
په جک جوړ سړي یې واچولو غرونه لکه زور
درز دروز جوړ شو خواوشاه کښې
جوړ جنګ ونښتو دنیا کښې
ځي راځي بي سر سرونه، مي له سره تر پښو پورې
بیا هم سترګي غړومه ګورم پاس تیاري لا نوري
له دي شور ویني جنګ مرګ نه، مرګ دی ښه د عزرائیل
په پوډر، بمب دې نه وژني، په شپېلۍ خوند اسرافیل
درته وواېې تیار شه رالېږلی یمه خدای،
په ارام درنه ساه واخلي، ته تابع یې شې په ځای،
علم سائنس ته دا په کار دي چې د شور نه ځان کړي لري
هر څه هر څه کړي په مینه، کړي اوبه، د اور بخري
کائېنات او انسانیات، سره بیا غاړه غټۍ کړي
هر سحر ماښام کړي ښکلی، هره ورځ سم پسرلی کړي
زه په دې فکر کښې بوخت، د مریخ نه ور په اخوا
د خدای کور ته ورنزدي وم، هلته جام به ډک څښمه
نوي ژوند د مینی امن، د یووالي به راوړمه
خدای به وي راته مسکی، خوشحالی به زه کومه
په یو لوري به وي حوري، بل طرف به وي غلمان
هر څه هر څه به روا وي، په کور امن د رحمان
چې په دي کښې اواز راغلو، د مازغو سکین دي په ښه شوو
زما فکر او خوبونه شوو ګډوډ خواره واره شوو
زه په ځان شومه راجګ شوم، سترګې ما وې سولولې
اخوا دیخوا مې را وه کت، دوه انجونه خندېدلې



کړم یې ښکل ازمېښت دې تېر شو زما لوړه حوصله شوه
زمکي مور ته شوم راکوز، لوې سفر زما پوره شوو
نه ساقي وه نه جام حوره، شیخ چلی فکر وهلی!
هوایي کړل سیلونه، هر یو کونج ته رسېدلی
شونډې غوړې مې په ژبه، کړې مسکی په فکر نور شوم
د فنا ځینې راکوز شوم، د بقا په اوږو سپور شوم
خو مې غاړه ډکه نه شوه، او بس تږې شومه پاتې!
خو مې غاړه ډکه نه شوه او بس تږې شومه پاتې!
جوړې بیا زه راژوندي شوم!
جوړې بیا زه راژوندي شوم!
لندن، ۲۵، اکتوبر، ۲۰۱۹

**مازغه دې ویلي نه شي؟**

شپه او ورځ ناروا ژوند، بې پتې پرې لا د پاسه
که نیوکه یې وه نه کړې، نو مازغه دې ویلي کېږي
اراده، باور، عمل، ټینګ، شه باوره په ګل وطن دې
دخپل کور درنه شه تیره، که پوه نه شوې نو غورځېږي
لندن، ۲٤، اکتوبر، ۲۰۱۹

## زما مینه

سترګې که توري کړي نو زه به تور شم
شونډې که سرې کړې نو خونخواره به شي
مینه زما! داسې ساده ښه لګي
که زرزري شي نو بي لاره به شي
لندن، ۲٤، اکتوبر، ۲۰۱۹

## تش یادونه دې راپرېږده!

تــه زمــا نــه شــوې ســتا یادونــه د فرقــت اورونــه
هغــه دې هــم پــه مــا پېــرزو نــه دي نــور څــه واخلمــه
خداې قرآن چې دا خو راته پرېږده چې تودوښ راکوي
کــه دا هــم واخلــي رانــه ګوښــې بــه ســاړه واخلمــه
لندن، ۲۳، اکتوبر، ۲۰۲۰

## ښکلې په زړه او مخ یم

ترې لرې نه یې، فاصله د نوک اورې ده په کښې
لکه چې سېورې، درېسې، خدای ته نسکیر به شي زر
چې څنګه ننه یې په فکر، ذهن، زړه، خمیر کښې
هغه رېښتیا ظهیر فقیر شه، عالمګیر به شي زر
لندن، ۲۳، اکتوبر، ۲۰۱۸



## د مینې امن برې

د کائینات خونه چې تل سپرلې، ګلان او شنه وي
چې خوب خندا، اوبه خواړه وي د هر چا برې دې
ظهیره! ښه یې چې نیازېږې، په کور کلي، ښادې
د مینې، امن، د رېښتیا برې، هم ستا برې دې
لندن، ۲۳، اکتوبر، ۲۰۱۹

## عجب سترګک

ستا لیدل لکه پیشو مخکې مورک دې
که رقیب زما نیولې چرغرک دې؟
د خوبانو په ادا ژبه پوه نه شوم
چې یې سترګه پرسېدلې که سترګک دې
لندن، ۲۲، اکتوبر، ۲۰۲۰

## ښتنه خوړه د مینې

جوار میده مي په میچن کړل، ستا راتګ ته سترګې
په ډېره مینه مي ورخاړې پنډېرک راوړې
سره به دواړه یې د پیاځې او تروو سره خورو
خوړه د مینې، ورسره مې پیاز ادرک راوړې
لندن، ۲۱، اکتوبر، ۲۰۱۸

## که زړه لرې نو ترې تپوس وکړه

مینه، حیا، غزل غزل، په غزل څه پوهېږي؟
هنداره بل وینې خو خپله ښکلا نه شي کتی
د چا خبره خدای له خپله زوره نه دي خبر
وینې ژړی، د شاعر سوز او ژړا نه شي کتی
لندن، ۲۰، اکتوبر، ۲۰۲۰

## پښتون پاتې شه

که هغه زوړ اتش پرست زرتشت ایندی پاتې شي
دا درله بس دي اې پښتونه که خوئېندي پاتې شي
ته یې عجم د عرب لار خپلول ځان ورکول!
نه به مسلم نه مجاهد تل به بندي پاتې شي
لندن، ۱۹، اکتوبر، ۲۰۲۰

## وروست پښتون

دي اریاو، یهود ګلان د افغان زمکې
اریانه ورځه یې مور زرتشت یې پلار وه
چې ولاړ وه په پښتو خپله تاریخ وه
که وه وروست د سردارانو لوي سردار وه
لندن، ۱۸، اکتوبر، ۲۰۲۰



## اوده پښتانه!

ګډې شپانه اوده دي که پښتانه اوده دي؟
وخت زورولي ډېر دي چې ورک خواره اوده دي؟
چې اوده شوي سم دي که اسرافیل وهلي؟
جنت ته ورسېدل چې له پېړو اوده دي؟
لندن، ۱۷، اکتوبر، ۲۰۲۰

## یوه ریښتونې لاره

لاره که نسي یوه ریښتوني نسه
په لیرو ډېرو به اوبلن پاتې شي
سترګي که پټې کړي دحق له لارې
نو به هرچا ته دروغجن پاتې شي
لندن، ۱۷، اکتوبر، ۲۰۲۰

## هیله حق

ښه به دا وي چې حق اوغواړي نه سوال
ځکه کار شي تل په فعل نه په قال
د هیلو سره سره عمل په کار دی
خداې هم نه درسي د زړه په ژبه سوال
لندن، ١٦، اکتوبر، ۲۰۲۰

## سترګې په سترګو کښې

شغلي د سترګو دي زغملې نه شم
زما په سترګو کښې تا څه لیدلي؟
غشي لینده څه بجلې کرنټ راکوي
هم ته په کښې تا نادیده لیدلي
لندن، ۱٦، اکتوبر، ۲۰۲۰

## تالبه! خر هم شونډې سري خوښوي

لکه چې شونډې دې دي، داسې مې دي شونډې خوښې
که دا بهتان او که رېښتیا وي ټینګ ولاړ یم ورته
لکه د مار زمري مهې پرې وينه هم تویوم
د ډوب ماکو وي تل کښې خوند بل وي ګوره لاړ یم ورته
لندن، ١٦، اکتوبر، ۲۰۲۰

## د ژوند ژوند کیسې

لوښې ډک پیمانې ډکې، د ساقي سترګې سرې ډکې
په زړه سترګو خوله څښل، درنې ډکې فیصلې دي
منداڼو د ژوند شاربل وي شین خالې پرې ښه پوهېږي
زما تنده پرې ماتېږي د ژوند ژوند خوږې کیسې دي
لندن، ١٤، اکتوبر، ۲۰۲۰



## د یویشتمي پېړۍ پښتني ارزښت

پښتنه مور خور د ژوندون نوې یم
د خپل کلتور حیا د زړه حیا یم
د شتلکاک کالي دي ستا نسیب شي
زه د سرې د آزادي امسا یم
ستا د کم ظرف دا پیرزوئینې واړه
دغه جامې دي برادر ته ورکړه
زما پرده زیور لر بر افغان دې
دا دي باجوه تالب بزدر ته ورکړه
زه پښتنه د یویشتمې پېړۍ
له سړي زیاته یم ترې کمه نه یم
پښتون زلمې نوې خپلواکه دواړه
مونږ د نرۍ سره زړه پاکه دواړه
د خپل زرتشت ابرم اسلام په لاره
د زړه پرده سفا هر ګام په لاره
زمونږه دواړو یو څادر کافی دې
له پنجاب لرې لر او بر کافی دې
ته سالاري دي په کېږدو کښې کوه
څمڅو د جهل په تیارو کښې کوه
مونږ سبا دواړه یو روان سپوږمۍ ته
د هنر عقل جاوادان سپوږمۍ ته
تم راسره شه له کېږدو را اوځه
د ترهګر جبر تیارو را اوځه

لــه مــا شــيبا او ملالــۍ جــوړه کــړه
د ســړي څنــګ کښــېډال ډالــۍ جـوړه کـړه
زه پښـــتنه د يويشـــتمي پېـــړۍ
پــه هــيڅ مقــام لــه پښــتون کمــه نــه يــم

لندن، ١٦، اکتوبر، ۲۰۲۰

## ځان او پېژنه

په خرو کښــې هم عقل وي، تـه کله انسـان بـه جوړ شې؟
ائ له خپل ځان ځائېګي نه ورکه کله ځان به مومې؟
دنيا خبرې د سپوږمۍ او ستورو ښکلې ژوندکړي
کـه نـن را اوتـې لـه څمڅـې نـو جهـان بـه مـومې

لندن، ١٤، اکتوبر، ۲۰۱۷

## افريدي وايي زلمی يم

هسې خوشې دي خيالونه بې مطلبه بې مضمونه
وولې يو غـر کلـه بـل غـرپه هوا کښې بې نښـونه
بيا زلمۍ به کله نه شې هغـه نخښـه ويشـتۍ نـه شې
دا منې بـه چې بـوډا يې دا منم خوښې دې جونه!

لندن، ١٣، اکتوبر، ۲۰۲۰



## څه جګ جګی* او ګوډاګی جوړ شوی

ته يې ښه ويني ويښ خو بيا پـه سترګو ړوند يې ګونګ يې
سم چګ پري ولګوه خوار شي جګ جګۍ خو نه يې
تــه ازمــرۍ کــور دي ځنګــل، بــاز تــاتره اســمان کښــې
وړو زړو د پنجــابو شــوي، ګــوډاګۍ خــو نــه يــې

*جګ جګۍ Hedgehog وايي چې جګ جګي ته واوروي چې دا جګ جګۍ نه دي دجګ جګي سپورۍ دۍ نو هغه که ويښ وي هم نو ځان اوده کړي، نو نن د پښتون دا حال جوړ شوي دي .

لندن، ١٣، اکتوبر، ۲۰۲۰

## د يوي سترګې کانه

پــه يــوه ســترګه مســکا، بلــه دې پيڅکــې کښــې پټــه
چــې زه دې ولــې دې کــړکېچ کښــې اچــولۍ يمــه؟
سترګه را او وهه چې دواړه لوبه ښه ګرمه کړو
ځــان کــه تــه وه لټــوې زه در رســېدلۍ يمــه

لندن، ١١، اکتوبر، ۲۰۲۰

## زړه او ريښتونتيا

په چا زړه راشي له چا تور څوک دي زړه جوړ څوک خووږ کړي!
وړوکۍ زړه دي ټول جهـان يې پـه يـو سـاه کښـې غونډ دي!
بـد مـه کـړه وايــه ريښــتيا امــن ژونـد څـادر څـوکي کـړه
دا خـدای کرښــي ســمندر پــه دي وينـا کښــې غونـډ دي

لندن، ١٨، اکتوبر، ۲۰۲۰

## وینه وینه ویي

زو یـيچـي افغـان وي کـه وي ورک بیـا هـم
وي د پښــتنی خــوتي پښــتون بچــۍ
یـو ځـل چـې راویښ شـي بیـا قـابو یـيګـران
دا کـه وي د خـان، او کـه د شـپون بچـۍ

لندن، ۱۸، اکتوبر، ۲۰۲۰

## خوند نه خرپ

که وي ښۍ، ګڅ، مخکښې او وروستو، په یو ځای کړه تله
خونـد تـرې اخلـه پـه انصـاف لـه هـرې لـوري ځینـي
غـوېړه، ترخـه دي، وي چـې سـتغه، ډېـره وچـه نـه وي
ویلـي یـې ښـه دي پاریتـه ښـه وي لـه سـپوري ځینـي

لندن، ۷، اکتوبر، ۲۰۱۷

## زما خوګه محبوبه

چاتـه غصـه، چـا تـه مسـکا سـترګو کښـې
زمـا محبوبــه جــادوګره ښــکاري
څوک پـرې مړېږي نه دي شهد او شکر
چـا تـه کـوډګره، سـره بکـره ښـکاري

لندن، ۷، اکتوبر، ۲۰۱۷



## د شهید د سر بدل

اي پښـتونه! هغـه ننـګ نـاموس دې څـه شـو
پـه چوپتیـا نـه شـي حجـره کـور دېسـاتل دي
جنتونـه بـه نسـیب د هـر شـهید شـي
خـو چـې هېـر نـه کـړې بـدل یـې اخسـتل دي

لندن، ۷، اکتوبر، ۲۰۲۰

## زما ارام خپلواکي

مـوري! مـه وایـه تـه ماتـه چـې شـوې سـتړې
زه یم ساه سلګۍ بي کـور او مـور او پـلار تـه
چې خپـل کـور خپلواکي واخلم بیـا بـه خـوب کـړم
اوس مـې پرېـږده چـې لاړ وه ښـیم اسـتعمار تـه

لندن، ٦، اکتوبر، ۲۰۲۰

## ژوند ناڅا په اندیښنه ده!

زه د ژونـد پـه اندیښــنو کښــې لــوغړن یــم
پـه چمـن کښــې ګـل مرغــۍ تـه انتظـار کـړم
نـه پـوهېږم چـې بـه کلـه پـه وخـت پـوه شـم؟
ځـان بـه لاړ شـي، زه بـه بیـا هـم اعتبـار کـړم؟

لندن، ٦، اکتوبر، ۲۰۱۷

## ملکي غويې

زوړ په پرديو قربانو کښې شولو
اوس په وخت سمې قربانۍ يرېږي
له اوښ غويې شو، چرته خووړ يې نه کړي؟
نن خدای شته سم د خر بچي يرېږي

لندن، ۵، اکتوبر، ۲۰۲۰

## د باچاخان د امن زده کړې ځراغ

سور مى سلام، مدرسې سرې د مينې، امن نغمې
سور مى ښېرغ، قانون، قرآن د زړه په سر رسوم
د پوهې، ساينس، هنر، د زده کړې د رڼا قافله
زه د بابا کوچې په وخت نن لر او بر رسوم

لندن، ۵، اکتوبر، ۲۰۱۷

## پښتون جوړ پړک والې دي

وو ښه مست ملا چرګک د ژوند په بڼ کښې
خو شرمخ تور کړو کور کښې له چرغرک
د افغان په حال زړه شين سترګې مې سرې شوې
توره عقل يې لاړ پوندو له په شرک

لندن، ٤، اکتوبر، ۲۰۲۰



## شه يو موټې ګنډ بوټې له جړوښکه!

له عمري مرګه دا ښه چې يو ځل مړ شي
ژوند، زه، ته، هغه، راغونډ سکون په لاس کړه
له بلا رغېدن نه شي ظهير جانه!
په څوکۍ خواستونو نه شي ځان تري خلاس کړه

لندن، ۳، اکتوبر، ۲۰۲۰

## زه د پښتو پيداوښت

زه د خپل کلي اوړي ژمي د پښتو پېداوښت
ساړه ګرمي او لوږه تنده ما په ځان تېر کړي
ته د يتيم د کونډې مور له اوښکو څه خبر يې؟
ظلم طعنې له وچ تالو مې په افغان تېر کړي

لندن، ۳، اکتوبر، ۲۰۲۰

## ښه پيري خو نه پيږي

په خپلو سترګو وينې عقله! خو زړه نه لري ته
زما کتاب کښې ړوند او کوڼ يې وينې نه پوهېږې!
که دې زړه غواړي يا نه غواړي وختي زور به منې
ځان کړه ساده که ښه پوهېږې، وايه نه پوهېږې

لندن، ۲، اکتوبر، ۲۰۲۰

## مينه کښې غلا روا ده

په نيمه شپه دې د رمې‌نه زه شوده پټوم
شپونکيه! څه وشوو له‌ما که ته وارګه پټ کړې؟
له غلو نه غلا کول هنر دی، ورته غلا مه‌وايه
خو ناروا له ويښې موره چې هر څه پټ کړې!

لندن، ۱، اکتوبر، ۲۰۲۰

## له دنيا نه وتی نه شي

له دنيا لرې دنيا خپله خوره کړه
وتی نه شي له دنيا، دنيا خوره کړه
زما ښه بد ته مه ګوره ما ازاد کړه
چلول پرېږده سم رحمان شه دنيا ښه کړه

لندن، ۳۰، ستمبر، ۲۰۲۰

## د ماشوم ژړا په ځای ده

د ميو ګوټ د مينی، يوي خولي له مي ژوند ورکړي
زاهده! ته يې څه خبر د ژوندانه له خونده
زما ژړا او لېوتتوب په ځای نهار ورېږی يم
ماشوم پوهېږي په تودوښ د تي وارګه له خونده

لندن، ۲۹، ستمبر، ۲۰۲۰



## وهم وبا

تانده هوا فاصله ښه وي که وي روغه که جنګ
خو چې وبا راشي خبري د وبا بيلې وي
د خپل بالښت د ساډوبي د نوک اوری نه يره
د حقيقت وهم خبرې په رېښتيا بيلې وي

لندن، ۲۸، ستمبر، ۲۰۲۰

## د مينی ډالی

که ډېر نه وي چې يو ځل زړه ته راښکل شي
زړه مې غواړي همېش ګل مې د ګوګل شي
منافق چې د زاهد غونډې ته نه شې
چې دانه مې هم کړي ماته بيا د بل شي

لندن، ۲۷، ستمبر، ۲۰۲۰

## په ژوند يې غواړم

زه هم ګلاب ډک يم له‌ژوند د رس ورېمو نشو نه تمه لرم
کاشکي بلبله! په څوپو ځبيښو مې کښېمنډي سکون راکړي
له زړه اخلاصه ساقی غواړم چې مې ښه په ميو ولمبوي
هم لاندې باندې مې مالش کړي په مرګ نه په ژوند ژوندون راکړي

لندن، ۲٦، ستمبر، ۲۰۲۰

## د نجیب ژوند ولمانځئ

ویښ شه نن وه پیژنه خپل پردي ملګرۍ دښمن
پرون هم نن د کور دښمن افغان رهبر په ځان کړو
آپیشنګویه جلالي نجیب چې هېر دې نه شي
هغه د سولي خداوند چې تور یذید زندان کړو
لندن، ۲۵، ستمبر، ۲۰۲۰

زه افغان پښتون پاشتین یم
د خیبر درې شاهین یم
د منظور پاشتین په لار یم
هم په زړه او په مخ سپین یم
لندن، ۲۵، ستمبر، ۲۰۲۰

## د انسان او حیوان ژبه

ګوګوشتو یې په ګوګوشتو، خره د خر سره هڅا کښې
سړی هم مري تازه کړي، کړي خبرې په ټوخ ټوخي
د نی په قالب سیخ شه که په شرق او یا په غرب یې
لکه مړه بې خطره تګ راتګ کړه په هر یو سوخي
لندن، ۲٤، ستمبر، ۲۰۲۰



## د ایندکي لور

د ایندکي لوري دا تاثیر دي د لاهور د اوبو
سړی په چلول او په مکر ګول راګول کښې ګیر کړي؟
که د مهي غوندي شي خوي بیا به هم پام کوي ښه
له ځان خبر به نه، نسوارو په تش تول کښې ګیر کړي
لندن، ۲۳، ستمبر، ۲۰۲۰

## تمه بلا ده

که تور یې هم زما نظر کښې سپین یې
تر څو چې تور نه وي ځرمنه کښې ته
ځان چې وسپاري بل ته تمه نه کړي
چري به پاتي نه شي ژمنه کښې ته
لندن، ۲۲، ستمبر، ۲۰۲۰

## بیا خیبر د تاریخ زړه کړه

د خیبر پړانګه ځلمیه! دریا پلاره! بیرې! خور مور
یو اواز شۍ اول تور بیا، پسي نور په ځان اخته کړه
لوي سیلاب ډیورنډ لاهو کړه د اجل په سمندر
یوه پښتو افغانستان لوي، بیا بکره د آسیه کړه
لندن، ۲۱، ستمبر، ۲۰۲۰

## خوب حقيقت دي

د عمل فکر نه ورلري که مني يا نه مني، خو لاشعور هم خپله ژبه ژوند او ژواک لري که يې په وينبه نه وي، خوب د ژوند روئيداد به په ويده کښې درکړي که د زرتشت ابرم موسى مخبر په ژبه، څه په وينبه خوب کښې کېږي ليکل کېږي واړه دا دي د ژوند سره تړلي، که يې وينې يا نه وينې، نتيجه به د زړه وره کښې درکړي

لندن، ۲۱، ستمبر، ۲۰۲۰

## لا اوس هم زه په تکل يم

د حالاتو گردشونو، ظلم زور له پردو خپلو
په زړه زړه يمه وهلی، ځای ته نه يم رسېدلی
له سر خپو ماپ اخستی شم، د بياتی کار د درزي دی
په خرځون جوړخت لا نه يم، لابجاز نه يم جوړ شوی

لندن، ۲۰، ستمبر، ۲۰۲۰

## لويه جرګه او وړوکی نوي کال په وانه وزيرستان

لوي افغان لښکر روان دی په اتڼ دمسې او ښکري غړوينه ادانې تر وانې پورې لر او بر واړه زاړه راغونډوينه غمازانو او دوستانو راشی نن چې امن مينه کړو خوره په ټول جهان افغان کول به کړی يو موټی نوي کال بني اسرائيل او زرتشتی به ښه لمانځينه

لندن، ۱۹، ستمبر، ۲۰۲۰



## اور يادونه د هجران

چې غول وتښتېدل پيښه را پيښېږي
ځنګون پوندي نيمي نم شوي سمي شنې شوي
ستا يادونو زه له ښې بدې نه وخکم
چار چاپير راځيني توري انديښني دي

لندن، ۱۹، ستمبر، ۲۰۲۰

## جوړي بيا هندو پښتون شوم

واړه زاړه هندو مسلم پورې دا نه ده، ضرورت پورې ده
پی که د مور وي يا مور غواه وي پري ژوندون جوړ دی
د تي په پيو ليونی ظهير کچه تيکه او سره خوښوي
اتش پرست يهود هندو ترې لوی پښتون جوړ دی

لندن، ۱۸، ستمبر، ۲۰۲۰

## وخت په زړه او سترګو ړوند دی

که خوره وه که ترخه وه ما، کړه تېره له خپل ستوني
تېر يادونه خو خوړل کړي، که خواږه وي که تراخه وي
اوبه تېرې چې له ورخ شي، يا مرغی ورک له منځالي
پرون وي بدل د نن نه، وخت راګرځي نه په تله وي

لندن، ۱۷، ستمبر، ۲۰۲۰

## نفرت ته غېږ د محبت ورکړه!

هر کس پرېشان خزان دی، وشنه مالیاره! بیا ګلونه چې سپرلی راشي
د نفرت تورو فوځونو ته، ته لاره، د خیبر وه نیسه
زه به سپره دې په اورو کړم، ته د مینې بیرغ هسک وه نیسه
سیلۍ درنه ده، حوصله دې ماته نه شي، ټینګ د زړه سره مې سر وه نیسه
لندن، ۱۷، ستمبر، ۲۰۲۰

## نجیب ژوندی دي

نجیب ژوندی دي مړ کیدلی نه شي
په هره سترګه او هر زړه کښې اوسي
هیڅوک هم نه شي مړ کولی نجیب
د لوی افغان هره سیاله کښې اوسي
لندن، ۱٦، ستمبر، ۲۰۲۰

## ویړکی ویړکي!

تل به ویړکی وي سړی به کله نه شي
چې د سپیني ویړکي لېچو په ارمان وي
ظهیر جانه! داسې ویړکی مې زوړ خوښ یې!
په خوب وینمه شپه ورځ سترګو مې عیان یې
لندن، ۱٦، ستمبر، ۲۰۲۰



## د ازادۍ چیغه

د ژوندو تنو نه جوړ شول کالبوتونه
مړو رګونو ته د تبې ضرورت دی
د یو والي د بدلون چیغې کړي پورته
د ازاد ژوندون د ژبې ضررورت دی
لندن، ۱۵، ستمبر، ۲۰۲۰

## خواږه ترانه د مینې

چې اغلې مینه نه، سودا اخلې
تمه څه به وکړې ته له داسې ښکلي
مینه نه عمر رتبې ناموس ته ګوري
ډېر زما غونډي په دغه لاره تللي
لندن، ۱۳، اګسټ، ۲۰۲۰

## د حل په ځل

وړوکوالي، بوډاوالي، دا د عمر پوري نه ده
کشمکش ژوند، حادثو کښې کله کله غول تختېږي
حل معلوم به په لټون شي، ورک به خپل کاله ته ستون شي
ځلمي جونه به اتڼ کړي، ماشومان به مشغولېږي
لندن، ۱۳، اګسټ، ۲۰۲۰

## شېطان شېطان لګیا په کاڼو اوولي!

زه چې د خپلو ګناهونو ګنډه وه سپړمه
شي به څرګند شېطان په ځان د زړه ارمان اوباسي
د یویشتې پېړۍ انسان دا عملیات د حېوان!
په تماشه ګوته په خوله خدای‌تري نه ځان اوباسي
لندن، ۱۱، اګست، ۲۰۲۰

## افغان رهبر پیغمبر

خبري سمي له قرانه کوي
له جبرائیل خولي که له ځانه کوي
منظور پشتین ځوي لوي رهبر
ازادۍ سپینتیا پربمانه کوي
لندن، ۱۱، اګست، ۲۰۲۰

## کعبه بت که تش تصویر؟

ځان به ښکاره کړي که حقیقت یې، ګنی که نه یې ماته پرخ نشته
سجدې که بت کعبه ستا عکس ته، زه خو کومه چې مسلمان یم
خپه چې نه شي زړه مي سوزېږي ، سترګې ړندې ستا دیدن غواړي
مسافر سترې ستا په لټون کښې، غارمو وهلې زه د هجران یم
لندن، ۱۱، اګست، ۲۰۲۰



## د ژوند ګوټ

سیلاب د اوښکو زورور بند د پښتو وشلوو
زړه مې دې ډک لکه اسمان پرېږده چې اوورېږي
ځوي يې د ښمن کړو ورته ورک له خپلې خونې يې کړو
پاتې پیاله ده بس د زهرو چې پرې وه ترهېږي
لندن، ۱۰، اګست، ۲۰۲۰

## خړوسه بیا له ځان زمرۍ جوړ کړه!

چې شوو بې غوره د خپل کور څوکۍ ساتلۍ نه شو
ځکه په خپلو شتمنو کښې ځان له خړوس پاتې شوو
نه هغه ننګ ناموس شو پاتې نه پښتو پاتې شوه
پښبون ماکو له ټکه اوت تش کارتوس پاتې شوه
لندن، ۷، اګست، ۲۰۲۰

## هر څه پاتې دي

چې یې وه وخت د بوئیدو راځینې ګوابن یې کړلو
راپوري ونښتو ګلاب اوس چې ازغن پاتې شو
د نایي غسل، د ملا هم جنازه پاتې شوه
د جام کړنګ څه وه د ظهیر نه خپل کفن پاتې شو
لندن، ۵، ستمبر، ۲۰۲۰

## لغنډه ريښتينتيا

اي ګرانې! چرته داسې ډېره جوړه تېزه ځان له بيله يې روانه؟
فکر والي چې چکر له که يې ښکار پسې روانه پريشانه؟
سترګي سري شونډې سري وچې ښه لټون پسې روانه
پېرزوئينې! ځولۍ ډکه واپسۍ کښې کور له راوړه زما ګرانه!
ساده ناڅاپه عملی فطری دوه سترې مسافر لاړه کښې نه پېژني
يو بل که نه پېژني، ښکاري په کلونو سره ښه پېژني
لګيا ګلونو سره! چې دي ګلونو په مسکنۍ غوندي راوکتلو
کرنټ د رڼکي غوندې، مې يې سم زړه له ورکړو
آنا معلوم بځرکۍ، څېيکه، دې ورک مسکا ته!
ولې به نوم ورکوو، پټ پټ په زړه کښې ښه دي؟
شوه مسکنۍ، ويل يې روانه يمه» زه پرېمروز هل «ته خوړه!
او ناڅاپي غاړه توده يې راکړه، ټينګ له يوبل سره شوو
غاړه غټې څه جنتي غاړه وه!
څه ابدي غاړه وه!
دغه د ژوند غاړه وه
دغه د ژوند غاړه وه
لکه خوړې لور له د پلار خوږ غېږه
په ډېره مينه له زړه کومي ورکړې
زړه به مې يخ وي که هم داسې کوي
هم په راتللو هم په تلوني ورکړې
لکه ادم حوا سينه په سينه، او خوله په خوله چې سره وه ننښلي
او يا دوه سترې شوګيرو وهلي، د يو بل پاسه پټې سترګې څملي
د يوبل هوش او جوش د مينی سمندر چپې يې يوسي لرې



او واپسي يې نه وي او واپسي يې نه وي
راکړه لاس خوا خوږې د مينې ماله
راکړه لاس خوا خوږې د مينې ما له
څه پوښتنه کړکېچنه؟
څه پوښتنه کړکېچنه؟
سوړ اسويلې، د زړه لوخړه زما تږې وتې!
يوه خوږه څېيکه چې له زړو له زړه بې ژبې وتې!
د شونډو لاندې په لاړ
هم ښه توده مهينه
د ژبې څکه د زېړن تالو ته
ډوب تا دوزخ ورکړو
سينې دمې ته پوخ ورکړو
تېر شوو مونږ دواړه له واړه زاړه، ناموس، وياړ او مذهبه ځيني
د لوې ښتن، زرتشت، موسی، فرعون، عيسی، او محمده ځيني
د ربايي، پوپ او امام، عرب، عجم او اورنګ
او د فېرنګ، ضيا له ډېر ظلمونو او مرګونو ځينې
د محکومۍ، غلامۍ، د استعمار، فوځ، او راکټ، اېټم بمونو ځنې
ډېرو ډرونونو ترهګر څوکيداری د مرګ او ژوبلې او نيوونو ځينې
مونږ درله دا به نن ټوټې ټوټې کړو درې ورې
مونږ درله دا به نن ټوټې ټوټې کړو درې ورې

Crossing the the boundaries of bullish age ‹young and old‹ Namoos -honour, dignity, Pride and faith ; From The God, Zarathustra, Moses, Pharaoh, Jesus and Muhammad; The Dastbar ‹Rabi ‹Pope and Imam; Arab ‹Ajam ‹Aurang ‹ Firang ‹and Zia’s State’s violence, Occupation, Slavish Imperialism of democratic dictatorship of Army, Rockets ‹ Atom Bomb ‹Drones of Terrorist Security, killings ‹ genocide and destruction;

## خوښ پښتون ومه زه

هیخ پښېمانه نه یم.، نه څه دي تلي څه راغلي نه دي
که نن شوه تیره نو سبا خو څه چا وړې نه ده، ژوند په امید خوږې شي
مېوه د صبر خو خوږه وي ډېره پخښه درنه هم د زړو میو نشه وي ډیره

no one ،If today's gone ،Every thing is fine ،No Repent can take tomorrow from me Life is the name of Hope and trust

ripened like old wine with ،The fruit of patience is sweet deep effect.

لاسخوین، لاسخوین، لاسوین مې وکړه چې مې زړه ته سکون راشي ارام راشي

Touching, Touching ,Touch me to give my heart solace and Peace

زه څکم ګبین به د مونږه خوږ
د هالی ونې مې د کور خواګښې
تا به ساتمه زړه ګښې
خپه چې نه شي زما خپلې خواګښې

Shall be sucking from Beehive
Under the Holly Tree precious sweet honey for life;
Will be hiding you in my heart so that no one else see you but only me owning you

ابدی درمل د ژوند، دي شي جنت ادم حوا ته
ما ته دا دنیا جنت دی،ته او مې هر څه دي ماته
د دوو زړونو دوو روحونو پیداوښت مونږ د لمر روڼ نه
لکه کټ ځای د ارام دی،جوړ په ګوتو دی،د بوڼ نه
وم ولاړ په ژی د ګوریې
را وستم یې کور، مور غېږ ته



بیا ماشوم یې را پیدا کړم

محسوسام ځان بې ګناه یې لکه امام
دعاګانې مې قبلېږي په لمنه مې لمونځ کېږي

Feeling am an innocent Rabi and God listen to my prayers and one can on the edge of clean shirt

له مور خېټې نه راوت، رو رو غېږ ته
خوله په تې تاوده شوده پرې څوپه ومه

As a baby from the womb moving to bosom sucking nipple s for warm milk of sweet Mom;

اخ! اخ! اخ! ژوندون نامه د ښکلي اخ ده
تېر وخت تېر لکه اوبه تېرې واپس کله راګرځي
نن کړه هېر جوړ تور اړتیا دې د سبا راتلو ته وکړه

life a wish with no return, ،wish ،wish ،Wish

تصور، خوب امن مینه زړه سیني پوري ژوندي او ټینګ نیسه
الوتو ته یې پرې نه بړدي
ورانیدو ته یې پرې نه بړدي

make it real from ،Keep the dream of peace and love alive the imagination and never let it go vanish!

تل ساته د ازادی لمر روڼ، روښانه
په تکل د بر ختو روان دوانه
کائینات نه ور په اخوا د سپوږمۍ او ستورو منځ کښې
د واړه، زاړه، پرخ نشته، د یووالي دی سفر کښې
ګورې څوک دې تېر نه باسي دا تکل کړه جاودانه

Solar energy of freedom in continuation, equality in trans intergeneration;

Travel the climate and beyond between the Moon and Stars.

د ژوندون په دې بهیر کښې چې نظر په کښې ورکېږي
چرته هڅه چې زه ته کړم، امن، مینی کور جوړېږي
د کوچي زرتشت کاروان، دا سفر به ابدي وي
د کشتۍ سنګاوڼ زه یم، زما ستا به ناسته کېږي
دا سفر به جهان یو کړي، دا سفر به تل جاري وي

An inherited wish to be sailing with no return but together in the ocean of life,
Will make a home of peace and love
I am the Captain of the boat of Zarathustra expedition,
!This travel will unite the World

نن د مینی ریښتینتیا ژوند دا لغنډه مې کیسه ده
را نه‌غلم څادر مهین کښې، هم خوږه ده هم ترخه ده

!A whole love story is wrapped in Naked Truth of today

نن کوه چې څه کوې ته، نامعلوم نوم د سبا دي
دا ریښتیا دي چا وئیلي‌نه زما دي‌او نه ستا دي

Do what you can today ،Unknown is name of tomorrow, which is no ones and everyone's !

دا کیسه د خوږې مینې او د امن او هیلو ده
دوو مینو لامبوزنو د ځېړنو د شیبو ده

A story of sweet love ،peace and full wish ;
From love search of two swimmers fish;

نه ترې دا په اسمان کله څوکم اخیستۍ شي
د ازاد ژوند ارزومند، ازادي کله پرېښوي شي



It's ours ،it's ours ،No power of Earth or Heaven can take it from us !

سکالۍ مینې نه ډک به خوروي فکر خیالونه وروي لکه ګلونه
د یو بل خاوري کړي قدر، نه خرڅېږي ځلمي جونه

From happiest imagination will be flowering returns;
،Of critical thinking and thoughts

Respect of and honour of trust of males and females.

اي ګرانې! چرته داسې ډېره جوړه تېزه ځان له بیله‌یې روانه؟
فکر والي چې چکر له که‌یې ښکار پسې روانه پریشانه؟

Hey dear You there !"Where you're Up to on your own "?,
"Looking sharp ،smart ،fast ،thinking deep like digging deep to explore "?

سترګې سرې شونډې سرې وچې ښه لټون پسې روانه
پېرزوئینې ځولۍ ډکه واپسې کښې کور له راوړه زما ګرانه!

From searching Eyes to Lips, vivid there sweet concern
Wish you darling bring a bag full of many happy returns !on your return

## کرونا لوي قیامت دی

تول جهان یې په مخ واخست سمه غر یې لیونیان کړل
کرونا وباه قیامت دی هم دا عالم برزخ دی
د ورو خدایانو کړه دي، اژدهو وینه څخه دي
د ورو زړو بې کسو کور وران، جوړ پري دوزخ دی

لندن، ٤، ستمبر، ۲۰۲۰

## گور ته د جام سره ځي

قلم کتاب يې ښي ته، جام يې زړه ته ټينګ نيولی
حوری غلمان ورته نن مست په لوي دربار ګډېږي
ظهير لګيا کني د خپلو او پردو قبرونه
ولاړ د ګور په ژي په خپله خوا وار ګډېږي!

لندن، ۳، ستمبر، ۲۰۲۰

## سر يې مه وينځه دا خاوره ده هم داسې

ښځې مخکښې وروستو، او سړي وروستو کښې تېز دي
ډېر دي هنر مند داسي کارونو کي نوخېز دي
سر سجدي لغنه سپينه مانې کښې په سجدو وي سر
څه اصحاب الفيل وخت کعبې ته شر انګېز دي

لندن، ۲، ستمبر، ۲۰۲۰

## دا څوک دي؟

سحر غوټی شي غرمه ګل مشک کړي خواره ماذيګر
په ماښامي کښې جام نشه مي ماسخوتن او شپه کړي
تاوده رنګونه يې ښکلا د کائينات اينه کښې
زما زړګي له به ټکور شي هم به ورځ مې ښه کړي

لندن، ۲، ستمبر، ۲۰۲۰



## په شمېر ګلونه پاتې

په شمېر ګلونه يو څو پاتې مې د کور په بڼ کښې
د تور مخي بلا وبا د کرونا نه زياته
په خپلو وينو زوو ساه صورت ځارنه يې کړم
د پښتونخوا مينه له ځانه او جهانه زياته

لندن، ۱، ستمبر، ۲۰۲۰

## تاريخ را نوي کړه خپل

چپ چې نه شي که شوي چپ وخت به دې چپ کړي
کړه غړمبا زمری لګيا چې وخت بدل کړي
که دي وه نه کړلو داسې ځان به مړ کړي
د ازل تاريخ بدل به په اجل کړي

لندن، ۱، ستمبر، ۲۰۲۰

## لر بر زر يو افغان

هرکلی سرتيټ، زوړ په خوا کښې، نوي بوټي ته شي
لکه چې سترې غېږه يو بل ته په مينه ورکړي
ځان ځيګر سره ګډې زاړه لر، بر يوه وينه خاوره
لار، لور، او کور به، په ښو تر اباسينه ورکړي

لندن، ۱، ستمبر، ۲۰۲۰

## مور

مور دي ساتلې لوي وړوکي شي کښې ښيې يې ښکل کړه
څومره يې زور وي په قبضې کښې چې ګوله اوباسي؟
مور که خپه کړي دوزخي به وي په دواړه جهان
لکه په مات غاښ له بادامه چې چزغه اوباسي

لندن، ۳۱، اگست، ۲۰۲۰

## نر غوټ بابا

له شرمه سره شومه نرغوټ بابا را وه رسېږي
توده سره شومه نر غوټ بابا را وه رسېږي
ګنډي ګوړکي مې اچولي له اميده مې کړي
بيګا درنه شومه نر غوټ بابا راوه رسېږي

لندن، ۳۰، اگست، ۲۰۲۰

## لختې او نر ښځې

د ښه او بد نه، انسانيت د لختې جوړ فطرت نه
که سړی ښځه شي زغم پرخ په مخکښې وروستو کښې کړه
ښځه که غواړي بدلون حق يې د سړي هره دي
خوند له ژوندون په مينه امن په غور غوشتو کښې کړه

لندن، ۳۰، اگست، ۲۰۲۰



## چې پښتو څومره زړېږي پيغله کېږي

غمونه ډېر تراخه ګني ډېر که غرونه مې په سر شي
بيا هم به حوصله زغم مي سر لوړی بهرور شي
لطمې مې کړي که ټيټې دا پښتو زما حيا وه
دا تمه چې وه نه کړې چرته ټيټ به افغان سر شي

لندن، ۳۰، اگست، ۱۹٦۰

## تربيه

په مور او خور نه، هری سپی ته بس ډری وهي
د دي کوخې کوڅې بې ډبه بس د پلار په لار دی
خرکار يې پلار په خوند ناموس د ژوندون نه پوهېږي
دي وړې د کنجکو د سود کار په لار دی

لندن، ۳۰، اگست، ۲۰۲۰

## خدای ملګری د خونخور دی

نزدې ورک يې ستا دنيا نه ماشومان پېغلی زلمی هم
دا واړه واړه خدايان ستا، خدايه! سم لړمانان دي
زه شکمن يمه ته څنګه، ځان قهارګڼې تا پريښي؟
د نفرت، کينې نه ډک، منافق دا خونخواران دي؟

لندن، ۳۰، اگست، ۲۰۱۷

## کیدي شي؟

غړي سيني وي چې قيامت يې په ما راوستلو
که مي وړوکی وو بي صبره چړت يې او وهلو
د شين خالی سر خو به وي چې تيندکونه وهي
جام د شوملو که د بهنګ سم په غړت يې او وهلو

لندن، ۲۹، اګست، ۲۰۲۰

## امید

له ازله يو رڼا يم، خو تيري بلا بلا دي
له څلور اړخه ګېر کړی يم تيرو چې به مې تم کړي
له هر اړخه په زرګونو رڼاګاني هم خورېږي
علامې داسې ښکارېږي چې تورتم به ګډ په غم کړي

لندن، ۲۸، اګست، ۲۰۲۰

## اوس وخت دي ځان پوه کړه

ما درته هغه وخت هم ويلو کنه؟
په شرمخانو چې باور وه نه کړې
د خدای رسول اسلام په نوم دې وژني
د دي دشمن نه به هيڅ سر وه نه کړې!

لندن، ۲۸، اګست، ۲۰۲۰



## خود غرضي

د بل به مري انغری پوکی بي غرض نه ورکی
خپله د ځان د پاره لاس کښې به شړشم زرغون کړي
داسې انصاف اوولـه په تندر د خدايانو خدايه!
لکه پسه په لوي اختر کښې چې حلال پښتون کړي

لندن، ۲۷، اګست، ۲۰۲۰

## کورونا د وخت وهلی

عجيبه غونډي موسم دی عجيبه غونډې باران دی
که مکان دی که مکين دی په خپل ځان دی په لړزان دی
کورونا د وخت خوره ده په بې کس، تور، غنم رنګ، زيړ
د لاچار خير دلته نشته، وږی تږی بې مکان دی

لندن، ۲۶، اګست، ۲۰۲۰

## د لستوڼي مار مړ کړه

د ښې او ګڅ په منځ کښې غل ونيسه
لستوڼي غوڅ کړه لوي ښامار مردار کړه
نور په سجدو وظيفو نه خلاصېږې
را واخله توره استعمار مردار کړه

لندن، ۲۵، اګست، ۲۰۲۰

# غزل

خوند خو معلومه ده تاوده او د ساړه پوري ده
کله هر څو ژبه دې اوږده، د لړمانه پوري ده
دغه د عمر پوري نه ده دا د زړه پوري ده
د زړه غوښتنه ژړېدنه ستا د زړه پوري ده
نه د ناموس پښتو، خبره تش د دوو د جوړې
راشه چې ورشو بس د بر کلي د تله پوري ده
مینه خپلوي او راشه درشه په دوه لاسه کېږي
د ژوند خوندونه او مزې د تله راتله پوري ده
که تشه خوله راکړې ټول زړه به په ډالۍ کښې درکړم
دا د زړه سترګو، زمونږ دواړو د کاته پوري ده
مینه څه ګپ نه دی په سترګو تور زړه اور خوروي
څه د کتې بوڼې خو نه دي سترګو او بانه پوري ده
زما شتني او ستا شته نښت، بقا مکان نه لري
د لامکان او د فنا، لمر پرېواته پوري ده
که نن خوله راکړې په یوه خوله، کور دي نه ورانېږي
په مینه ژمنه یې ظهیر ساتې، ستا خوله پوري ده

لندن، ٢٥، اگست، ٢٠٢٠



## تالبه بس کړه نوره ډېره وشوه!

منبر دې تور کړو د نفرت په خطبو
چنیه! خوشې مسئلې دې پرېږده
خطبه کړه لنډه په پیغام د امن
نوري فضولې پرېړې پرېږده

لندن، ٢٤، اگست، ٢٠٢٠

## ړانده دواړه یکې فرق شته!

لکه مرۍ شپه او ورځ په سجده پروت دی
خلک حیران دي ړوند بې عقل پښتانه ته
پنجابۍ بد ذات ښه مست په غلامۍ دی
ړوند که شی هم لري فکر ژوندانه ته!

لندن، ٢٤، اگست، ٢٠١٧

## سترګه ورشه

ږده لاس ښېې په فکر، وروستو مخکښې ګوره
کله کله نږدو لارو کښې خطر وي
ته د خداې بنده! خداې سورې، سترګه ورشه!
که هر څو منې چې مرګ خو مقرر وي

لندن، ٢٤، اگست، ٢٠١٧

## پښتو لاړه اشتهار هم په اردو شو

یوه خونه ده کومه کومه به زه وکړم
ګیلې ډېري خدایه دا زمونږ انجام دی
باچا خان بابا یې هم په اردو خرڅ کړو
دا پښتون له د یو لوي شرم مقام دی
لندن، ۲٤، اگست، ۲۰۱۷

## رقیبه!

رقیبه! لري شه له مخې نه مې!
زه په غزل باندې غزل لیکمه
چې له وجوده دې وائیرس را نه شي
په ډېره مینه له زړه تل لیکمه
لندن، ۲۳، اگست، ۲۰۲۰

## هلته دلته ځان ازاد کړه

ته زمری، باز، توتي یې ازادي دې دین ایمان دی
پنجرې ماتې کړه خپل ژوند کړه په ځنګلو غرو باغچو کښې
هلته ټول اولس بندي دي په وحشت منافقت کښې
دلته ته کور کښې بندي یې د فریب په میخانو کښې
لندن، ۲۱، اگست، ۲۰۲۰



## د مینې دعا

جنګ وبا که ټول عالم یو ځای کوی شي
تباهي ته خدایان ولې تیار دي؟
د حرص غرور سواره په اس د ظلم
په متروکو د وحشت لګیا په قار دي
مئینان دوه د بقا فنا نه لرې
مست په مینه کښې زما او ستا نه لرې
فرعونیان زما خدای هم مئینان کړي
خدایه! دا د مینې ژوند شوکیداران کړي
لندن، ۲۳، اگست، ۲۰۲۰

## اسلامیین* زاړه ملګري

خومره خواګه ښکلي سپیځلي دي زما ملګري
خدای د هر چا دې کړي نصیب صحبت د ښو ملګرو
په ننګ ناموس پښتو ولاړ په پښتونواله باندې
هم دین دنیا هم شرافت الفت د ښو ملګرو

*اسلامین د اسلامیه کالج پېښور پوهنتون ملګري

لندن، ۲۱، اگست، ۲۰۱۷

## د مور زړه په ځوی

ستا سوګند مې له هغې ورځې مات کړی
چې په کومه ورځې ته زما نه لاړې
شپه او ورځ مورې! زه ستا پسې ژړېږم
پیرزوئینه ستا وه خانده، نه به ژاړې

لندن، ۲۱، اګست، ۲۰۱۷

## خپله خاوره خپلواکۍ

یو ځپ خاوره، خاوره نه ده دغه ژوند د ټول اولس دی
زه د زمکې، زما زمکه، ځان به ولې خرڅومه؟
که ځان خرڅ کړم انسان نه شوم، ما روباټ کښې توپیر نشته
زه پښتو پښتونخوا مور تل دا خپلواکه به ساتمه

لندن، ۲۰، اګست، ۲۰۱۷

## خپلواکۍ دې مبارک شه

د نړۍ د قوتو د مخ رڼا شي
استقلال دې لوی اسمان افغانستانه!
د افغان فخر افغان دغه دعا ده
شي د امن پاسبان افغانستانه!

لندن، ۱۹، اګست، ۲۰۲۰



## غزل

اور په اوړي ژمي زه بلېږم سره لمبه یمه
شونډې رانزدې نه کړې وبا زه مچۍ سره یمه
راشه چې محفل شراب کباب د اتڼ بڼ وکړو
غېږ کښې دې تودة تازه غوټۍ غزل غنچه یمه
تا باورا کړې وړی، ما ګل پاڼې بادامي زاغان
ته که دړدیدلی یې زه هم دانه وانه یمه
تاو به نړۍ مله کړم درنه ګېر مې شه غولېنځو ګښې
زه سپینه پسته د تیرایي زمکې پومبه یمه
نن د رند زاهد د محتسب مینې وه ځینې وخت
ورځ د استقلال ګیرو بریتونو ته پرته یمه
څه وه ستا شپېلۍ په نیمه شپه یې قیامت را وستو
کټ راته سور اور په انتظار درته په وره یمه
ما ته ګوته مه نیسه تا خپله په ځان کړې دي
ته خرڅ په کونجکو زه هم هغه پښتنه یمه
بس دې ظهیر جانه! نور د پېغلو له جنج او ووځه!
نور دربانډې پوهه دې لوي واړه، زه خو یوه یمه

لندن، ۲۰، اګست، ۲۰۲۰

## هره ورځ د خپلواکۍ نوروز

را اوچت شه دا ازغن تار ټول تار تار کړه
په پښتونه! د تور مخ د غاړې هار کړه
بيا ايمل، دريا، خوشحال، اورنګ ته اور شه
هره ورځ د استقلال نوروز بهار کړه
لندن، ۱۹، اگست، ۲۰۲۰

## زه ماشوم ته گناهگار

ګناهګار ته يې زه نه يم، د پنجاب يې ځان ځل مات
زما شک ستا په خدای دي، جوړي يې انګريز روباټ
د وئنو غوندي لګيا يې، خوري دننه مې لېوه يې
زه ولاړ په دار د امن، ته په وينه ځکو پسات
لندن، ۱۸، اگست، ۲۰۲۰

## مرغۍ که وه راته نيول يې گران دي

وړاندي به کله راغلې د زړه سترګو له مې
نن سبا نه ښکاري شريفه ملائکه شولې؟
رېښتيا يې وئيلي دي چې ښکلي د مرغۍ غوندي ده
که درنه والوته زړګيه! نو بيا چا نيولې؟
لندن، ۱۸، اگست، ۲۰۱۷



## څنگه به هير کړي؟

هر څه خو خير څنګه زما د مينې تور دې هېر کړو؟
جوړي پردي کلي کښې خير پسي خپل کور دې هېر کړو
ما خو د سوي زړه رانجه ستا د ککو رڼا کړه
تا دا د ژوند سره ترلۍ جوړې پور دې هېر کړو
لندن، ۱۸، اگست، ۲۰۱۷

## گيله مينه

اوس مې هم ياد دي بنګړي تيتۍ او تريل لوبو کښې
که چا به ونيولم هسې ګيله من ولې شوم!
له يري غېږه مې درنه کړه ما وېل ټوک به راکړي
اوس پښېمانه يم، پوهېږې چې دردمن ولې شوم!
لندن، ۱۸، اگست، ۲۰۱۷

## شيبې شيبې باران

په شېبو شېبو باران يمه ګېر کړي
لږ د غېږې په څادر کښې خو مې پټ کړه
دا رحمت زياتي زحمت راته جوړېږي
انصاف وه کړه برابر راته مخ څټ کړه
لندن، ۱۸، اگست، ۲۰۱۷

## ژوند عکس نوم مرګ؟

ښــکلی عکــس ښــکلي نامــه دې، امیدونــه وســیله ده
حقیقت دی ښکلی خیال دی او رینښتوني قضیه ده
د ژوندون تالار ولاړ دي د انسان په فکر تیر
ستا نه هیره یې کړې شوه د ژوند مرګ دا حادثه ده!
لندن، ١٦، اګست، ۲۰۲۰

## د مینی لامبوزن

جدایي او اسویلي مي، هم دیدن جام میخانه کښې
فقیری، عرش ته ختل، ستا د مینی په کعبه کښې
نه ابرم ګوتم ورډوب وو نه زرتشت موسی خدای تنګ کړو
دا خو زه وم ژوند مې وه موند، د یو غوړپ درنه غوپه کښې
لندن، ١٦، اګست، ۲۰۲۰

## ماشوم مذهب

ماشوم اودس نه کوي، خوله په شراب اندرویي
لمونځ په خاپوړو کوي، دغه مذهب مې خوښ دی
هر څوک په دی نه رسي، دا فلسفه ښکلې ده
دا عبادت مې لګي، دغه ادب مې خوښ دی
لندن، ١٦، اګست، ۲۰۱۷



## د عقل زور وخت دی

سر خو دې څه کړې، پښتو هم دې ورته کیښوه پښو کښې
د کمینه پنجابی لور هیڅ شرافت نه مني
نور په پښتو او پټ نه کېږي عقل زور وه ښایه
دلته لېوان ښکاریان مني هېڅ بې طاقت نه مني
لندن، ١٤، اګست، ۲۰۱۷

## په سترګه مه غولېږه

د سپوږمۍ ګل سترکه والو ته، چې ورک وي انتظار کښې
وخت به تېر خوله به وا نه خلي، د بیلتون پړي به غړي
له سحر نه تر ماښامه، په خوله خوله کښې یوه خوله شه
دین دنیا د مینی وړانګې، ستا په پښو کښې به رغړي
لندن، ١٥، اګست، ۲۰۲۰

## خپلواک افغان

مېوې، معدن، ښائسته بدن، مغز، مغزن لرو ډیر
کاشکې په خوند یې پوهېدې هڅي مونږ چک ترې اخلو
نن له زرګونو کالو ورک افغان خپل ځان زبادوي
د خپلې وینې بدل، زمکې هر څپک ترې اخلو
لندن، ١٥، اګست، ۲۰۱۷

## لار لټون

لنډې مينې، لنډې لارې کړکېچنې!
وورډ ژوند، پېدل، وورډې لارې هم ښې دي
که په خپله، خپلو لارو کښې خطر وي
بده نه ده بيا پردۍ لارې هم ښې دي

لندن، ۱۵، اګست، ۲۰۱۷

## د غورځنګ ګټه

نور زغم ګوانښ که کړم ټول کول ته خطره ده
اراده پخه عمل کړم، يا به پړ شم يا به وړشم
امسايي اوبې پټي نه، د مړدوني، دې ژوندون نه
يا به ګټه په غورځنګ کړم يا به سم په اور ککړ شم

لندن، ١٤، اګست، ۲۰۲۰

## جوارګر او مړه خيټه

وږی بې کوره ووده ذهنه د سکون په لټون
په نوم جامه په خپلواکۍ غلامۍ څه پوهېږي؟
جوارګر بې الله پښتو پښتونولۍ پښتونخوا
د مړې خېټې په خبرو باندې نه پوهېږي

لندن، ۱۳، اګست، ۲۰۲۰



## وينه تانده کړه په وينه

ورکوم، تاندوم، وينه، زړه کښې مينه ټوکومه
ورکړه راکړه مې ژوندون دی، د بنياد خښته يې ږدمه
خوند په ونډه کښې در تېرشم لاس په وليو مې خوله راکړې
د ظهير ژمنه د مينې، محل، سر ته رسومه

لندن، ۱۲، اګست، ۲۰۲۰

## د غيرت چغه

چغه زما به ازادۍ سپرلي، وطن کښې سپين سبا راولي
په غليم اور تندر، ايټمي، توره بلا بده وباه راولي
بيا د زرتشت ابدال ميرويس هوا راغلې ازادۍ راولي
بيا په نړۍ کښې انقلاب، شباب، رباب لوې اريانا راولي

لندن، ۱۱، اګست، ۲۰۲۰

## فيصله

زور مي د زړه ويلۍ شو، خولې به د چا چا پټوو؟
راشه چې پرېږدو دنياګۍ، دواړه جنګۍ وکړو
په ګڅ ښي دواړو لګيدلي د رقيب پېرې دي
مخ کښې کمر او وروستو غر، کينو کيسي وکړو

لندن، ۱۰، اګست، ۲۰۲۰

## بلنه

که په پسته خبټه غنډ سکه سر په مينه کېږدي
نو پرخړين رينبمين بالنبت مساج ټکور به هېر کړي
زه به په مينه، مينه، مينه څپوم تا ټوله
ته سترګو سترګو کنبې له ځان بې ځان ژوند پلور به هېر کړي
لندن، ۹، اگست، ۲۰۲۰

## وار مات خطا چې نه کړي

په غم د مړ پړ نه يم خوله خو ستا ترياق ده ما له
د کرونا بدن مې شل وارې په دا مات کړی
زه تنده ګوري په بې واره او بو نه ماتوم
د مينی وار خو د شريکې مړه! تا مات کړی؟
لندن، ۸، اگست، ۲۰۲۰

## راشه چې يو شو

تورمخ رقيب راته په سپينه ورځ دامونه خور کړل
د ژبې تبر په ګوزار مې دې زړه، ملا ماته کړه
د نظر غشي د پېغور ګوزار دي ايتم بم دی
تيره ما نه ده ماته کړې دا خو تا ماته کړه
لندن، ۷، اگست، ۲۰۲۰



## په درګو مئين

تش کوکی په اشارو کنبې، سوبه نه شي په څپکه
زړه مې غواړي پنبې دې څپ کړم راته جوړه شه ته درکه*
په اولتېه سجدو خولې شوم، نه مې ته، نه خدای راتېنګ
کړو! مرښت نشته، مې، خوندونه، تبرګی زما ، ستا زمکه
لندن، ٦، اگست، ۲۰۲۰

## له يرې يره نه کړم

سبا به کېږي راشه نن خو نن دی
راشه چې نن پرېسم ايمان تاند کړو
يره به څه وي له مرګ خدايه! يره؟
وينه مې توې کړه، چې خزان تاند کړو
لندن، ٥، اگست، ۲۰۲۰

## بيا به تل مو يو حجره وي

مينه مينه سپينه ده
لراو بر يو ځان يوه وينه ده
که پرون چا وو بيل کړي مونږ
نن حجره مو يو او پينه ده
لندن، ۱۲، مارچ، ۲۰۲۰

## له یرې یره نه کړم

سبا به کېږي راشه نن خو نن دې
راشه چې نن پرېسم ایمان تاند کړو
یره به څه وي له مرګ خدایه! یره؟
وینه مې توې کړه، چې خزان تاند کړو
لندن، ۵، اګست، ۲۰۲۰

## دا خدای دا ملایان دا شیان دا تالبان!

کتارونه په هرلوردا رمې د شرمخانو
دي تیار وینو ته تږي د بې‌وسه بندګانو
خداې خبر څه جادوګري، چې دي بیا هم زه منمه؟
سر زما په حلاله یې، میندي بوري افغانانو!
لندن، ۵، اګست، ۲۰۲۰

## دروغ دروغ دي ټول انصاف خدایه!

سهی ریښتونې سرې ښځه هره خپله ګنم
خدایه! په دې مې هم ته هسې مختورن ګرځوې
خپله پاچا شې، قهرمان، ځان یزدان جوړ کړې؟
خپل پښتون سورې دوزخي او لوغړن ګرځوې؟
لندن، ۵، اګست، ۲۰۲۰



## نه یې په سوله نه اور بند باندې یم

ته د وحشي د کور غویې د خر بچې یې ګورې
خوشې خبري ستا په ژبه اعتبار نشته
دوه ژبې وژنې مې نه، وژني مې اسلام په نامه!
د شرمخ پلاره ستا نه لوی چرته خونخوار نشته
لندن، ٤، اګست، ۲۰۲۰

## د سلیمان لائیق* او نسیم پرویز په مرګ

لائیق، نسیم تلین دومره شواخین دې
چې مې وتښتیدل بول ځان ځان کښې لاړم
ازادي او سور بیرغ به ګور له ورمه
دوزخي پښتون جنت کښې به دام غوارم

*سلیمان لائق او نورمحمد تراکي زه چې ښونځي کښې وم دهغې زمانې ملګری مو وه . هغه وخت به یې په پښتو ټولنه کابل کښې کار کولو او ما ورسره د سور انقلاب خبرې کړې وې چې هغوي وروستو سر ته ورسولو مګر د پنجاب فتنو نیمګړې پاتي کړو .
نسیم پرویز د پېو کلی د مشر ملګری خدای بخښلی دوست محمد خان کامل مومند وکیل د کورنۍ غړے او زما خوږ ملګرۍ وه.

لندن، ٤، اګست، ۲۰۲۰

## دغه دغه ستا خدای ده؟

د کور او کلي د غمونو بوج د پاسي چې پښتون راشي!
نو ځکه څکمه جام په جام که لږ سکون راشي
ای د وړو وړو خدایانو ریښتیا لویه خدایه!
زړه خو مې غواړي چې تا خپل کړم چې ژوندون راشي!
لندن، ۲، اگست، ۲۰۲۰

## شړشم خپلواک وطن کښې

نن بله لار نشته خپل سر ورکوو
په خاوره مور زړه او نظر ورکوو
چې خپل پټي کښې شړشم وټوکوو
مونږ لر او بر له ځان ځیګر ورکوو
لندن، ۱، اگست، ۲۰۲۰

## درانه خواږه وختونه

غوبل، اشر، ساګ او سکړک د غرمې یخې شوملې
ښېچې مي ستا کوت کښې، ته له پوندې مې ازغي اوباسې
هر څه مې واخله خو وختونه هغه بیا راوله
چې راته خاندې، منداڼو کړي، کوچ، غوړي اوباسې
لندن، ۱، اگست، ۲۰۲۰



## AKHTAR EID BAHRAM MUBARAK GREETINGS

## اختر بختور مبارک

I SINCERELY WISH MY ALL LOVED FAMILY FRIENDS AND FOLLOWERS A PLEASANT FULL OF LOVE PEACE AND UNITY A SPLENDID AKHTAR EID BAHRAM GREETINGS WITH A WARMTH OF HUG AND REAL FEELINGS OF REUNION AND HAPPINESS

لندن، ۱، اگست، ۲۰۲۰

زه د احسان د احسانونو احسان څنګه پرې کړم
زېرى زما د پښتني مینې د سوز زېرى دى
ګرانه! احسان دې خولګۍ واخله په اخخ له لندن
غېږ په اخخ دې له لندن اخلم اختر دغه دى
دغه زمونږه د ژوندون نوى نوروز زېرى دى
لندن، ۱، اگست، ۲۰۲۰

## د اختر ولې لټون

ما تسپي خپلې د کټ لنګې ته یوړې
خبر نه وم ولې ناسته مې وه کور کښې؟
ما ګڼل ځان خدای او ته مې خدائینه
ته کعبې ته په سجده زه ورک په شور کښې؟
لندن، ۳۱، جولای، ۲۰۲۰

## له سپوږمۍ ستورو ور په اخوا

ستورو سپوږمۍ نه ور په اخوا، مړه رڼه، نظر مې تېز له رڼا هم والوتو
ته مې وه نه موندې، ښکلا، هوا، د ژوند د رنګينيو په ډوب خواب کښې ګېر شوم
ته ما ابد کړلې، د ذهن ښاپېرۍ عکس به له ستا نه لوې شاهکار وګرځوم
پروردګار فنکار اتل، شومه تر تل، د مينی ژوند په لوې ګرداب کښې ګېر شوم
لندن، ۳۱، جولای، ۲۰۲۰

## د ژوند خوږې ترخې

څه خوږه زما مې خووږه پنجابڼه
که تراښه ده که خوږه ده که ديښمنه
پنځوڅم ورسره تېر اوس هم تخنيږو
مينه کرکه، پښتنۍ کينه، ميرمنه
لندن، ۳۱، جولای، ۲۰۱۹

## خيال ساتل هم ستا ناياب دي

زه دې پېژنم ته څوک يې؟ د ولې د باغ ګلاب يې
زما هم خپل ولايت دې، په ريښتيا چې ته مې خواب يې
ژوند بې شکه حقيقت دې، سترګې پټې چې شي خواب دی
يو بل وينو او نه وينو، يوبل خيال ساتل ناياب دي
لندن، ۳۱، جولای، ۲۰۲۰



## د مينی لومه

ورته تاو راتاو په مينه، يو نرۍ چړت ورته وکړې
چې چرچڼه له چرچڼ نه، کله تمه کړې د مينې
زه چې تمه کړم د مينې له تپوسې لکۍ تاو کړې
راته وه وايې ځه ورک شه، خو بيا وکړې ښه ناشونې
لندن، ۲۹، جولای، ۲۰۲۰

## خوب راغلو

ستا خوندورو چې کيسو ته مې غوږ ونيوو نو خوب راغلو
دی تلوسو ته وسوسو ته مې غوږ نيوو نو خوب راغلو
دا نه په ميو په سجدو، ستا الهو ووده کړم
د ترمو شونډو رپېدو ته مې غوږ ونيوو نو خوب راغلو
لندن، ۱۷، نومبر، ۲۰۱۷

## هم داسې خانده راته

ډېره ښکلې په ريښتيا يې خدای ينه که بلا يې؟
زړه مې او خوره نه يربېږم ته خوشحاله چې په دايې
لاس نظر مې نه درسي، په زړه ذهن مې خوره يې
که يو خيال که فريښته يې که نه هم يې هم ريښتيا يې
زه سجده درته کومه که دا کفر ناروا وي
شونډې غېږه مې توده کړه خير که دار مې بيا سزا وي
ته هم داسې غوټۍ خانده ته هم داسې غوټۍ خانده
لندن، ۲۸، جولای، ۲۰۲۰

## لکه خاموش شپه

خلک زما په رنګینو د ژوند مزو مئین دي
له مخه شپې غوندې خاموش زړه په چپو سر دي
نور لیونی څه وي ظهیر د لیونیانو پلار دي
ښه سر وهلی بر وهلی په میرو سر دي

لندن، ۲۷، جولای، ۲۰۲۰

## پرپری او ملخ*

ملخان ډېر، پرپري په شمېر دي بې کښې
بلبلک یمه زه د امن په سړو کښې
په خیبر کښې بل ته ګوته نیول ګران دي
خو یو زه یم بل دریا په افریدو کښې

*پرپرې، بلبله، پرپرک، پرپرکی، پولپولکی

لندن، ۲۷، جولای، ۲۰۲۰

## اور او اوبه

ملخ لکه چنګېز اور، چې ځي چرته بربادي وي
بلبله اوبه مینه، ازادي او ابادي ده
عجبه تماشه ده په دې کلي کښې ظهیره!
زمونږ مابښام ماتم وي په ګاونډ کښې مې ښادي وي؟

لندن، ۲۷، جولای، ۲۰۲۰



## په خپل سیل کی ورزه

له خپل سیله چې جلا شي ورک پردی شي
د حالات مېچن کښې سم روغ لېونی شي
د ژوند داو په خپلواکی باندې چې ورکړې
د بلبلې، او ققنس غوندې ژوندی شي

لندن، ۲۷، جولای، ۲۰۲۰

## ستا الوت زما نظر

ای پرپریه! د الوتک مهی، که زړه نن راکړې
لکه مالیار به واړه عمر ستا رفتار ته ګورم!
ستا را نه تاو راتاو خوشبو می نظر فکر روڼ کړو
زه د رباب، منګي، تر مینځه ستا په لوري شورم!

لندن، ۲٦، جولای، ۲۰۱۸

## ریښتینتیا ملګری

هغه غوړي چې خوري سړي خواړه نه زار دي ګوري*
اروړیه! لږ خوره، سادګي او قناعت خپل کړه
بیا د زرتشت، ابرم، مخبز د قافلې کوچې شه
د ریښتینتیا ملګری ځان له بیل حیثیت خپل کړه

*څه په هغه غوړي چې وخوري سړي.

لندن، ۲٦، جولای، ۲۰۲۰

## پاټکونه ټول توټې کړي

پښتونخواه د لوي افغان ده، د تور مخ لاسونه مات کړي
بدل واخلۍ له ديښمنه سم اخته يې په پسات کړي
د لښکر غوندي پري ورشۍ پاټکونه ټول توټې کړي
خان شهيد باچاخان وايې وکړي ننګ ښادي حجري کړي
د يوي چيغي ضرورت دي قيامت جوړ په تور بدذات کړي
پښتونخواه د لوي افغان ده، د تور مخ لاسونه مات کړي

لندن، ۲۵، جولای، ۲۰۲۰

## سنګاوڼ زه بلبلک

سنګاوڼ زه بلبلک، ته مچۍ د انګبين شه
په اوږو مې راشه کښينه، په چکر د چين ماچين شه
پښتونخوا چې بيا جنت، د عدن او ختن جوړکړو
زه به شم د ژوند پيروي، ته رنځور لره رخپين شه

لندن، ۲۵، جولای، ۲۰۱۸

## ځان وه پيژنه

چاره د سرو په ګېډه نه منډي ځوک
مالګه که غرونه شي يو څک کافي دۍ
ايمل دريا خو به قيامت راولي
تالب، مغل تور ته ختک کافی دۍ

لندن، ۲۳، جولای، ۲۰۲۰



## هنر قلم وسله زما

سوچونه مو پاخه دي، تدبيرونه مو زاړه دي
پېرزو هر يو ارام پرې که زاړه دي که واړه دي
دا خاوره سره کيميا، جنت باغونه، غره، سيندونه
مرام چې کچ اسمان کړو، جوړ هوا کښې اوچت پلونه
هنر مو اېټم بم، قلم مو توره او ډرونونه
سپرلۍ، هر روز نوروز دي، کر اشر په هر کاله دي
سوچونه مو پاخه دي، تدبيرونه مو زاړه دي

لندن، ۲٤، جولای، ۲۰۲۰

## د ووټونو لمونځ

په ټيټيدو، هسکېدو تېرې دې پېړۍ صدۍ کړې
اخته په قهر، د حج لمونځ او بس روژې په خدای شوې؟
اوس د ووټونو له لمانځه پسې ګډېږي به هر
خدائې او رسول درځيني پاتې د پيسي په خدای شوې!

لندن، ۲۳، جولای، ۲۰۱۸

## اتکړي راته ګلونه؟

شنه زرغونه پاس په اسمار تاتره
د يو خپلواک پښتون حالونه ښکاري
چې پښتانه خواره يې يو موټۍ کړل
دا هتکړۍ ماته ګلونه ښکاري

لندن، ۱۲، مارچ، ۲۰۲۰

## دا هم ژوند

هند کښې دوه مخه داسې تېر باسلم وېښ اوده شوم
لکه په وچه غرۍ ګله په هیبت تېره کړې
خلاصون ترمرګه ترینه نشته بې له مرګه ځینې
چې جنازه د محبت څوک په نفرت تېره کړې
لندن، ۲۲، جولای، ۲۰۲۰

## خپل لېوګر او ګډبه

ختېه هم هغه خو ګلکار یې له اغیار په مونږ سپور
ځکه خو دلته ښځه نر په خره او خر کښې ګېر شو
غوښته د وخت ده چې بیا خپل لېوګر ګډبه راولو
بیا تر یونان توران بولانه په براق ورتېر شو
لندن، ۲۱، جولای، ۲۰۲۰

## په شتو ناشتون

تا ته کتې نه شم ماشوم ماشوم د مور د زړه هر وخت سکون یې
که پنجابۍ پښتون بلوچ سندهۍ مثال سم د غربت زبون یې
بیا هم ژوندۍ اوړۍ نهار بر بهډ پښې ابلې پرتوګ خت شلیدلۍ
ځمکې سیندونه غرونه ډېر د استعمار خزان وهلۍ یې په شتو ناشتون یې
لندن، ۲۱، جولای، ۲۰۲۰



## جام جم

که زرتشت ابرم جمشید نوشیروان دی
په دې جام کښې که پوهېږې ټول جهان دی
د یوچا سجدو فتنو نه شراب ښه دي
دغه ستا د عقل فکر امتحان دي
لندن، ۲۰، جولای، ۲۰۲۰

## د خپلوي بلنه

ته که هر څه یې پښتنه یې په پښتون نیازېږې
که مې انږور، د ځلان کور شي زه به ځان درکړم
ستا پرون ستا دی ما له زړه دې نن په مینه راکړه
سرمایه څه کړې چې به زړه، پښتو ایمان درکړم
لندن، ۲۰، جولای، ۲۰۲۰

## د ژوند شش او پنج

ښه پرې رسېږم خو قسم دی چې پرې نه رسېږم
د ژوند په داسې شش اوپنج او کشمکش کښې ګیر یم!
ټول عمر ما د تور خالۍ په مریدې کښې تېر کړو!
د جنت حورو میکدو او په کعبې کښې تېر کړو
هېڅ نه پوهېږمه چې بیا په کوم ارزش کښې ګېر یم؟
د ژوند په داسې شش و پنج او ازمائش کښې ګېر یم!
لندن، ۱۹، جولای، ۲۰۲۰

## پښتو بيا پيغله شوه!

کرونډګر سهيل مي زړه پټۍ زرغون کړو
هر يو بند يې بند ترلۍ زړه سيلاب ته
د پښتون د زړه ورشو به تل وي تانده
چې پښتو شوله رانوې ژوند شباب ته

لندن، ۱۸، جولای، ۲۰۲۰

## خدايه خير کړي!

درني مې پښې، سوزی مې پوندې غړي، خيرکړې خدايه!
په زړه او سترګو مي تياره غوندي دوپ سم خور دی
چې کرونا، عمر، ستا ياد، که غم الم واخستم
په مر مرين، لمرين سحر مې ډوب تورتم خور دی

لندن، ۱۸، جولای، ۲۰۲۰

## ځوک نه خوری غرونه مالګه

چاړه د سرو که شي ځوک نه يې منډي ګېډه باندې
ګانې دي خپله وي، زړه غاښ خو په کک مه ماتوه
د باز بچيه! غورزې پرزې ژوند له ژوند ورکوي
اراده ټينګه سر کوي غر، زړه دې مه غورزوه

لندن، ۱۷، جولای، ۲۰۲۰



## نه د پړانګ او نه د ډانګ نه نور يرېږم

په اسلام اسلام دې ورک مړ او تباه کړم
وخت راغلې اوس مې لاس او ستا ګرېوان دی
يو طرف ته ډانګ او بل طرف ته پړانګ دی
پرې ورځم د خپلواکۍ، لوی امتحان دی

لندن، ١٦، جولای، ۲۰۲۰

## پوډريان نه مست الست

زه پاچا ته ملکه يې، زه ټوپک ته پټاخه يې، مينه مينه لېونتوب، فقري مو پاچاهی ده پوډريان نه مست الست يو، په شهوت وحشت کښې بوخت، ښکلې برخه د جنت ده خوند خو يو ځاځکۍ شراب، لکه پرخه شي په شونډو، څه پاک څرک بدن کښې خور کړي او نشه، دمه، پخه ده، هم خوږه ده، هم ترخه ده، مينه ډکه له وحشت ده

لندن، ۱۵، جولای، ۲۰۲۰

## زه ليونۍ افغان

خاړه د يو ګوزار وه لاړه لوغړنې پرېښوم
څه ليونۍ يم چې مې خاړه پښتنه ګڼله
زه پرښتې نه منم ما په تش تصوير غولوي؟
بريښ له مي واوره، ما ټکور، مينه، توده ګڼله

لندن، ١٤، جولای، ۲۰۲۰

## پيغمبر

زه پيغام بر يم ته ځايي پيغام بر
موسی، نبی، بيل عيسايي پيغام بر
په وخت پيغام د مرگ او ژوند رسوي؟؟
په حقيقت کښې دی نايي پيغام بر

لندن، ١٤، جولای، ٢٠٢٠

## دوه خواړه ماشومان

دوه ماشومان مئين په يو بل د مور تی ته وړي
ته ما له راکړه تريو، خواږه پی به په مينه درکړم
ته به هن هن په سر کښې، زه هون هو ن له ترنگ ورکړم
يو بل کښې ورک دواړه خلاصون کښې به رخپينه درکړم

لندن، ١٣، جولای، ٢٠٢٠

## د ممانړې اورمل اوړې

داسې ښکاري چې دوه ورونه خپل نغري له حجري ورک کړل
د ممانړي اورمل وړي، تور سازش ځيني وښتل دي
بله نه شي تور سکاره سوړ، ته يو پوکي ورکول دي
هم په لر اوربلول دي او هم بر راويښول دي
د ښې بدې دوه سرې وو، استعمار تور ورک اوسپک کړل
په مابړ به يو تپه شو، په اسمار ښکر سرينده شو
له امو تر گوادره، يوه چغه سره لمبه شو
يوه چغه سره لمبه شو، يوه چغه سره لمبه شو

لندن، ١١، جولای، ٢٠٢٠



## زه او ته!

جام مې تش کړو ور اوده شوم
په بړستن بالښت ورښه شوم
تا ډوب خوب کښې تخنولم
زه کړس کړس پري خندېدلم
تا وېل خدايه! سم يې راکړه
سترگې پيه مې شوي، او ښې لاس ته مې شاه کړه
فکر يوړلم چې زه خدای يم تا پيدا کړم؟
ته مې خدای، ته چا او زه په تا شيدا کړم؟
تکی، صفر، تکی شته دي او هر څه دي
هيولا، حساب، کتاب، لرې ډېر لرې کاته دي
خو ته نيشت هم په ما شته يې
نه يې، يې، راته ډير ښه يې
وئيل شوي دا دي ماته
په هر لوری ته او ته يې
او زه شته هم گوره نيشت يم
له ځانگو تر جنازگو، په خولو وينو کښې خويشت يم
په دا نيشت کښې هر څه شته دي
که سحر ماښام او شپه دي
لمر سپوږمۍ ستوري په خوله دي
سترگې پټې او که پيه دي
د مور نس کښې نور څه نه وو مينه مينه او ښکلا وه
ژوند؟ گور اور له پتنو ډک په هر لور ترخه هوا وه

لندن، ١١، جولای، ٢٠٢٠

## اوبه

ستا ترخو اوبو راوېښ کړم
ستا په لاره يې ور سيخ کړم
خو دا خلک، دا کائينات؟
ټول دي ډک له لوی پسات
دلته ټول سړي خواره دي؟
که په ژوند او که په مړه دي
له کور ګوره تله راتله دي
وجدان فکر ساه رانده دي
په تا مړه دي په تا مړه دي
خوله ذات لره مانه دي
خدای خبر که بيا ليده دي؟
خدای خبر که بيا ليده دي؟
زما نيشت کښې اتل شتون دي
دغه ستا نوم او ژوندون دي

لندن، ۱۰، جولای، ۲۰۲۰

## مار خور

پښتون خپل مار خور داسې نيولی دي په خوله کښې
چې نه ننه نه بهر دی پاتې شوی
نن نه مړ او نه ژوندي هغه پښتون دی
هميشه جې نر خود سر دی پاتې شوی

لندن، ۹، جولای، ۲۰۲۰



## کچه ايمان

ته ګوټ اوبه نه شي ښکلی بسم الله نه پغير
جام د انګور د اوبو ډک په غړت نهاره ښمه
زاهده! څه ستا په کچه ايمان مونږ مه ډاروه
زه دوزخي ښه يم دوزخ کښې يې بې ډاره ښمه

لندن، ۹، جولای، ۲۰۲۰

## سم ايجړا په تماشا يې

مونږ سجدي دي ډېري کړي سم بتانو د کعبي ته
ازمائيښت خونن د ستا دي چې حوا ادم په لار کړي
په بلا اوولې جنت دي، دواړه دلته تري خوند اخلو
اشاره هم راته وکړي او بيا دواړم ګناهګار کړي

لندن، ۹، جولای، ۲۰۲۰

## مليار او ماليار

ماليارى د خاطر تش خاطر کول وو
کتاب شاه يې ګلان کيښودل کتاب کښې
د ظهير! ماليارى زړه وريته کول دي
دغه نيشته د هندکي د تاريخ باب کښې

لندن، ۸، جولای، ۲۰۲۰

## پښتون افغان

پښتونخوا پښتونولي مينه مذهب کړه
هله پسته به رهبر شي نوی شپون
په سر زړه چې مور پښتو زرغونه نه کړي
ته هيڅ کله جوړيدی نه شي پښتون
لندن، ۷، جولای، ۲۰۲۰

## له نفرت نفرت

چې څومره غوارم نه دي وينم له زړه وه دي باسم
نو دومره شپه ورځې دي جوکي مي په زړه شبخون کړو
يهود به هم دومره ګوانښ وه نه کړي المانه ځيني
چې څومره ستا هټلر فوځی دلته نفرت زرغون کړو
لندن، ٦، جولای، ۲۰۲۰

## پيغلې ځلمي به د نړۍ سره ځي

د پلار پټکی څادر غوستن که درنه پاتې شولو
نو د حجرو ناموس ساته ترې چوک ياد ګار جوړ کړه
که د کوچيانو کډې لاړې ښکر څوک نه غړوي
پيغلو ځلمو له تنګ ټکور ژوند مرغزار جوړ کړه
لندن، ۵، جولای، ۲۰۲۰



## سپين او تور

سپينه سپين ږيريه! تور دي دلته معلومېږي راته
تسپي په ښي، په ګڅ دي څه نيولي چل ښکاري؟
چرته ماشومه ان وړی دي دوسمال کړي نه وي؟
وار دي خطا نيت قدمونه دي بدل ښکاري
لندن، ۵، جولای، ۲۰۲۰

## خوله که شراب؟

د ميخاني وره کښې ولاړ ورک، راله خوله يې راکړه
شوم ورپسي چې هن په خولا شه خوله دې دا واخله
چې ساه سورت شوه ډکه خوله مې ورکړه وخندېده
ګل مکی خوله کړه رانزدي وېل يې بيا بيا واخله!
لندن، ٤، جولای، ۲۰۲۰

## تاوان د مينی ګټه

د خپل باغ ميوه وريه قدر يې نه وي
شي خوږه چې په پيسو له کلابته
د انسان د مينی تول باندي ځان پوې کړه
د نفرت په ګټه مه درنوه څټه
لندن، ٤، جولای، ۲۰۲۰

## خندا نيوکه لويه!

د زهر ګوني وخت، هوا، تريخي، نيوکه خندا
هېره خندا وه خويېنن په احترام تيروي
دا غورزي پرزي خو کالي د ژوند په غته اوولې
يو بل له غاړي او وخت ښه سبا مابنام تيروي
لندن، ۳، جولای، ۲۰۲۰

## نور به هميش يو ځای وو
## Separation

زرګونه کاله پس مې وليدي جدا نه شي بيا
لګي خبريېخو پخې به سره وکړو دواړه
ته کړه شلوم! زه به مې ته ګراني ته سلوم او وايم
مينه به ډېره، څه خوږي تراخي به ښه کړو دواړه
لندن، ۲، جولای، ۲۰۲۰

## ژوند د ونې غنې لاندې

چې د زړه مينه پيرزوئينه ښادي غم شريک وي
دا بادشاهت دی که ژوند وي د ونې غنې لاندې
زه به زړه سترګې ټول د ژوند ګلان ډالې کښې ورکړم
که په اخلاص بلنه راکړي زړه ځرمنې لاندي
لندن، ۲، جولای، ۲۰۲۰



## په کرسی سپور

دا وبا ده، که سزا ده، که رحمت دي برکت دې
اووني تيره شي يورپ کښې چې جنت که عقوبت دې
په طاها ياسين کرسۍ ، لاړم عرش ته د لوي رب
شرمخان راپسي وروستو، مخکې ستا پل صرات دی
لندن، ۱، جولای، ۲۰۲۰

## لور او ته

لور هم خوږه وي ډېره، تم سراپا شات زلوبې
لور له زه زړه ورکوم تا له يې خواړه درکوم
خدای خبر ولې، کرونا، نن مې په زړه وربدی؟
په سترګو زړه کښې خو مې يې، هن، ډکه خوله درکوم
لندن، ۳۰، جون، ۲۰۲۰

## تو لعنت دي ستا په مور وي

تو لعنت په تا او مور دې، جوړ شرمخ پرې ووختلې کاشکي ته نه وې زو شوي!
مېندې بورې، ماشومان دي يتيمان کړل، ايا دغه ستا اسلام دغه ايمان دی؟
کړه راټينګه بيا پښتو ژبه، پښتو تورا تيراه کړه، لويه لار د اهورا کړه
ورک کړه دغه د عرب تور مخ وحشت د غلامۍ، دا دهشت د لوي شېطان دی
لندن، ۳۰، جون، ۲۰۲۰

## ژوند د خوراک سره دي!

جام دې د شونډو را پېرزو نه کړو شراب به وڅکم
زړه مې خوړلې ډېر يم وږې پولاو کرت دي وه خورم
له لري لرې په مسکا دي غولولې ډير يم
که ځان دې راکړو نو قسم چې په يو خورت دي وه خورم
لندن، ۲۹، جون، ۲۰۲۰

## په شي کښې

په دي ټکنه غرمه کښې د شوملو شونډو وږمو کښې
يخه ومه سرې ګرمکې د انګور په دې پټې کښې
که بريښنا مي شوه تودوښه د تي دوه ځاځکي مي بس دي
کرونا که وه ختله، خوله مي ډوبه کړه په شي کښې!
لندن، ۲۹، جون، ۲۰۲۰

## خاطر خاطر

د خدای خاطر که مې خاطر وکړې څه کم به دې شي!
تله ستا لاس کښې ژړا نه زه به خندا واخلم
نوره به ښکلې شې چې خولي سره يو غاړه راکړې
غاړه په غاړه خوله په خوله به ستا بلا واخلم
لندن، ۲۸، جون، ۲۰۲۰



## سوله که زور؟

ډېر ارمانونه دي شو خاورې د زړه دړد کم نه شو
نور انتظار د سولې پرېږده حق په زور واخله
د مغل يارځيني انصاف اوبه غوښتل له زاڼو
د زهرو جام به درکړي وايې به نور نور واخله
لندن، ۲۷، جون، ۲۰۲۰

## کاله باغ شنډ ګل

للمي پټي وچ، فصل نه کړي خو اصراف د اوبو
کړي کالا باغ به شين پنجاب خو اټک ډنډ بربنډ کړي
پښتونه خيال ساته د کور او اور، لاهو دي نه کړي
ګلاب هم لوږه، تنده، عمر، غم، ساتي شين، خو له ګل يې شنډ کړي
لندن، ۲۷، جون، ۲۰۲۰

## د پښتون ژوند قيمتي دي

نه څه تور له افريکا دی
که وي تور هم سپين باورا دی
نه کورين نه جاپانی دی
سيامی نه ويټنامی دی
اصلي سکوټ د اريانه دی
او مالک د اويجاه دی
خو چې چرته ځی مړز دی
خو چې چرته ورزي پړ ځې
توي وهلی خړ او پړ ځې

څوک يې نه پرېږدی ارام ته
سنجاو فکر ژوند مرام ته
غټ غټ بار پري باروينه
له ژوند ژواک يې ورکوينه
ره اووب يې زياتوينه
او پوښتني تري کوينه
لکه غل شوکمار قاتل وي
د غونډۍ په سر وي ناست
په غټ پنډ د راستۍ ملاست
ناخبر له خپل ساحل وي
که دې پلار د جهالت
خو دښمن دې د دهشت
استعمار پرې شک کوينه
د زياتې لمبې اورونه
دې يې بيا ګوره زغمينه!
ترې پښتنې بارانونه
بيا کوم ماريې ته خوړلې؟
دلته ولې يې راغلې؟
دلته کار دي څه او څه کړي؟
ته سپيره ما به سپيره کړي؟
ولې هلته نه ځي دلته؟
يم شکمن دي دغه چل ته!
څه ورځه دي خپل کابل ته
خپل محل ته کندهار او پېښور ته
پښتون نسل ښه پاګل دې؟
څه د اوښي که چارګل دې؟



وايې خر دې که د خرځينې بد تر دې؟
خر غله نه خوري دې خوري يې که لر بر دي؟
وږې شوي ګيا واچوه خپل خر ته؟
پرانګ غصه امزرې غټ
بې مازغو بې کاره لټ؟
ځوي باچا ګڼې، لور ښځه ګڼې وينځه؟
لکه خان له جبر ډک، مخ يې ته راته مه وينځه!
په ټوپک مئين، خودکش د خدای مينه جنت حور ذليل؟
د شيطان بچې خدای هم پوهوي نه شي په دليل
د اورنګ فېرنګ غلام، په مذهب جوړ کړو نامرد
د خر ځوی ځيني يې جوړ کړو پوډري او دهشتګرد
خپله وژله يې وړيا ده، په ده وژني ورور پښتون
هله پسته په ځان پوې شي چې خپل ګور ته شي ورستون
دهشتګرد ورسره سم، سر اخته، د ده په وژني
هله سوبه يې پرې وشي چې يې وه ويني خوله وژني
استعمار يې پامته دار دې
استعمار يې ټېکه دار دې
استعمار يې نسل کش دې
خو دا مړې خوبيه ولې پرې اوبه دي لوی سازش دې!
خو دې تل د امن مينې د ژوندون لوي طلبګار دې
بس خپل ځان نه شي ساتلې، د هر چا پروردګار دې
خو نن داسې معلومېږي چې له زښت خوب راويښ
شوينا کلار لکه مهې دي، يا په زړه دي لګيدلې
د اغيار د استعمار په چلول باندي پوې شوي
خپل ژوند حق خپلواکۍ کوي غوښته او ټينګار

وس خبره واوری دوه وار، په ټګانو رسيدلی
نن د وخت سره په حق، په خپل ځای مشت او ګرېوان دی
لکه مور د ورک بچی د زر ليدلو په ارمان دی
نن له ډېرو پيړو پس يې ښه خبر دی واورېدلی
په غازی او شهيد نه دی، خپل منزل ته رسېدلی
انګازې دي په هر لوري چې به هره ورځ اختر وي
لوي افغان بلوچ پښتون، لاس په لاس يو لر او بر وي
چې خپل کور خپلواک ژوندون ورکوي نن دربدر ته؟
خپل تاريخ را نويه وينه
اتلان ژوندي کوينه
دا پښتون دی په زړه سپين دی
چاته تور او چا ته سپين دی
خوله وژني چې مړ شي او خوله ځيني يې وتړي
لندن، ۲۷، جون، ۲۰۲۰

## په پښتون خپل پښتون وژني

که تورمخې توراباڼ ته په شتون دی
خنني اورنګ فيرنګ ته روند پښتون دی
خپل پښتون چې مړ کړي بيا يې تغمه دار کړي
دی غلام عقل يې ورک مړ په ژوندون دی
لندن، ۲۵، جون، ۲۰۲۰



## د يري نه مبارزه وخت دي

په خپله خاوره په خپل کور يې ته بادار د وطن
په ناحقی د خدای خدايی نه هم انکار وکړه
د زغم کنډولی دې کړه مات، نور د تور کور ګور کړه
ډار چې وه نه کړې په خودی خپلې اعتبار وکړه
لندن، ۲٤، جون، ۲۰۲۰

## غټو غټو سترګو

سترګي دي يايي چې يې غله په سترګو
پټوه مه سترګې په پټو سترګو
کړم مختورن يې ميکدي ته بيګا
چې يې ويشتم په غټو سترګو
لندن، ۲٤، جون، ۲۰۲۰

## وخت بدل کړه

وخت تېرولی شي منمه هر څوک
سړی هغه دی چې وخت سخت بدل کړي
ښه وخت اسان او د مزو وخت وي خو
خوند په هغې کښې چې بدبخت بدل کړي
لندن، ۲۳، جون، ۲۰۲۰

## د پلار ورځ

عجب زمانچې له زوزاد پاتې شوه
پلاره! له پلار مبارکۍ واخله
دواړه خاوند مونږ د هستۍ او نيستۍ
زه به شفقت او ته دوستۍ واخله
لندن، ۲۳، جون، ۲۰۲۰

## د کرونا يره

په "کرونا" دې هم وه نه کړل خدای دې خير وکړي ډېر؟
کرونا څه کړې ستا خو خدای ځيني هم ډار نشته
جوړي بوډا شوې چې بلنه دې د ښکلي رد کړه
که نفس کښې هډ لتهوي هڅي دي بل کار نشته
لندن، ۲۲، جون، ۲۰۲۰

## خدای ته منظور مي منظور

ښکلې خو دې ما ته ډېر ښکلې ښکاري
ځوي مې دې لوۍ ځښتن يې شپون جوړوي
زرتشتی وينه، ابرم هډ لري سخت
ورکه ميندي، اولس پښتون جوړوي
لندن، ۲۱، جون، ۲۰۲۰



## نن دي وخت سخت بدل کړه

وخت تېرولی شي منمه هر څوک
سړی هغه دی چې وخت سخت بدل کړي
ښه وخت اسان او د مزو وخت وي
خوند په هغې کښې چې بدبخت بدل کړي
لندن، ۲۱، جون، ۲۰۲۰

## کب هډوکی؟

لېونی سپی ده بس بهانه به غپيدو ته ګوري
ناخوالی وخت به تېروي په کب هډوکي نه شي!
د لنګ پرتوګ پوړي دا نه ده تربيه کور غواړي
د سړيتوب سپي توب توپير په شال زړوکي نه شي
لندن، ۲۱، جون، ۲۰۲۰

## اي اولسه لږ په غوږ شه!
## تا ته ځان جهان ته وايم

زړه مي ډک دی نه صبرېږي نن يې غواړمه چې تش کړم
تا پرې پوه کړم، په خندا ژړا کښې ګډه يې په غش کړم
د زرګاو کال استعمار، قلپ مي خولې نه‌ته اچولی
غلامی کړم مخ تورن، حق ته مخ نشم نيولی
خو نن وخت دی چې کړم مات دا زنګين قلپ د رازونو
خپله خوله کړم رابرسېره، د حقونو او قتلونو
نور مي زړه نزدې ايره شو دا لمبي نه‌شم زغملی
يم انسان څه تيږه نه يم دا چپي نه‌شم زغملی

پلار نيکان زرتشت هندوان، يهوديان نن، مسلمان يم
دا غټ تور نن سپينومه وايم دا چې تش انسان يم
هم نياګاني او زوزاد مې هېڅ بې ښې يې غلامان کړو
په زور ظلم وژله رنګه عرب مونږ مسلمانان کړو
سکندر، د چنګيز جبر، پلار نيکه مې ګور ته وړي
د تېمور خونخوار وحشت په تدبير دې ما زغملې
دغه ټول رازونه ما دي پټ سينه کښې روغ ساتلي
زه اخستی وم مغلو ما په خپله دا لوستلي
لوټ تباه يې کړم تر اوسه زما وينې يې څښلې
او په اوښکو مې د پېغلو وحشتي سينې وينځلې
هم قاتل د يو ترابان يې تنکي شونډې دي زبيخلې
د فرنګ لوټ استعمار ښکار، د تهذيب په ژبه ژبه
ژبه کړه يې زما پښه ژبه کړه يې زما غوښه
قبيلو کښې يې تقسيم کړو، ورور يې کړو دښمن تربور
ډمامې دغه اوس هم شته، دې ته کسه دې ته کسه؟
عادتی د عيوزاني او د پګړي کړم، خاصه دارلکه بې کار
د خورو څکو تش څوکيدار يا يې سم جاهل ملا کړو
د کافر بچی ته ګوره، په کافر چلول هنر، ورور يې اووژلو په ورور
د يو بل د ويني تږی، څه په فکر څه په مکر، يو يې بل ځيني جلا کړو
په سره وسپنه يې وسوم، سپک لغنډ او لوغړن کړم
توت ته توت وئيلی نه شم، هم ډارن هم دروغژن کړم
عجيبه مدار روان دي، ړوند ، کوڼ، ګونګ په سترګو، فکر او شعور شوم
وم سم څک ښه تکړه ځوان، افيمی ګلخان معرور شوم
څټ مې مات د غلامی نه، ښه سر ټيټی او دووس شوم
وم ننګيال سپين ږيری مشر، تالی څټ ښه اوس خوړوس شوم



لوي ګډېه د اريانا وم ټول جهان زما ورشو وه
وم ستا ځوي اوغان پښتون، اوښتا مور مې پښتو وه
څه را وشوو زه طوطي وم ساميری په ژبه ګونګ کړم
کړم يې لړې زه له پوهې سم رنځور يې د تفنګ کړم
خدايه دا دې څه راوه کړل سپينه ته سپين نه شم وئيلی
يري ظلم دروغجن کړم اوس ريښتن نه شم دئيلی
نور مې زړه نزدې ايره شو دا لمبې نه شم زغملی
سرې لوخړې ته مې پرېږده تورې شپې نه شم زغملی
زه به هېڅ کله پوې نه شم چې دا کوم رنګه انصاف دی
چې مظلوم دلته ملزم دی او قاتل دلته کښې معاف دی؟
لويه خدايه! هيڅ پوې نه شوم دا سزا څه انتقام دی؟
ايا دا ستا ازمائيښت دي، ايا دا زما انعام دی؟
د تور ظلم تېرې پنجې، غلامی تورو تيرو کښې
دی ژوندون د ځناور، هڅې ساده بس په مړو کښې
ټول زوزاد مې در بدر دي. بې وسی تورتم کښې پروت دی
شوو په خپل کور کښې بې کوره، شامدام ماتم کښې پروت دی
لوخ ماشوم وږی او تږی، کور کښې لوږې ځيني مرينه
استعمار تور مخ وحشت کړې بې پړدې مې مور ارتينه
په ګرمی کښې جل وهلي د يخنی واوري يې سوڼ کړې
ماهيګر لکه مهي چې، ځان له خوښې سره چوڼ کړې
د دې پاسه په ښونځيو کښې ماشومان په ګولی وژني
د مذهب په نوم هم پېغلي او ځوانان په ګولی وژني
په چړو او په ډرونونو، هم په کاڼو سولی وژني
شپه او ورځ مې په توپ، بمونو، الوتک
د شپې راشي کور مې رنګ يا مې مړ ژوندي کړې ورک

د جومات نه مي اوچت کړي، د حجري په مخکې سپک
او چې نه پوهيږی نو هغه د سکوټو پښتنو کار ورسره وکړي چې مخ ورله
تـور کـړي او پـه خـر يـې سـپور کـړي
پـه خودکشـو ماشـومانو ظالمـانو بانـدي وژنـي
يـا پـه تـور پـه بـې ننـګ، پـه وحشـيانو بانـدي وژنـي
اوس منـزل رانـزدي کېـږي
اوس منـزل رانـزدي کېـږي
زړه مـي ډک دی نـه تشـېږي خـو دا ښـه نـور نـه خرڅېـږي
ښـه دي څـومره چـې خـوږېږي هـم دړدېـږي او تزنېـږي
ويښ پښـتون پـه ځـان پـوه شـوي علامـي داسـې ښـکارېږي
ازادي پيغلـه تـري غـواړي اوس کـه خيـري چـې کـار کېـږي
خپلـه وينـه خـاوره زر اوريـن غرونـه او سـيندونه
لـه امـو تـر ګـوادر رنـګ پـه رنـګ خلـک دريابونـه
بـدلون راولـي دريـوش ميـرويس شيرشـاه شـي
د دريـاب چپـاو ايسـار کـړي ناخـدا شـي
د نـاموس او ازادی د کـور اقـا شـي
بيـا مالـک دارياـنا لـوي اويجـاه شـي
د زرتشـت ابـرم موسـی د لاس امسـا ده
دي بـدل نـن سـره او تـور يـد بيضـا ده
پـه هـر لـور رڼـا برېښـنا دغـه اواز دي
نـن ده ورځ چـې ښرګنـد شـوي د ژونـد راز دي
د تکبيـر نـاره بدلـه پـه پښـتون کـړه
اوس وخـت غـواړي چـې چـوڼ ځـان لـه نـوي شـپون کـړه
لندن، ۲۱، جون، ۲۰۲۰



## ولې ګل کړي ترمي ترمي؟

زوروريـې خـو کېـدی شـي، د قـدرت قـانون بـدل کـړی؟
يويشـتمه پيـړی وخـت د ځمڅـو نـه دي، اې ظالمـه هسـې چـل کـړی؟
غـوټۍ ګـل، ګـل ابـدي کـړي، اسـتعمار تـه يـې پرېنـږدی!
پـه زرګونـه کالـه وشـوه، نـور دي کـار تـه يـې پرېنـږدی!
زور او ظلـم امريـت، دا قـانون د لـوي قـوت، کـړي بـدل پـه جمهوريـت
وشـوه وشـوه ډېـره وشـوه، کـړه مـو خـلاص د مصـيبت
چې د وخت د خدای ځپېږي ترمي نه کړي ستړګو رپ کښې نازک ګل مي د چمن!
دا وطـن زمـا خـتن، دا وطـن زمـا خـتن
خو: تـه قدرتونه بـدلول غـواړې ښـکلا دايم د ګـل چې تـل مسـکان وي
هـم زمـا، سـتا، د هرچـا، زړه پـرې خـوښ د هـر انسـان وي
کـړي مـړاوې پـاڼې د ګـلاب تـازه د زړه پـه وينـه مينـه بانـدې
د خپـل چمـن د خپلـواکۍ، قبضـه پـه ګـل خپـل او ازغينـه بانـدې
کـه وي بـاورا، وحشـي مرغـۍ پـه نـوم د خـدای ورتـه توپـان وايـي
څومره لـوی ظلـم دی، زياتـۍ دی، چـې بيـا هـم ځـان تـه رحمـان وايـي؟
جوړيدونکی ته فنکار، ورانېدونکی لوی خونخوار، مسمسه يې، چې غفار ډېر
لـږ قهارشـي؟ تماشـه او تماشـګير، هـم غالـب، مغلـوب پـه وار شـي
بـس کـه نـورې ډمـامې دي کـړه زمـا پـورې، د ځـان پـورې خندېږي
خپلو لويو دريابونو، ډوب سيندونو، ځنګل ځمکي خپل اسمان پورې خندېږي!
دغـه ترمـې پـاڼې ګـل، د فکرونـو سلسـلي کـړې
پـه تيـرو نوکـو مـې ترمـې، ترمـې بيـا د زړه غنچـې کـړې
زه شاعر هم ستا وړونکی غوندي ځوې يمه هم ستا غوندې نيازبين يم
ډېـر مهيـن او لـونګين يـم خـو امـر تـه غرسـنګين يمـه شـاهين يـم
غـواړم تانـد پـه مينـه امـن، ګـل دې تـل ښـاد او ابـاد شـي
مينـه امـن دې ودان وي، زور او ظلـم دي بربـاد شـي

ستا واړه نور تور خدایان نن هم جبر کړي وحشت دی
دا قانون انسانیت نه دي، دا دهشت دی بربریت دي
ستا په امر مصلحت بیا، ولې غواړي پاڼې پاڼې ګل برباد کړي؟
وراني کښې لري ګټه، ابادی خپله دنده سرمایه لویه کښې فساد کړي
زړه نظر مې پکښې غښتی، چې ازغی مې حفاظت کړي
زما سترګو کښې غړېږي، هم مې زړه او ساه صورت کړي
خو ما نه خوري خو ما نه خوري زما ژوند د چمن رنګ دی
ماته ښايي څوک باورا، پر پرکی دی، او څوک زاغ او څوک پتنګ دی

که ته مل تل د غاصب یې
هم غالب یې هم صایب یې
لکه مار، مهی خپل زوه خوري
دا زما د ژوند ارزو خوري
مارخوران زما تیراه دي ما نه ورک کړل
ډیر درانه وو دي زما نظر کښې سپک کړل
اوس د خپلې مور تیرا په خوړو سر دی
پوهوم یې چې راویښ شی خو ابتر دی!
ته په خپله ګواه ساد یې!
هم قاضی ته هم جلاد یې
هم امین هم بې ایمان یې
هم شیطان اوهم رحمان یې
په تا څه رنګ باور وه کړم؟
په تا څه رنګ باور وه کړم؟

لندن، ۲۰، جون، ۲۰۲۰



## شهوت مینه ده

له شهوت چې وحشت لاړ شي، په دي پوه شه چې کړکېچ دی
مینه کمه، یا په بیه، شوه، ښکارېږي چې بوډها شوي!
چې کټ پر پرېږدي خپل ملګري ته د ژوند، مینه نه، جنګ دی
مینه، حق ګټل ګران کار دی، ته ساتي یې اهورا شوي!

لندن، ۲۰، جون، ۲۰۲۰

## سینه سنګر پښتنه

سینه سنګره پښتنه، بیرغ په لاس مخکې ده
د اي پي ایس بدل به اخلي تالبان یروي
مینه یې روغه ریښتینتیا، ښکلا نه زار یې دنیا
په تنګ ناموس کښې امزری ده مارخوران یروي

لندن، ۲۰، جون، ۲۰۲۰

## مینه مینه امن جنګ کښې

که یې عمر تیر هجران کښې، د مغلو تور فغان کښې
مینه جنګ امن کښې یو رنګ، د ازاد ژوند په ارمان
خوله په خوله غاړه غټې وي، ونو لاندي له یخ سیوري
په یو بل کښې چې وي ورک، څومره خوند کړي دوه ګلان!

لندن، ۱۹، جون، ۲۰۲۰

## غر هم لار لري

یاسمین رامبېله ساده پيغله د تيرا خو نه ده
چې درنه تاو شي بيا دي خير د خلاصيدو نشته
يا ځان انګور کړه ورته يا به يې څه لار اوباسي
هېڅ بله لار د مرګ او ژوند د فېصلو نشته
لندن، ۱۷، جون، ۲۰۲۰

## کوړکي دي نه کړي

له خپلي يرې ياسمين غاړه غټې شي انګور ته
بوئوه خوره يې ظهيرجانه! خو کوړکۍ دي نکړي؟
ښکلي خو تا هميش د خدایۀ د سترګو تور ګڼلي
هسي نه مړ ژوندي دي ځوي ورک د ادي دي نه کړي؟
لندن، ۱۸، جون، ۲۰۲۰

## مينه!

په صحرا، که په کيږده وي، خانه، څمڅي ته خانه وي
څاڅکۍ څاڅکۍ سمندر شي له يو څاڅکي جوړ محل شي
تيغ دي نه دي جوړ وهلۍ ځان کړه پوه په سپرلي مينه!
څاڅکۍ مينه ګل اوربل شي، هم ځلځل دي په ګوګل
لندن، ۱۷، جون، ۲۰۲۰



## له تنګ بې ننګ ښه جنګ

د امن خداوند چې تنګ اخته په مرګ دهشت کړي
له داسې ژونده ښه تر مرګ د باز غوندي جنګېږي
تر کومه درکې ساه وي هيواد خاوره بوئيوي شي
ايري به يې زرغوني شي سرباز غوندي جنګېږي
لندن، ١٦، جون، ۲۰۲۰

## افغان پښتون

هر اورنګ فيرنګ بدرنګ سورۍ سورۍ کړي
ساه دي نه اووځي دا څه رنګ برېوکۍ يې؟
هره ورځ لکه ققنس سوزي ايره شي
بله ورځ په بوي د خاوري راژوندي يې؟
لندن، ١٤، جون، ۲۰۲۰

## افغان پښتون

هر اورنګ فيرنګ بدرنګ سورۍ سورۍ کړي
ساه دي نه اووځي دا څه رنګ برېوکۍ يې؟
هره ورځ لکه ققنس سوزي ايره شي
بله ورځ په بوي د خاوري راژوندی يې؟
لندن، ١٤، جون، ۲۰۲۰

## په ژوندوني جنتي وو زما ورور وو

په زړه مخ ښکلی زیاتي وو ځوا ورور وو
د کور کلي په ښي بده کښې حاضر وو
نشانه د لوي علی وو زما ورور وو

لندن، ۱۱، جون، ۲۰۲۰

## لر او بر زبادوو

ویښ شئ اوچت شئ نن د ژوند په ایر پلټنه کوو
پیغلو ځلمو! د مور پښتو، ورکې غوښتنه کوو
پاتې غازي که شوو که مړ هم یو اتل به وو تل
نور نه غولیږو د لر بر په زور زبادنه کوو

لندن، ۱۰، جون، ۲۰۲۰

## ضرورت دي د اغلو

چرته اغلي ګلان تاو چې باوراګانو نه وي
هلته همېش به مینه امن او سکون ښکاري
د پښتو مور سره پلار ځایي، پیغله ښایي ځلمي
چې دا پوره نه وي، نیمګړی هم ژووندون ښکاري

لندن، ۱۰، جون، ۲۰۲۰



## مینه او مینه

مړخت په مور او مینه نشته زه پرې سر هم خورمه
که هر څو ښه وي چې په ځاے ځائیګي کښې کم اوخوري
تعویز د غاړې به دي جونه ځلمي واړه جوړ کړي
که خپله یره دې کړي هېره، د بل غم اوخوري

لندن، ۹، جون، ۲۰۲۰

## کومه سوله؟

کور، اور، حجره، جونګړه وران زما هم ذات ورکوي
په زړه، مخ تور، دجال، شمر ځوي مي اوقات ورکوي
دا انتها د بې وسی، بې خودی، سوله چرته سوله نه ده
زما، نامه، جامه، پښتو، د تاریخ پاڼې، نادرات ورکوي

لندن، ۹، جون، ۲۰۲۰

## لاره مه پرېږده

که وي روا که ناروا خو په رینښتیا ښبلی
لکه انګور غوندي نزدو ته خامخا ښبلي
بله یې لار نشته وزرې به یې خود غوڅوي
چې پردې لارې نیسي هسې ناروا ښبلي

لندن، ۸، جون، ۲۰۲۰

## تیږه او جرګه

جرګه د پښتنو یو تولنیز یانی کانفیډرل د ژوند قانوني اثاثي کوډ
دي چې په پښتون ولې ولاړه ده او په ځینو ځینو قبیلو کښې که هر
څو د دي مرکزی حیثیت یو دي خو قبیلي بیل بیل اړخونه لري .
جرګه سره د مشوري، نتواتي او د فیصلي نه علاوه نور اړخونه هم
لري او د جرګي سره ګوندي، تربګني، بدی، جوړه، اوربند، بدل
او جینۍ بدل کښې ورکول_سوره، بدرګه او برمته، او د دي تولو
نه زیاته اهمه تیږه یانی کاڼۍ کیښول دي چې په هغې هر کس او
ګوند لکه د قران د کرښي د زړه له اخلاسه ودرېږي ان تر دي چې
که یو فریق دا ګڼي چې د هغې سره زیتۍ شوي خو بیا به هم وایي
چې؛ چې په مرۍ مې دي څمته چاړه راښکلي ده؛
مشتاق زړګي د جرګي ښکلي کرښي راښکلي او نن د پښتون ملت
اولس د پاره اشد ضروری دي خو د بدمرغۍ نه د جرګي په
پاکوالی او لوئوالی تش پښتانه او یا لکه د انګریزانو د ناموس
خاوندان دښمنان پوهېږي په هغې مغل رهزن او یا د هغوي بدزن
غلام پنجابۍ یا د هغه دهشتګرد تالب داهیش مولا نه پوهیدي
شي او نه ځان پوهول غواړي او دا هسي لکه سنډا ته سرینده وهل
دي ځکه چې په سرینده مهذب خلک پوهېږي خر، شرمخ او سنډا
په امن مینه ادب نه پوهېږي او سنډا تش د کوتک په ډب پوهېږي
او د هغې د پاره باید چې مونږ سهی شپون وټاکو چې د سریندي
په خوند هم رسي او ورسره د کوتک په ډب ورکولو کښې هم رستم
زمان وي .د دي څو کرښو سره ما په تیږه یو د مینی نه ډکه ربعی
لیکلي ده او خوند تري واخلۍ

لندن، ۸، جون، ۲۰۲۰



## تیکه کیږده

خوله مې اخیسته ده څه خوله مې درنه وړې نه ده!
که یې غُصه په دي، په تېږه کښې مې خوله واخله
ظلم زیاتے کوي په ما، بیا نتواتیم غواړي؟
جرګه پښتو نه ده دا شوکه هم په زړه واخله
لندن، ۷، جون، ۲۰۲۰

## یمه شاعر نه یم رهبر نه پیغمبر

ما ته چې کله هم الهام وشي
له ډېري لري نه پیغام وشي
چې سمدستي یې زه وه نه لیکمه
ورک لکه خوب دا یې انجام وشي
خو زه شاعر یم پېغمبر نه یمه
دروغ نه وایمه رهبر نه یمه
لندن، ٦، جون، ۲۰۲۰

## ږیري ږیري دي هر لوري

هر طرف نفرت فسادونه دي خورېږي
ښکلي ښکلي شملور شنه بریتور لاړ
یم ژوندي بس دغه ځیري ته چې واورم
غنی وائی ملا جان جړ د لوي شر لاړ
لندن، ۵، جون، ۲۰۲۰

## خپلواکي ناره

د حق غږ د ځان جهان د پاره وکړي
پښتنو د يو افغان د پاره وکړي
چنګېزيان رانده تيمور په زړګي ګوډ کړي
خپلواکي افغانستان د پاره وکړي

لندن، ٦، جون، ۲۰۲۰

راکړه ډېر ستړى شوګېري وهلى يم راشه
لندن خوسم لکه جينى غوندي دي
يو ساعت کښې شي اوړى بل کښې ژمى شي
دا مزي والله چې په لندن کښې دي
خوند يې ازادى کړي که لغنډ که پټ
خېټه خټه امن دي وطن کښې دي

* لندن لکه د جينى بدليږى را بدلېږي ، ساعت کښې اور لکه لمبه اوړى پشکال، او ساعت کښې يخه لکه واوره ژمى پوه ماه، نن سمه پوه ماه ده د فکر په ځانګو کښې ټالى.

لندن، ٥، جون، ۲۰۲۰

## له حرص نفرت نفرت کړم

د سرو سپينو د کنجکو غم مې نشته
خان ګدا سره ګډا په يو ادا کړم
د شپيتم پاسه ملګرى د شلم يم
ابدى ښکلى ځلمى د خړپړ جم يم
د ځلمي پيغلي د سوري هم پوجا کړم
خان ګدا سره ګډا په يو ادا کړم

*رحمت شاه افريدى د ارسلان او هدايت باچا کامريډ سره په يو عکس کتو وايي چې د خپل خوږځوى ارسلان نه هم ځلمى ښکاري

لندن، ٥، جون، ۲۰۲۰



## د تيرايي حجري سبات مې ياد شو

نوي تيرونه مي د زړه بوج له ځان لري ساتيد تير
زړي برګي مي چرته زوړ زړه غورزيدو ته پرېږدي؟
د تناره غاړي له راشه تماشه يې وکړه
چې نه وي سره ټيکاله چرته نيدو ته پرېږدي

لندن، ٥، جون، ۲۰۲۰

## د غريب زړه

زه غريب د زړه جهان مى بادشاهي ده
دا جهان درکوم د مينى په ډالى کښې
که دى، ښه، راته په ښه سترګه راو کړل
ځنګوم به دي د زړه په ځانګوړى کښې

## لونګينه شپه

باران وربېږي کورونا ، خو نشه ينه شپه ده
پينځې اوچتې کړه چې کړي دي پليتي نه شي
ټکور د مينى پور دي شونډوله رو رو ورکوم
ډيري نازکي دي غولينځې چرته چيتي نه شي

## د مينى بلنه!

د سرېوالي اوبه خور به ګلان وټوکوي
که د مئين د ژوند اوبو څک دى په ځان يوسي
سبا هيچا ته معلوم نه دى نن په نن وتړه
که وار وه نه نيسي نو خوړ به لوي توپان يوسي
لندن، ٤، جون، ۲۰۱۸

## په يوه خوله چوپيږي

نه په روژه، شبات، شهوت او ماهواري ايسار دي
هاشم وړوکى اسک، په تي لاندې تنهي چوپيږي
جينى جينى، هلک هلک ازادى، ژوند دي ژوند دي
په اذان نه دي ميخانه کښې په ترخي چوپيږي
لندن، ۳، جون، ۲۰۲۰

## ازادى مي بادشاهى ده

دا جنت جهاد اسلام پنجاب ته وله
مونږه ژوند اوبه سودمنه مړى غواړو
زده کړه، مينه، رڼا ، امن په وطن کښې
خپلواکي دي وي څپکه روټى غواړو
لندن، ۳، جون، ۲۰۲۰



## چې کښېميا دو؟

خبره ويره چې اي مو شووله هنچې کيميا دو
کو زلزلو روغلو پهتو شووله هنچى کيميا دو
دومره خو نو يم لا کمزورى پو اوګو شو روتا
ويني نو ښو تووده مې ملو شووله هنچې کيميا دو
لندن، ۳، جون، ۲۰۱۸

## ملالي ميوندى رڼا

ورځ دي ګلونه شه سپرلې راوله
د زړه تيارو کښې مي سپرغي راوله
چې د ملالي پښتنى حجرو کښې
ټنګ ټکور ګرم شي ښادي راوله
لندن، ۲، جون، ۲۰۲۰

## ورځ دي ډېره بختوره غواړم

په تعويزونو، حکيمانو او دمونو نه شي
د ملا لوري! سترګي وغړوه ځان اوګوره
د دي ننهى د جنت حوره يې غلمان راټينګ کړه
اودس په ميو ميخانه کښې امامان اوګوره
لندن، ۲، جون، ۲۰۲۰

## تن رالیو کړه

ستا په خټ خټ خندا شړک شړک زړا هېڅ پوه نه شومه
چې شین، وریځ ده، تاو، ساړه، که ناځاپي به غریو شي؟
تر هغې سوبه ظهیر جانه! زما کله کېنې ږدي؟
بریخ کورینۍ وهلې، ستا نه سوا نه جوړېږي
سورۍ، وجود لکه پوستکۍ ستا، په ما چې لیو شي
پښتنو زوړ کلتورکې د کډوري یا وري او چیلي پوستکۍ
دري ورځې اچول د هر رنځ درمل ګڼلې شو . دا پوستکۍ ما
هم اچولوي وو او دا به د سړي د تن پوري دومره سخت وه
نخلیدو چې لري کول به یې مشکل وو .اوچې څومره به
ټینګ ونخلیدو نو دا به د سهی درملتیا د اثر علامه وه
لندن، ۱، جون، ۲۰۲۰

## دوه ورځې ژوند

چې ډېر په ګټه شي نو ځان به بائیلي
ګټه پرېږده بس خالي لوبه کوه
دوه ورځې ژوند دی پوره خوند تري واخله
د خوشحالۍ هره ټاټوبه کوه
لندن، ۱، جون، ۲۰۲۰



## مینه بیش بها ده

ستا راکته څه وو چې زړه مې سور په شوور تېر شو
در دوران له لوي دهلې او کوه نور تېر شو
شونډې په شونډو ترمې لري نه کړي ډوب به شمه
پرېږده سرخت د جنت، خوږ د دوزخ اور تېر شو
لندن، ۳۱، مې، ۲۰۲۰

## اریانا هند اویجاه یو

اویه کاله بهنګ وهلې له بغنیو یې شو پورته
زوړ مارخور را ژوندي شوي په ځارن د تور پنجاب دي
له امو تر ګنګاه پوري د زرتشت ګوتم بچوړي
راغونډ شوي په نوروز، امن سور شراب شباب دي
لندن، ۳۱، مې، ۲۰۲۰

## زما لوي افغانستان

له امو، کیټو، بامیانه تر کابله او زابله که لوګر او ننګرهار
له خیبر تر پیښور، اباسین هم په جیلم، تري نه مخکې ګوادر او کندهار
دا د لوي افغان تقدیر، هم پاغمان کشمیر پامیر، اویجاه د امن مینې اریانا ده اریانا ده
دلته غرونه ځنګلونه او سیندونه، اور سیندونه، دریابونه د زړه کور مې پښتونخوا ده
اهورا هاشم زرتشت، د ویندیداد پینځه لسم، په هر لوري دي نوروز او نوبهار
لندن، ۳۱، مې، ۲۰۲۰

## اتل نه مري

چې يو د سترګو رپ، په مينه، ژوند خودنو تير شي
د خوږ افغان اولس دعا، او پيرزوئينو تير شي
نو ظهير جانه! تا اتل ته مرګ راتلی شي کله!
افغان ژوندي به وي وخت تير که په پيړونو تير شي
لندن، ۳۱، مې، ۲۰۲۰

## افغان رهبر

افغان رهبر يې افغان رهبر يې
ته روغ انسان يې ته زما څوي يې
پښتون اتل يې زما رهبر يې
ته به راغونډ کړي ټول خوار وزار
لندن، ۳۱، مې، ۲۰۲۰

## تنقيد نوم دي د ژوندون

## Tanqeed Noom dDai Da Zhwandun

زه ساده پاده انسان، يم د مينی ژوند تمهيد
yam da meene zhwand tamheed ،Za Saada Paada insan
خپله لار، خپل مي مذهب، نه منم د چا تقليد
na manam Da cha taqleed ،Khpala laar khpal me mazhab
د بل واورم، سم منمه، له هيچا نه خپه کېږم
Sam manama ,la heecha na khapa kegam ،Da bal wawram
ژوند دي نوم د راشه درشه، د منلو او تنقيد
Da manalo au tanqeed ،Zhwand dai noom Da rasha dersha
لندن، ۲۸، مې، ۲۰۲۰



## لور

لکه د خري دربانديي پلار او مور سوربږي دواړه
چې بيا دي خرڅه کړي ميره درله خاوند جوړ کړي
وه د خري لوري! را اوچته شه خپل حق وګټه
دوه ګوتي وه نيسه دي دواړو ته خپل ژوند جوړ کړه
لندن، ۲۸، مې، ۲۰۲۰

## د بخښلو نه دي

د هيرودو چې نه وي څنګه به يې او بخښي ته
ته به يې او بخښي خو زړه دغه بخښلی نشي؟
ماته يوه يوه نيته ستا د جفا ياده ده
زړه مې سوری سوری دي نور ظلم زغملی نشي
لندن، ۲۷، مې، ۲۰۲۰

## ژبه چې وه نه چيچې

خيال کوه ويني نه شي څوک به دي ګريوان پاکوي؟
ژبه به خپله خيال کښې چيچې زما زړه به چيچې
ما به له ځان ورک ليونی کړي خدای خو ويني کنه
نيني خو څه شي ليونی ګوته په خوله به چيچې
لندن، ۲۶، مې، ۲۰۲۰

## ستا نه شیطان ښه دي

تـه خـو وړه یـېډ وړو سـره نـن هـم لـوبي کـړي
زمـا حـال ګـوره چـې یـوازي یـم وړي خوښـوم
خدای دي ژوندي لـري شـیطان چې مې تیرباسـی همـیش
پیغلـه را مخکـې کـړي کـه زه وړي زړي خوښـوم
لندن، ۲٦، مې، ۲۰۲۰

## ته مې د زړه بوټۍ يې!

زړه مې کـړه پیـه، تـه يې په هره یوه رپا کښې اوسي
چرتـه چـې اوسـي خـو زمـا پـه هـره سـاه کښـې اوسـي
تـــا تـــه بـــه نـــه وي دا معلومـــه د زړه ګلـــه! زمـــا
د ژونـد او مـرګ سـره تړلـي مـي دعـا کښـې اوسـي
لندن، ۲٦، مې، ۲۰۲۰

## غازي رهبر په کار دي

د مرګونـو شـهیدانو ځینـي تنـګ شـوو
د غازیـانو رهبرانـو ضـرورت دي
خپلـواکي د ژونـد پـه نـبض چـې پـوهېږي
نـن د داسـې طبیبـانو ضـرورت دي
لندن، ۲۵، مې، ۲۰۲۰



## دغه څه رنګه اسلام دي؟

دغه مرګ ژوبله او ظلم، په ماشوم هره ارتینه، د تالب هر دهشتګرد
د روژي سبر او زغم، د غریب اختر تورتم، په سحر او په ماښام
ښه به دا وي چې کړم ټینګه، خپله لاره د زرتشت، د هاشم او د ګوتم
چې کړم هره ورځ نوروز، مینه امن ښکلې سوز، په سکون رنګین ارام
لندن، ۲۵، مې، ۲۰۲۰

## ګټور بائیلات

ښه وي چې لاړي رانه خیال دي ښه په زړه کښې ساتم
که مې میندلي وي، ستا سیوري به پریښولې نه وي
خیر په بائیللو کښې وي ځان په دي پښتو ښه پوه کړه
کاشکي چې کور کښې مې کټې بچې ساتلې نه وي
لندن، ۲۵، مې، ۲۰۲۰

## یو نظر د مینی

د زړه نظـــــر فکـــــر خـــــو ژبـــــه یـــــو ده
تـــه پـــه یـــوه ســـترګه، مـــونږ پـــه بلـــه وایـــو
تـــه یـــې پـــه لـــوړه زه پـــه ټیټـــه وایـــم
مقصـــد یـــې مینـــه یـــو تـــر بلـــه وایـــو؟
لندن، ۲۵، مې، ۲۰۲۰

## د یتیمي ژمنه

زه د پلار قبر ته ناسه تویوم د وینو اوښکي
ماښامۍ یې د اختر ته په سرو وینو په خندا کړي
زما مور دي بوره کړي ستا د کور به دا انجام کړم
که مردار نه شي ټول عمر لوغړن به ته غوغا کړي
لندن، ۲٤، مۍ، ۲۰۲۰

## خپل غازي شهید هیر نه کړي

د اختر په ورځ خپل مړي مو هیر نه دي
د عارف ارمان نقیب مشال نجیب یو
انتقام نه خپل مرام نظر کښې نیسو
یون پاسون د ازادۍ ته ورقریب یو
لندن، ۲٤، مۍ، ۲۰۲۰

## دا اختر وباه ده

دا اختر به زما هله بختور شي
چې نن واورم دعارف بدل چې سر شي
ګني دا اختر اختر نه دي وباه ده
پښتانه به تیتر بیتر په‌لر او بر شي
لندن، ۲۳، مۍ، ۲۰۲۰



## د جنون مقام

زه ګیله د چا نه کړم دا مي زړه دي شرموی مې
حسن ځان ته که څه وایې زما عشق ښکلی پښتون دي
زه انسان د زړه خاوند یم زړه په ښکلو لیونۍ وي
فرشتي مې څپوي ښیي، خدای مئین په دي جنون دي
لندن، ۲۳، مۍ، ۲۰۲۰

## کارغه او دانه!

نن مې ټرنټ پارک کښې تور کاغانو ته دانې واچولې
تیري مخوکي یې پري راخکي سراسر یې تیر کړل
وو پنجابپیان تالبان نه وو پري وه نه جنګیدل
دانه یې یو یو په هوا کړه برابر یې تیرکړل
لندن، ۲۲، مۍ، ۲۰۲۰

## خپل ولې

لور، خور، ملګري مې شي زړه وساتي
که ځوي ورور پلار مي شي کاله وساتي
زه دي ساتمه خیال په هره ګړۍ
ته یې ساتي او که هم نه وساتي
لندن، ۲۲، مۍ، ۲۰۲۰

## چر چننه چتی د مولا بچيه!

لکـه چـر چـڼ پـه چـر چـر سـر پـه منبـر خـدای ګنهې ځـان
دربانـدي زور چـې راشـي لـور څـه کـړي امـت خرڅـوي
يــره مــدام دي چــې پــه ســر لکــه اســمان را لــوېږي
لاس ښپي اوچت کړي ورتـه ځان پري خپـل کمبخت خرڅوي
لندن، ۲۲، می، ۲۰۲۰

## د مينی پيرزوئيني

يـو زويرګـی، هـره سـلګی، هـر ه لمحـه دي د ورځ
د سـرو ګلونـو، خوشـحاليو ځينـي ډکـه غـواړم
کـه راسـره يـې او کـه نـه، يـې هميشـه مـي زړه کښـې
تـل دي د وي زړه پـورې ليـو، د ژونـد لينځکـه غـواړم
لندن، ۲۱، می، ۲۰۲۰

## په پنجابي اشنا باور مه کوه

ډيـر شـو کلونـه اخترونـه پسـرلي تيـر شـولو
انزدي نه شوي تش لـه لـري راتـه سترګي وهي؟
د کورونـا وبـا، فـوځي امـر، بـاني دي ټـولې
د پنجـابی لـور، افريـدي تـه هسـي ډرهـي وهـي!
لندن، ۲۱، می، ۲۰۲۰



## ارمان

کـه پـه ژونـد نـه وي نـو پـه مړينـي دي شـي
ملالــی نــره چــې بوســه راکــړي
د غلامـی لـه ژونـد مختـاره ګـور کښـې
د خپلــواکی ښــکلي نــاره راکــړي
لندن، ۲۱، می، ۲۰۲۰

## نور دعاګاني جنازي پرېږده!

مـړه مذهبونـه او قومونـه ژوند نـه مـرګ خوښـوي
نور پـه ژوندونی لـه ژوند تنګ مـا مکيـدي تـه بـوزه
پـه ژوند مئين، د مړو مئين مذهب، پـه مړيو کړلو
بيـا مـې ژوندي کـړه مـا د ژونـد اتشـکدي تـه بـوزه
لندن، ۲۱، می، ۲۰۲۰

## بي وسي نشم زغملی

پـه يـو مـخ تـش يـو ميـرېی يـم، پـه بـل لـوري سـمندر يـم
د وخـت هـري يـوي چپـي تـه سـر سـنګر ولاړ يـو غـر يـم
هرڅـه هرڅـه شـم زغملـی د بـې وس اوښـکه مـي يوسـي
کـه هـر څـو زه سـنګاوڼ يـم کـه هـر څـو زه بهـرور يـم
لندن، ۲۰، می، ۲۰۲۰

## اوښ او خر

د اوښ او خره جګړه چا لیدلې؟
راشه چې وینم درته ما لیدلې
دا د عرب پښتون خبره نه ده!
دا د پنجاب ګوته هر چا لیدلې
لندن، ۲۰، مې، ۲۰۱۸

## که ما ګوري نو بینا شه

که ما ګوري په سپوږمۍ لمر ګل کښې پټ یم
یا ایرو ګښې د ققنس چې زرغونېږي
نیاز زما پښتو پښتون د ټول جهان دي
چې یې څومره ورکوي دومره زیاتېږي
لندن، ۱۹، مې، ۲۰۲۰

## د پښتون ژوند او مرګ تړلی سره

زړه پښتو، نه ښه زړتیا او نه په یره کېږي
که خپلواکي غواړي هغه په جنګ او نره کېږي
د اوښ او اس سره سره په توغندي سوربړه
نن مخامخ مقابله له دهشتګره کېږي
لندن، ۱۸، مې، ۲۰۲۰



## دوه پرکوټ زړوونه به مینه ګړي رانوي
## Two Broken Hearts Renewing

کورونا وباه، وفا به وه ګرځېږي
Wafa ba Wa garzegee ،Corona Vabah
دوه پرکوټ زړونه چې بیا را یو ځای کېږي
Dua Parkuat Zarhoona che bia ra yao zai kegee
علامې د پسرلي غوړاځکي شنه شوو
Alame da Pasarlee Ghuarhaxki shnah shwoo
باوره، ګل، لغړي ونې زرغونېږي
Lagharhe wane Zarghoonegee ،Gul ،Bavra
لندن، ۱۸، مې، ۲۰۲۰

## شېطان غولول

بیګا شېطان غولولې خوب کښې، په یو بل کښې ډوب وو!
ولې یې پټ کړم، زه یې تا ته او هر چا ته وایم
ته ښه، هر څه کښې، خو وښه دي، شات شکري خوږه!
تا ته یې غوږ کښې وایم پټ، نه یې بل چا ته وایم
لندن، ۱۷، مې، ۲۰۲۰

## مړخت په مینه نشته

د یویشتمي پېړۍ خوند په زړه اخلاص اوباسه
که شي په رنګ، ورزش، یو بل مالش څوپلو باندي
نشته قسم دي که بل هېڅ جنت واعظه وروره
که درکي مینه وي اوباسه یې په ښکلو باندي
لندن، ١٦، مې، ۲۰۲۰

## ازادۍ رانژدې شوي

شکر چې راويښ شوي په روژه ګښې تر اختر پورې
بيا چې اوده نه شي اي پښتونه! تر سحر پورې
لنډ د خپلواکۍ سفر دمې ته پاتې شوي دي
ساه به نه اخلي له جيلم تر ګوادر پورې
لندن، ١٦، مۍ، ٢٠٢٠

## فکر وړۍ باز اسمان کښې!

زړه د غوښې خو پښتو مې غر سنګر دي
تاتره غونډي د حق په لاړ ولاړ شم
کله اوښکې مې کړې ويلې وسله کيږدم
تور رانجه شمه په اوښکو باندې لاړ شم
لندن، ١٥، مۍ، ٢٠٢٠

## د سرخ ولې دي ژوندي وي

د پښتون د ازادۍ د سر خولۍ شي
تل زما به يې تر کومه چې ژوندي يم
په څادر کښې به دي پټه زه ساتمه
د ږلۍ باران نه لري افريدي يم
لندن، ١٤، مۍ، ٢٠٢٠



## پښتو مې ننګ اسلام

خبره د روژې، لمونځ، د شراب او زنا نه ده
خبره د پښتون وژله، او کور تالا ګُول دي
دا مينه، د مذهب ناري دي نوري خوشي
يو ګوند پښتون بلوڅ شه ګني کول تباه کول دي
لندن، ١٤، مۍ، ٢٠٢٠

## د مينې استري

غر به اوار، کندي به ډکي، ميل د زړه صفا کړي
په مينه مينه، که استري، د چا په زړه او وهي
چې ژبه کور خوي مو يو نه وي کوراو اور به ګران شي
که پوکي ډير غرمه ماښام په تناره او وهي
لندن، ١٣، مۍ، ٢٠٢٠

## لمر او سورې

لکه د لمر د سپوږمۍ غېږې ته در ورسېږم
خو وروه نه وهم خوله شمه تش لاس راستون شم
ښاپي د زړه درزا مې، واوري ته د زړه په غوږو
لکه د سوري راپسي شي، زه د نشت نه شتون شم!
لندن، ١١، مۍ، ٢٠٢٠

## د زو کړي ورځ مي د ژړا ورځ ده

ګلي! غلطه په ادا مې نه شي
مسکا کښې ډوبه مي ژړا پټه ده
د ازادۍ کمځو کښې پټ مې کړه ته
په دي فنا کښې مې بقا پټه ده
لندن، ۱۰، مۍ، ۲۰۲۰

## د ورځ قدر

راشه چې زړه درسره اوويشمه
نن مې د مور ورځ چې زما ورځ ده
د چا به ښه د چا به بده ورځ وي
ژوند خو لتهون زما او ستا ورځ ده
لندن، ۱۰، مۍ، ۲۰۲۰

## دريم منظور ځوي ته مي

ډيره مننه بچې نن ځلمې شوم
د جم په خاوره سپيلنۍ سپرلۍ شوم
هر يو پشتين راته منظور منظور شو
له ګوادره تر امو برۍ شوم
لندن، ۱۰، مۍ، ۲۰۱۸



## خوږ وطنه در روان يم

په هيلو سره وطنه! در روان يم
ولولو يمه اغيستئ په اوسان يم
اچومه پري ځيري جم هديره کښې
په قبرونو د خوږو چې ورته ګران يم
لندن، ۱۰، مۍ، ۲۰۱۸

## په دهشت دهشت راوله

دي وبا له کړه پيدا وبا هم داسې
په خيرو او دعاګانو باندي نشي
واخله يو بدل کښې لس بيا به کار کيږي
په قلهو ژړاګانو باندي نشي
لندن، ۱۰، مۍ، ۲۰۲۰

## زما خيري درباندي وه نه لګي؟

انتظار، هجر، فغان، زور او ظلم
دا حق وئيل ليوتتوب نور غوارم
درپسي شوي د مئينانو ښيرې
له خداۍ په له کور زه په بل اور غوارم
لندن، ۹، مۍ، ۲۰۲۰

## مشغولا

کله د وروستو کله مخکې ځينې
کله لمانځنه لاندي باندي دواړه
له هره لوره مشغولا! مشغولا!
خوله ساه ډوب او ورغړاندي دواړه
لندن، ۱۰، مې، ۲۰۱۹

## ژوند مينه

ژوند لکه باز زمري ازاد خوند کوي
ژوند چې په قرض شي نو مرض جوړ شي
زه خدای جاتي، درسره مينه کوم
چې بدل غواړي څوک غرض جوړ شي
لندن، ۸، مې، ۲۰۲۰

## زمونږ انجونه په وباه کښې اوسي

مخ په پيڅکي لال په ايرو کښې پټ دي
عالم مخ ماسک په کورونام* نه اخلي!
د ازادۍ ژوند خامخا تيروي
پښتنه پيغله لال ايرو کښې پټه!
په پيڅکي عمر په وباه تيروي

*کوونا: يو وباه ده چې ښځي سړې په کښې مخ په ماسک پټوي چې د يوبل نه وائرس وباه وه نه خلي.

لندن، ۸، مې، ۲۰۲۰



## د عمل وخت دي

خبري پرېږدي اوس ملګرو د عمل وخت دي
يو يو زوړند کړي د انصاف او د بدل وخت دي
اوس به اوس وي بيا به بيا نه وي په دي ځان پوهه کړي
د اباسين د جيلم پول مورچل نيول وخت دي
لندن، ۸، مې، ۲۰۲۰

## پښتني پښتون ساتلې

زاهده! ولې به يې زړه پورې زه نه ليوه وم؟
شپه ورځ د مال کوي څارنه ښکلي ګراني زما
پښتني هر چرته چې دي زما په زړه کښې اوسي
سر په اوږو مې کوي وړنه ښکلي ګراني زما
لندن، ۷، مې، ۲۰۲۰

## په سور کمر د ازادۍ بيرغ

که راغونډ نه شوي بې شپونکي رمه به تنده وهي
په غور يې ګوره د تور مخي غوا چې لنګه شوله
د ازادۍ بيرغ مو زر په سور کمر ود روي
په جنازو قبرونو ځمکه زمونږ تنګه شوله
لندن، ٦، مې، ۲۰۲۰

## د مالي لور

مالی بابا! مي لاړ خانجی بنګلي چمن ټوکوي
مورمي جارو په لاس په مينه يې ټټې پاکوي
زه پټه اووتم، اري سره شړشمو پسي
يرېږم ځوي يې چرته را نه شي هم ما لټوي؟
لندن، ٦، می، ۲۰۱۸

## لو يې د ويني لو کړو

پيښې را وشوي چې اسلام ړانده کاڼه کړو مونږه
لو مو ګډ شوي وو زاغانو مو پټې وينه کړل
اي د زنديق پنجابۍ ځويه! ډراکولا ليو ذاته!
نن د عارف سره سره دي خپل پردي وينه کړل
لندن، ٦، می، ۲۰۲۰

## سوله کار د اشرار نه دي!

مونږ ه ډيري جرګي سولي، په ناشوني باندي وکړي
ځان تر اوسه مو پوهه نه کړو جرګي سولې د پښتو وي
اي بدبختو! سوله غواړې له اشرارو او کم ظرفو؟
دا خو کار د ميړنو وي، دا خو لار د پښتنو وي!
لندن، ٦، می، ۲۰۲۰



## زده کړه له ښه او بد نه!

زړګيه! اوباسه بړاس، ښه وايه بد او وايه!
چوپتيا ښه نه وي کله کله سم وژل کوي
ښه په چا بد که لګي، لګي دي، بد بد وي هميش
ژوند تسلسل دي د ښه بد، ښه پوهول کوي
لندن، ٥، می، ۲۰۲۰

## وطن قرباني غواړي

خوږه ارام خو اس او سپی د بادار هم کړي مدام
که راويښ نه شوي نو به نه پښتون انسان پاتي شي؟
اوچت په يو اواز، پښتو، پښتو، پښتو،خپل کور وګټه
بيا په جهان به لوي بادار ميرويس شيرخان پاتي شي
لندن، ٥، می، ۲۰۲۰

## پښتونه ويښ شه

له تاريخ زده کړه لوي هنر د خپل ښادمند پلرونو
ژرندي ګاڼي چرخي کولبي اوس فابرکي جوړي ګړه
خوار شي چي اوچت نه شه د سجدي نه جومات مه سوزه
وخت دی د زد کړي او څيړنې پوهني استانی جوړي کړه
لندن، ٤، می، ۲۰۲۰

## دغدار عارف وزیر سردار جنازه

زه یمه پتنګ د ازادۍ عالمبردار یم څکه خو غدار یم
زړه مې شولو ډک له امن امن پامته دار یم ځکه خو غدار یم
زه پښتو ناموس کور حجره کلۍ پرېښودي نه شم
نوره غلامي بې پړګۍ زیاتې زغمې نه شم
کوراور ته مې پرېږده ستاپه لار هېڅکله تلۍ نشم
نور د ناخوالي پښتو نه لري ژوند کوي نشم
خپله ازادۍ ګټل، د وینې مې حقدار یم ځکه خو غدار یم
زه یمه پتنګ د ازادۍ عالمبردار یم ځکه خو غدار یم
زه میر ویس اتل وم اریانا ویجا مې کورلرل
وم شیرشاه احمد شاهنشایت مې تر هند غورلرل
ښکلي مې پښتو مذهب او خپل انغرۍ اور لرل
مړ دي کړم اسلام په نوم نیتونه دي څه نور لرل
یمه لمبیدلی مې په وینه پاک سرداریم ځکه خو غدار یم
زه یمه پتنګ د ازادۍ عالمبردار یم ځکه خو غدار یم
لندن، ٤، مې، ۲۰۲۰

## کابله ته مو ازادۍ وساته

کابله زه یې ستا په توروو ژلم
د ازادۍ ناوي حیا وساته
چرته مولا هلته کندړ وه نه کړي
مونږ خدای له بلي کربلا وساته
لندن، ۳، مې، ۲۰۲۰



## دغه وخت د ازادۍ دي

د دعا او د ښیرو او جنازو نه شوله پاتي
اي یې پښتونه که ځان غواړي نو یو موتې شه ځان زباد کړه
بیا غر سیند بهیر قوت شه حادثي شخړي لاهو کړه
مینه امن خوشحالۍ کړه خپل غلام هیواد ازاد کړه
لندن، ۳، مې، ۲۰۲۰

## د ژوند په ګټه مرګ ته ودرېږه نن

غلامۍ لکه زیړې سره وینه څووپ کړي
مرګ ته ورځ په ورځ نزدي شي زیړ شي پېړ شي
له دي مرګ په ژوند دا ښه نه دي ظهیره؟
چې پري وکړو بلوسه شیړ یا به شنګیړ شي
لندن، ۳، مې، ۲۰۲۰

## د یو خوږ اشنا د زوکړې په ورځ

افغانستان مې زړه اخیستۍ دي د خاوري په تول
زه درکوي په پیرزوئینو شم ګلونه د ژوند
وایه چې درکړمه هغه چې څه په زړه دي راځي
د عارف مرګ خوړلۍ، در به کړم دړدونه د ژوند
لندن، ۳، مې، ۲۰۲۰

## عارف وزیر وینه به رنګ راوړي

د پښتنو غټې پښتون به ګټي
زر ازادۍ وطن لرغون به ګټي
د میرزالي او باچاخان نه پاتي
ازادي خپله په شبخون به ګټي

لندن، ۳، مۍ، ۲۰۲۰

## زما وینه ده سوغات د ازادۍ

یم نیکمرغه ازادۍ په خپله وینه لامبوزن کړم
جنازه مي کړي اوچته په اتڼ بیګل دمسو کښې
په ژړا نه په خانده مې خپلي خاوري ګور ته کوز کړي
چې مې هیر نه کړي ملګرو د حجرو په انغرو کښې

لندن، ۳، مۍ، ۲۰۲۰

## لوي افغانستان به مونږ ګټو په خپله وینه

پښتونه اوس راوینښ یې بیا اوده نه شي شا کسه
چې پاتي نه شي ورستو اوس نزدي یې خپل مقام ته
چې څومره یې دهشت د پنجابی کلانکار هومره
غوږ نه شي نور د تورو جادوګرو دي اسلام ته

لندن، ۲، مۍ، ۲۰۲۰



## سپینه مینه

توت ته بکیانه وئیل دا ګوري عادت مي نه دي
اوبه اوبه وي که دبوسو لاندي هم بهیږي
زه په چلول نه پیږم ما ته سپینه سپینه وایه
نن شپه دي زړه راسره کښېږي او که نه دي کښېږي؟

لندن، ۱، مۍ، ۲۰۲۰

## خاورو څلې مې په جم کښې

نه ولي نه پیغمبر تل افلاطون یم
پښتونواله مې کتاب زه یې پښتون یم
راشه قبر له مې دا د خدائ څولۍ ده
زه څراغ یم د پښتو پښتون ژوندون یم

لندن، ۱، مۍ، ۲۰۲۰

## On my way to Halong Bay Hanoi Vietnam

۲۹ April ۲۰۱۸ where noticed Graveyard in the middle of green fields in each lush green villages reminding me the dry Rocky Graveyard of my village Jam Teddy Bazaar of the historic Khyber Pass-Agency.
Halong Bay Hanoi Vietnam

لندن، ۲۹، اپریل، ۲۰۲۰

## خوږ اشنا

که ښکلوي مي، که توکي راباندي ستا پورې ده
يمه مئين د ښه ژوندون ستا ارزومند يمه زه
ته حق په خپله لاره، زه پښتني لاره منم
لکه د تېږې په يو ځاى پروت دروند پابند يمه زه
لندن، ۲۹، اپريل، ۲۰۲۰

## ستا ظلمونه څنګه هير کړم؟

بدل د يو يو به اخلم، چې مي وس بر شي
وزيرستان که دي په ټول افغانستان ظلمونه
خېبر تيرا خو زما کور دي هيروي يې نه شم
کور دي کړواور، څومره دي وکړل په احسان ظلمونه
لندن، ۲۸، اپريل، ۲۰۲۰

## مئين په مينه پېږي

هر څه يې زده کړل خو اوس هم جټ دي د ښځو په تول
وايي بوډا ماشوم د زړه کړي په وخت نه پوهېږي
غني بابا به پخ پخ کړي راته غوږ کښې پټوي
ظهير شډل د جم به وي په مينه ښه پوهېږي
لندن، ۲۸، اپريل، ۲۰۲۰



## چزغه؟ که مټاک؟

په خاليسي او پلوسي کښې څو فرق دومره قدري
لکه کاف تې په دله ذاک او دله ذات کښې ګوري
ظهيره! زور دي د زړه ډير، غين کښې هډوکي لټې
کرک يې پيوست کړه نور به څه ته په لاس مات کښې ګوري؟
لندن، ۲۸، اپريل، ۲۰۲۰

## ستا راتلل دي روژه ماتې اواختر

چې ته نه وي نو روژه ده، زړه له ژونده مي بدذن دي
ژوند په قرض او په قدغن دی، سمه شپه راته سحر دي
مينه نيمه پيشمني کښې، روژه ماتي ته شوه پاتې
سترګي سترګي يم بې صبره، ستا راتله زما اختر دي
لندن، ۲۸، اپريل، ۲۰۲۰

## د باړي خوږي سورکسي

انګريز کونه د باړي په اوبو ورکړه
سورکسې ته په ډير خوند به يې خوله ورکړم
د باړي په اوبو لوي، عمر مي ډير دي
ځکه نن هم په هر ښکلي خوږ نظر کړم
لندن، ۲۷، اپريل، ۲۰۲۰

## په ساه کښې ساه؟

څه ډوبه خوله وه، بې نکاح، زما نکاح یې وکړه
ساه مې ختلې، ساه نولي، جنازي ته ناست یم
هڅې یې نه دي ویلي، ښکلي مړي هم ژوندي کړي
ځکه زه مړ دربانـدي، خپلي جنازي ته ناست یم
لندن، ۲۷، اپریل، ۲۰۲۰

## کافر مسلمان

پړشمی مې ښکلي مور شوه، روژه ماتی به راښکل کړم
نه منونکي د خدایی هم، مینه خوند دي عبادت کښې
ټوله ورځ غېږه کښې ټینګه، د قران سره نه ولې
نه مرخت او نه ارام شته، سور او سار ډوب تلاوت کښې
لندن، ۲۷، اپریل، ۲۰۲۰

## تړل سپړل

کرل ریبل خوکورني تړل کړل نیم کښې پاتې
تړل چې وسپړل شي، وایه بیا چې څه به کوو؟
شپه ورځ به هیره شي یو بل کښې به ورننوځو
ژبي به وه نښلي، هر څه خوله په خوله به کوو
لندن، ۲۶، اپریل، ۲۰۲۰



## صدقه

زما یې ژوند خونه تالا کړه ټوله
وایې د سر دي صدقه او وته
ستا به را اوتي بخت پونۍ خانه!
زما خو خدای شته پري خوله اووته!
لندن، ۲۶، اپریل، ۲۰۲۰

## پښتانه به تل ودان وي

ادم حوا، کال شواروز د خدای په کور کښې هست وو
د نوح کشتۍ کښې کړه، سبا نوي افغان به راوړي
شات او شهوت زمونږ د ژوند پټې کښې خوله ژبه شول
دا اوبه خور د سړیوال کوروال ګلان به راوړي
لندن، ۲۵، اپریل، ۲۰۲۰

## زه او ته؟

زه هم ځان ته وایم زه یم، ته هم ځان ته وایه زه یم
په زه، زه، په ځای چې لرې، په یو بل کښې به مونږ لېو شو؟
زه به وایم ستا یم خاورې، ته به پښو کښې مې شې خاوري
کوم مقام ګوټ د ژوند جام دی، چې یې توې کړو دواړه لوې شو؟
لندن، ۲۵، اپریل، ۲۰۲۰

## ننني پښتنې مینه

شونډې په شونډو چې یو بل سره مونږ وتړل شو
لاس دې وي خلاس بیا د رقیب، مخې ته نه شي راتلی
ګوري دې وروستو څټ یې څه' چې خدای یې زړه هم مات کړي
چې نوک اوری شو، څوک قریب مخې ته نه شي راتلی
لندن، ۲۵، اپریل، ۲۰۲۰

## د ژوند تله

چې له کومې تېر شي هېر شي، اوبه تېرې نه راګرځي
ورخ کړه ټینګ د اوبه خوړ، بیا اوبه درنه وا نه وړي؟
ښه چې یاد کړي زړه به ښه کړي، د بد یاد وي ډېر زړه سواندي
د ژوند تله نه بدلېږي، بد به بد، او ښه به ښه وړي
لندن، ۲۵، اپریل، ۲۰۲۰

## وړوکی لوې زړه!

زړه مې ساده ماشوم بس تش په یو مسکا یې تېر کړي
خو دا غټې له هلو ځلو خزان نه یرېږي
لوئي یې دا چې ټول جهان یې په یو تل کښې پروت دی
خو ته یې مینځ کښې، شوا روز درنه باورا څرخېږي
لندن، ۲۵، اپریل، ۲۰۲۰



## د پښتنې پیڅکې ماسک

اته ځل لاس وینځمه چرته کرونا راتلی شي؟
پیڅکی، څادر، او لوپټه ماسک په نخرو اخلمه
خوله به کړم پټه په روژه کښې، سترګې نه پټوم
چې زړه مې وه‌شي نو ستا خوله په اشارو اخلمه
لندن، ۲۵، اپریل، ۲۰۲۰

## ړنده مینه

پښتون سخت زړي، زړه ایندکې له ورکړو
اوس دې تور زړي، ښې سرې تودې خوري
په زړه باچا، په زړه چینجن پکیر شو
زړه ډار، رنځور شو اوس کمبخت چڼې خوري
لندن، ۲٤، اپریل ، ۲۰۲۰

## کرونا روژه روژه ماتی

د کرونې، نن شپې روژي، انتظار عمر نه کړي؟
دا لېونتوب دي جوړې لږ دی درنه نور غواړم
په زړبودی کښې دې ځلمې کړم ګورې چل وه نه کړې!
چې غېږه خوله په روژه ماتي شي څه نور غواړم؟
لندن، ۲۳، اپریل، ۲۰۲۰

که ته راباندي زه درباندي کومه غټه پښتو، دي دغه د کور خبري؟
چې کړو وروکی چوپ، زرتښت پیدا ، نو بیا به دغه مینه او پښتو خوږه وي
زه به رانځېه لاندي په مینه نینوم،ته بې هډوکی څوپه،شپیله خو چې تېر یې نه شي!
شونډې خوږې د پښتنو د یوسفزو، منې به ژبه هم د ښکلو افریدو خوږه وي!
لندن، ۲۳، اپريل، ۲۰۲۰

## مينه په لوي او په واړه نه ده

زه پـه تـا بانـدي مئـين، تـه پـه مـا بانـدي مئينـه
لوبـه ده د لـوي، وړوکـي، ګـوره څـوک بـه يـې ګټينـه
تـه بـه بيـا مالـه ژوند راکـړې، زه بـه تـا وړه کـوکۍ کـړم
د واړه، زاړه دا فـرق بـه، زمـونږ مينـه وركوينـه
لندن، ۲۱، اپريل، ۲۰۲۰

## د جينکو لښکر به ګټه وړي!

روژه، اوربنـد، درخـانۍ ناسـته منـداڼوتـه ورکـه
اختـر تـه را بـه شـي کـه نـه، تـا يـادوي لاليـه؟
کـه ځنـاور تـورمـخ تـور زړې اور بنـد وه نـه منـي
د جينکـو د اور لښـکر بـه ګټـه وړي لاليـه!
لندن، ۲۰، اپريل، ۲۰۲۰



## قرنطينه په سپرلي کښې

کـه مـې وينـه، خونـد د ژبـې، وه څـوپې دغـه ترياق دي
کورونـا ظلـم وهلـې روغ، د هـر رنځـور شـفا يـم
زه څملم مخ پاس اسمان ته، ته مې ځمکې ته مخ وکړه
سـر د ژبـې پـه سـر کېـږده' تـه لګيـا' پـه خونـد لګيـا يـم
لندن، ۲۰، اپريل، ۲۰۲۰

## منظور پاشتين پسي ودرېږي پښتون

نـه مـونږ امـام، تالـب، مفتـی د سـعودی منـو نـور
نـه غلامـی د پنجـابی او د حزبـی منـو نـور
مـونږ پښـتانه دئيـز، لـوي جمهوريـت ملګـري
کـه تـراوي، روژي وي، هـم يـې منظـوري منـو نـور
لندن، ۲۰، اپريل، ۲۰۲۰

## ګلونه نه ، ورکړي پښتو لاسونه

پـه دې ګلونـو نـه شـي اور پـه پنجـابي وشـينده
پښـتون غميـه! پـټ ايـروکښـې، غلامـي وشـينده
دا علامـې دې د قـدرت، د خپلـواکۍ اخېسـتو
پـه کـور د ظلـم اسـتبداد دوزخ ګرمـي وشـينده
لندن، ۲۰، اپريل، ۲۰۲۰

## وړوکی خپله کوه

زما وړوکی وینې نه، ستا نه دی ډېر وړوکی
چې ترینه تمه ګورې ته د سرېتوب وه نه کړې
ډېر ورته وایه چې کندوکي کښې خو خپله کوي
هم ستا په خوله یې کوي غم د پېغلتوب وه نه کړې
لندن، ۱۹، اپریل، ۲۰۲۰

## سترګه را او وهه

چې دا تا وه، او، که تا وه، چې، چا چا سترګه را وو وه
لونګین رنګین مې ورځ کړه، نا ګهاسترګه را وو وه
مخ دې، واړوه، راواړ وه، د مسکا سترګه را وو وه
یو ځل نه خدای شته چې خوند کوي بیا بیا سترګه را وو وه
لندن، ۱۹، اپریل، ۲۰۲۰

## پردي جنت دوزخ زندان

چې تر څو وانه خلم ساه افغانستان کښې
تر هغې به وم غلام بندي زندان کښې
که جنت هم شي غلام زندان زندان وي
خپل دوزخ ښه له پردي جنت نشان کښې
لندن، ۱۸، اپریل، ۲۰۲۰



## چې جهان وي تل به افغان وي

که یو کېدی که یو پردی خو پښتني تر اوسه
شته ګودر غاړه کښې ځلمي پیغلې منګي تر اوسه
خپل به وو تل به وو دنیا چې وي نو مونږ به هم وو
هم دا ټپې خو زبادوي چې یو ژوندي تر اوسه
لندن، ۱۸، اپریل، ۲۰۲۰

## کورونا ته کري وایه جدایي ده

ته په خوله مې تهرماستېټ کړه، زه به ژبه په لاواه کړم
نو بیا ګوره کوریني ته، چې ډکېږي به تشېږي
جدایی له وبا راشه، مونږ یې هڅې په لړزان کړو
داسې خوله په خوله مونږ ښه یو، شپه دې ولې سبا کېږي؟
لندن، ۱۷، اپریل، ۲۰۲۰

## د وریتي لوګي درمل

یمه شر غر، توري ټوخلي، کورونا وهلی
راځه وبا بریښ په وریتو لوګو ریښتیا تباه کړو
زه درته اور به بل کړم ته پوکی په مینه ورکړه
دا یې ده موخه د رقیب شېطان دنیا تباه کړو
لندن، ۱۷، اپریل، ۲۰۲۰

## هنرمند اشنا

څه هنر منده ستا له! پوه مي ښه د زړه په رنځ يې
په مينه مينه، د شلېدلي زړه مي ستل کوې ته
ظهيره! ته هم د شېطاني سر، سم اوارګډېږې
مړښت دي نشته، بس ختل او کوزېدل کوې ته

لندن، ۱۵، اپريل، ۲۰۲۰

## دوه تني يو ځان

روان اشنا پسې تورخم ته ډار د مزيو نشته
چې څومره زور ورکوي، دومره ورله اور ورکوې
د عيسی خان لوريې سم مړيو ته هم ساه ورکوې
ظهير اوچت دي کړو له ګوره ورله کور ورکوې

لندن، ۱۵، اپريل، ۲۰۲۰

## ښاپيرک به خدای درلېږي

تاسي غشي که راوولی دجال تور پاکستان
دا به جوړ شي ابابيل سترګي زړه به مو وشپيلي
اي د خرو ذاته توره! د رنځور مور خبر واخله
ته نشه يې په کلدارو، جوارګر تل لوبه بيبلي

لندن، ۱۵، اپريل، ۲۰۲۰



## د مشال ژوندي سنګسارول

## Mashal Lynch Mobbed Killing

خودي، پښتو، او خود خوپاتې بې وسي دومره شوه
زمونږ په وينه د زردار خونه ودانه شوله
ظلم يې څه کړي ناروا په لوي جمهوه شوله
د لوي مشال په شهادت دنيا ويرانه شوله

لندن، ۱۵، اپريل، ۲۰۱۷

## چې اوبو ته وايې پانې

چې له خپلې خاورې نه وي زېږېدلي
درته وايې به ما اخله نه مور خاوره
خپل به نه کړي چې اوبه ته وايې پانې
داخبره مې په دواړو غوږو واوره

لندن، ١٤، اپريل، ۲۰۲۰

## ارمان ارمان ارمان

لنډه، چيته، پړپېزنه دې وي، خره وي
دا ارمان مې، پښتنه چې راسره وي
ځان يواځې زه ګڼمه، ډېرو شتوکښې
که پوره مې دا ارمان شي شته به شته وي

لندن، ١٤، اپريل، ۲۰۲۰

## پښتني درملي

پېغلي ځلمي لګيا په وينو نن پښتون روغوو
د مينې امن درملنې او درملتون روغوو
نور په جنت او جهاد نه‌شي ودانۍ باندې شي
په پوخ بنياد د خپلواکۍ د ژوند ستون روغوو

لندن، ١٤، اپريل، ٢٠٢٠

## د سرو وينو ډيوي

مونږ د مشال، نقيب، ارمان او فرخنده، هم قنديل
په پاکو سرو وينو، تيرو کښې چراغان بلوو
د خاوري هره يو چونډۍ، لکه د مالګې څکو
د خپلواکۍ د تلوسو پرې هر ارمان بلوو

لندن، ١٤، اپريل، ٢٠٢٠

## د ژوند ځار؟

خدای، اشم او اهوره مې، دې منلې توره تيره هم اسود
زه يې اوس په بل بل رنګ هم، شامدام په ما او تا کښې لټومه
کله ما خوښ، کله تا کړم، کله ورک شم په لټون کښې لاړ غلطه!
نه موندونکې زما ځار دې، چې دې خومره لټوم، دومره بابلمه؟

لندن، ١٣، اپريل، ٢٠٢٠



## ګواښ

پرون کلار نه شوه، اخر يې راته رو شان وويل
ملا مې تخنيکي زړه مې کېږي، ګره ول زه غواړمه
اول مې غوږ کوڼ کړو خو بيا په نزاکت مې وويل
زړه زما هم کېږي، کورونا د اجل نه غواړمه

لندن، ١٢، اپريل، ٢٠٢٠

## خپلواکي او انقلاب

وينه کور خاوره ساتل، مينه امن دي ګټل
ظلم جبر ماتول، مينه امن دي ساتل
خوب ارام حرامول، لوږه، تنده هم زغمل
ځان په خاوره دي وژل، لر او بر را يو کول
حجره کور پښتو، پښتون، ځان ورکول دا جوړول
خپله وينه ورکول، مينه امن دي ګټل
دې ته وايي انقلاب، دې ته وايي انقلاب
راروان دي ستا په سر، دا کتاب دی دا ثواب

لندن، ١٢، اپريل، ٢٠٢٠

## شېطان او دهشتګرد

حافظ زما غوندي مئين وو په مينا او ميو
هغه شيطان او دهشتګرد او ترهګر نه وه
هغه ته ځان په نيمه شپه به په سجدو راتللو
هغه اتل مرد مردان، ملا نامرد نه وو

لندن، ١٠، اپريل، ٢٠٢٠

## ته پيغامبره زه پيغامبر

ته پيغامبره، زه پيغامبر، ته معتبره، زه معتبر
زمونږ تبليغ د امن مينى، يو لوي افغان که لر اوبر
امو دريا نه، تر اباسينه، نه پهاور ګاډي، نه الوتکه
پاڅون په اوښ سپور، نه زور او ظلم، نه ډرون، بمونه، توپي چودونه
نه د رخنهګرو دهشتګردۍ ته، تورو زاغانو وحشت ګردۍ ته
خداۍ رالېږلى، اوده جاهل ته،
شپونکۍ زرتشت امسا په لاس،
بيا ور په ياد کړو، بيا يې رازباد کړو،
ښاد بامراد کړو، وارث بيا زريې د خپل جائېداد کړو
حجرې ابادې بيا په جرګو کړو
بيا يې د هر رنځ اولس روغتون کړو،
جومات حجرې، او پوهنتون کړو
د ځلمو پيغلو خوږ پېوستون کړو
په ارام نهشي پښتون به مونږه،
په يکه ځاريې راويښونه،
راټولوونه، بيا هيولا ته، لر بر جهان بيا يو کوونه
دا مو بلنه ده پاک الله ته، بيا امن مينه زر راولونه
دا مو بلنه ده پاک الله ته، بيا امن مينه زر راولونه



## پيغامبره پيغامبر

ته پيغامبره، زه پيغامبر،
ته معتبره زه ستا په سر
لنډۍ رالنده، په ما سوره شه،
وريښمين ربړينه اوږده اوږده شه
له اوږده شه، شه برابر!،
زه به ايسپ شم، ته مي شيبا شه
ګل مکۍ مينه، سره زوليخا شه،
ګبين ګبين شه پسته خوږه شه
ام د ملتان شه، چې دې ښه خوپ کړم
کوواټ امروت شه، سوړ په تا دوپ کړم
ټوله دي وهخورم، له کومي کوپ کړم
بوتل شراب، سره دې سووپ کړم
زه هم کيله يم، د هريچال
مړښت پرې نشته لکه د ام
ښه يې راتش کړه، بې احتمال
چې کړم غلط پرې د زړه مې دم
د لاليپاپ خوږ دروند ورزش دۍ
ژامې غاښونو زړه لوند ورزش دۍ
زما او ستا د روغ صحت
دا عبادت، جنت، دولت
راشه چې پوهه کړو دا بد خصلت
راشه چې پوهه کړو دا بد خصلت

## زه څښتن یم د لوي افغانستان

سرګډ به زرتشت، ابرم، موسی، ښی، ګځ، زما لاسونه
قافله مو شوه ورتېره له خیبره، پېښوره، اباسین تر مارګلي نه
شنې ته سنګاوڼ کشتی مو خپله، شولوګړه،
د جیلم په برهغاړه د هوا رخ ته مو سترګي،
که په امن نه شي، جوړ به شو حملي ته
لندن، ۸، اپریل، ۲۰۲۰

## دا د پسرلي وبا نفرت به محبت جوړ کړي

راغلو خوږ سپرلی باورا لېوال پرښې ورمې پسې
پیغلي ځلمي ورک یو بل کښې ښکلي اندیښني پسې
ورک که جنګ، نفرت کړي کورونا، بیا به یو پینه شي
ټوله پښتونخوا، افغانستان به مینه مینه شي
لندن، ۷، اپریل، ۲۰۲۰

## د خطر علامي

لیونی رانه خپه شوه، خدای دي خیر کړي
سم مچی شوه، تکه سره شوه خدای دي خیر کړي
لا مې لاس ور وړی نه وو، لکه اور شوه
اوبه نشته سره لمبه شوه، خدای دي خیر کړي
لندن، ٦، اپریل، ۲۰۲۰



## نیا ته لمسی چل ښایي؟

دلوړ خپېر د مورګو پړانګ په سر کارغانو واخست!
په چینګو داړو ورته چل په غره ختل ښایي
نن زیرپاپړ زما مریی، ماته مړانه ښایي؟
عجیبه نه ده لمسی نیا ته د غوچل ښایي؟
لندن، ۵، اپریل، ۲۰۲۰

## بدل په نره په پښتو واخلی

په دعاګانو نه شي هسک شه خپل وطن وګټه
یا به خپلواک شی او یا ځان له سپین کفن وګټه
هم ستا په متهو هم مزغو سترګو کښې ژوند وینمه
ګلان پرېږده د ډیورنډ لاڼن دې تار ازغن وګټه
لندن، ٤، اپریل، ۲۰۲۰

## د بوساړې غوئیجل ساده مینه

څه د اشر، غوبل ته چل خپل نیا نیکه ته ښایې؟
شوملي شړومبلی نه شي، واي چې اوړه مې واخله؟
ظهیر! به کله هم منت درته د خولې وه نه کړي
چې تر څو تا ورته وئیلي نه وي خوله مې واخله
لندن، ۳، اپریل، ۲۰۲۰

## حجره اړتیا

دا د زرتښت نیکه حجرې مې د ارشیف زینت دی
تاریخي ویاړ مې، خو عمل نن، اهومي په کار دی
د شرق او غرب سره سپوږمۍ مریخ ته تلل دي لازم
که بیا ناوخت شو، نو لاهو به شو، وختي په کار دی

لندن، ۳، اپریل، ۲۰۲۰

## د جدای وحشت

څه عجیبه غوندې وحشت راغلی
زه نه په سیوري نه په لمر خوشحال یم
دغه وحشت د جدایی وحشت دی
شوم لېونی او در په در خوشحال یم

لندن، ۳، اپریل، ۲۰۲۰

## د کړو سزا اومنه

نه په خیرات، او صدقو بچېږي
که ته بچېږې په رېښتیا بچېږي
ظلم قتلونه چې تا کړي څومره
بخښنه وه غواړه نو بیا بچېږي

لندن، ۲، اپریل، ۲۰۲۰



## د یو آفریدی قبائیل

ډاډ داد او یاد تول قبائیل ته
نن مې واورئ قبائیل درنو مشرانو
ځان ښه پوه کړئ اې ملګرو ملکانو
نه لونګۍ پټکۍ ماجب پرمټ پښتو ده
ګورنر پې اي هم یره له خاصه ؤ
کړاني توری بنګش وزیر مسیت یو
باور مه کړې د پنجاب په شرمخانو
زما ورور ګلی شاه خان، اختر منیر ځوي
کړل ګولۍ ګولۍ تورمخیو پنجابیانو
هم خیبر کونړ سوات باجوړ رنګ شول
جنت کرمه یې توتې کړه ظالمانو
زما لور ملالې ښکلې مخ یې بیل کړو
کښې ځوي شهید کړو چنګېزانو APS اي پی ایس
د حسن حسین منصور په لار مشال
د پښه غوندې حلال کړو شیطانانو
خپلې ښځې او سرې ورک چې هېر نه کړې
انغري حجرې جوماټ وران په بمانو
نن پښتون که لر او بر دی په غورځنګ ده
په اتڼ ورسره اوځی لوي غازیانو
لوي لښکرې له هرلوري پرې خورې کړی
الوتکي توغندي ډرون نر ځوانانو
په پاپړ یزید خارج لوړ اوچت کړی

باور مه کړې په کمین او دلګانو
بربادي مرګ ژوبله نه دي هیریدونکي
نور دوه ورونو مینځ کښې مه راځئ ټګانو
محمد ص، علی رض دوه ورونه بیا یو ځای کړئ
سره بیا پښندې ته کښېنئ افغانانو
ګوادر آمو به دواړه سلامي شي
د پښتون حجره جومات به پري خوندي شي

لندن، ۳، اپریل، ۲۰۱۸

## لغړه ونه

ستا د زېږدون په بختوره ورځې
مینې لغړه ونه تانده کړله
لغړه ونه د بیخې را یاد شوه
تنده زما یې ځلبلانده کړله

لندن، ۳، اپریل، ۲۰۱۸

## کورونا وبا

کورونا وبا، وفا به وه ګرځېږي
دوه پرکوټ زړونه چې بیا را یو ځای کېږي
علامې د پسرلي غوړاځکي شنه شوو
باور، ګل، لغړې ونې زرغونېږي

لندن، ۲، اپریل، ۲۰۲۰



## کاشکي ته که راسره وې!

ورکې تنې مه غواړه له مانه جدایي ده نو،
ما چې غولولې شوې ګرېوانه درد به چرته وې
قتل، وینه، ژوبله د زړه کور مې شو ټوټې ټوټې
ته که راسره وې اې احسانه درد به چرته وي

لندن، ۳۱، مارچ، ۲۰۱۸

د زړه غوټوکي ته د زېږدون مبارکي
د نوروز اختر سره ستا، نن زېږدون دي زه لمانځمه
اې زما د زړه غوټوکي! د زړه تل کښې دي ساتمه
رانږدې شه چې دې ښکل کړم، پیرزئیني دې پوره کړم
څه په زړه چې دې هغه زه، نن په مینه درکومه

لندن، ۲۹، مارچ، ۲۰۲۰

## اې اجمله زما ځان وې

نن بچې د سمد خان نن لښکر د باچاخان
د بر وینه، لر غېرت، د پښتین د میرزاخان
نور بېلتون غلام ژوندون، خپلواکي غواړي افغان
له امو تر مارګلې بیا روغوو افغانستان
اې اجمله! دا مو ژمنه، ژوند جهاد د لوی افغان دی
ځلمې پېغلې راغونډ شوي په اتڼ سر هم احسان دی

لندن، ۲۸، مارچ، ۲۰۲۰

## د خپلي خاوري مينه

په يو ساعت کښې سترګې وغړېږي بيا پټې شي
مينځ کښې يې مينه ده، لټون دی، ځکه زه يم مئين
ظهيره! اوس هم لاماشوم يې په دې نه پوهېږې
خاورې له ژوند مينه دې ورکړه واي نه يم مئين
لندن، ۲۸، مارچ، ۲۰۲۰

## بنديخانه خپله حجره وګڼه

چې يره وه نه کړې د تور له بنده
بنديوانۍ کښې ازادي پټه ده
د خپلواکۍ کور دې سمسور اوسه تل
دې کښې پښتو پښتون ولي پټه ده
لندن، ۲۸، مارچ، ۲۰۲۰

## مينه دوا وبا

يواځې کټ کښې شونډې ستا شونډو کښې ګنده کړمه
بالښت راټينګ کړمه سينو ته ترې تاو ستا واخلم
يم بريښ نيولی، کرونا، جلا، خولې خولې کړم
مينه درمل، حل د وبا، ستا نه بلا واخلم!
لندن، ۲۸، مارچ، ۲۰۲۰



## زه او ته؟

ته که ښکلي لکه ګل د ځو نيټو يې
ابدي ښکلی زه درونډ په رېښتوتيا يم
خواست چې وه نه غواړي ما نه دا مې مرګ دي
پيدا کړې خدای، هم ځيګ پښتون باچا يم
لندن، ۲۷، مارچ، ۲۰۲۰

## کابل او پېښور يو دی

خدای شته چې زه دې زړه غونی اوښکې اوښکې کړمه
جوړ د بقا په تمه ستا سترګو کښې نم نه راځي
کابل تورخم د پېښور کېسه خوانی به يو وي
مغل پينځوب به ورک شي واړه به نور غم نه راځي
لندن، ۲۷، مارچ، ۲۰۱۸

## ارمان دي پوره کښېږي

نارانه! د جنت حورې ارمان دې پوره کښېږي
دا وخت دي که جنت ته ځې ورځه خانه کعبې ته
کورونا، ټرپ، سعود ته وکړه ډېرې دعاګاني
نزدې به دې کالبوت کړي زر د مرګ اتشکدې ته
لندن، ۲۶، مارچ، ۲۰۲۰

## سحر اختر دي ګراني ښکلي غواړم

نوروز اوونۍ ده ستا اختر ښکلی شه
هره نېټه دې د اختر ښکلی شه
اې د زړه مینې اې غوټۍ د چمن!
زړه مې روښان کړه ستا نظر ښکلی شه
لندن، ٢٦، مارچ، ۲۰۲۰

## ابرم* پښتین اوس خپل برم ته نزدې

اې ایرسي، په رشپتونو دې غاښونه تور شول
تینګ یې شه دړد ته اینج اپیم باندې اوس کار نه کېږي
د نوي کول منظور پاشتین د انصاف ټنګ ته تینګ شه
حق د زرګونو کالو غواړي، بله لار نه کېږي
*ابرم د ابراهیم ع پښتني نوم دی او برم یې مملکت دي

## قرباني غواړي انصاف

که غالب، وو په مغل، جالب په ضیا وو
وو ریښتیا دوزخ جنت، خدای برملا وو
په خواست نه شي انصاف لار د شهادت ده
که حسین، منصور، مشال وو په ریښتیا وو
لندن، ٢٦، مارچ، ۲۰۱۸



## مې نه ګټوره

باران خو څه کړې چې ستا یاد غښړ کښې سپرلي راوړل ټول
دواړه یې مونږ د ګلو مینې په سیلاب پټه کړو
وختونه څومره چې زمونږ د جدایۍ کمخت کړي
خو مینې پاکې د دیدن په لوې په ثواب پټه کړو
لندن، ۲۵، مارچ، ۲۰۲۰

## ماشوم ته دعا

مینه توده دې سم چکونه لګوي د ژمي
خو چې سړه شي لکه اوړی ژوند خوله شي
سبق د مینې ژوند مې زده کړو له ماشومې ځینې
ورته دعا مې ده چې ژوند یې ټل ښادي نغمه شي
لندن، ۲۵، مارچ، ۲۰۱۸

## د نادان په لور مئین شوم

زه د نادان په لور مئین شوم خدایه خیر کړي راته
جوړي په مینه کښې هم دا ترهګري نه پرېږدي
لایې تر اوسه نه په دین نه په ایمان پوهه شومه
سم د پنځوب له ذاته ده خپل او پردي نه پرېږدي
لندن، ۲۵، مارچ، ۲۰۱۷

## ورته شپیلۍ او که ډوپړۍ او وهم؟

د اسرافیل شپیلۍ تر اوسه لا سود منه نه شوه
اوده پښتون له خدایه کومه یوه شپیلۍ ووهم؟
لوډسپیکرو اوازونو یې تندي خاوري کړل
زه ورته کومه یو ټپه وکړم دوپړۍ اووهم؟

لندن، ۲۵، مارچ، ۲۰۱۷

## ښکلې نظر لرې ته!

ته آئینه یې خپل ځان نه وینې، یې ښکلې ځومره!
زه تا کښې ځان ته چې وه ګورم د سیالۍ ښکلې یم
ښکلو ته هرڅه هر څه ځکه زما ښکلې ښکاري
زما زړه پورې ښکلې، زه چې افریدی ښکلې یم

لندن، ۲۵، مارچ، ۲۰۱۸

## هلک جینۍ او مینه

جینۍ هلک د زړه په تل کښې بند کړه
نفرت بې مینې نړېدلې نه شي
چې ساه او شونډي سره یو ځای نه کړو
د بېتون لاري لنډېدلې نه شي

لندن، ۲۵، مارچ، ۲۰۱۸



## له امو تر ګوادره

له امو تر ګوادره، مارګلي، مري، خېبره
چې زه نه وم رسېدلی نو ستا ځوي به نه یم موري!
نه جومات نه قبر غوارم،خوار مارغان دې په ما موړ شي
چې یو ځل د کبر جبر کپرۍ کړمه نسکورې

لندن، ۲۵، مارچ، ۲۰۱۸

## دغه سوله د افغان بې پړدګي ده

دا سوله ده، بې نوله او بې توله، تله توله ده
قبوله شه هغوي ته چې بس مور ورباندي بوره ده
زه یم افغان پښتون د دغي سولې نوم توهین ګڼم
بې پته نه، په سر کفن، نن هم لاس کښې مې توره ده

لندن، ۲۳، مارچ، ۲۰۲۰

## اوږده درنه شپه

ځادر د سترګو مې پرې واچولو
د زړه برستن کښې مې توده پټه کړه
رانه غله زغم او زه پښتو یواځې
د هجر شپه درنه مې سره پټه کړه

لندن، ۲۳، مارچ، ۲۰۲۰

## د وطن مينه

د اشنا مينه هم د خداې له مينې کمه نه ده
خو خدای شته، بوي د جم د خاوري غرسنۍ کړمه زه
جنت خداې شراب، شباب به ترې نه ځار کړمه زه
د وطن مينې ليونۍ له ځان پردۍ کړمه زه
لندن، ۲۳، مارچ، ۲۰۱۸

## پښتو مې شل کړه

ډېره په مينه د مور، تي، په الهو مې شل کړه
د ژوند تکل لارې ګودري په خوارو مې شل کړه
نه مې په جم، نه پېښور، لاهور، لندن کښې پرېښوه
شکر ډېر شکر چې د پلار نيکه پښتو مې شل کړه
لندن، ۲۳، مارچ، ۲۰۱۸

## د مرګ تمغه

اختر منير او زما ځان ګلی شاه خان يې مړه کړل
کره کره د پښتون مرګ ته اشارې ورکوي
څه عجيبه ده تماشه، زه نه پوهېږمه پرې؟
اول يې وه وژني او بيا ورله تمغې ورکوي!
لندن، ۲۳، مارچ، ۲۰۱۸



## خوند په خطر کښې وينم

سينه سنګر زور ګير ګولۍ ته ټينګه نيغه نيسم
دمه ټنل کښې د خطر هم بې له ډاره کوم
چې پېرزوئينې مې د مور ستا ويښ ثارنه کوي
نو بيا به ولې يره زه مشال له داره کوم؟
لندن، ۲۲، مارچ، ۲۰۲۰

## نوروز

د نوروز ورځ هره نېټه کافره
ده ډېره مسته شپه سړه کافره
بنګړه اتڼ تياره ډيوه کافره
دا تله راتله ناسته حجره کافره
دي هر هلک جينۍ، هوا کافره
اتڼ کافر، کلۍ، حجره کافره
سندره کفر دی ټپه کافره
ده يکه ځار قربان ټپه کافره
د بنګړو شړنګ جينۍ لمبه کافره
هلکه ستا په سر شمله کافره
سبا به واوری که خله خلاصه نه کړه
پښتون کافر دي پښتونخوا کافره
وريته لړيلي شنه قهوه کافره
اتڼ د ښځو او سړو هر لوري

خوراک څښاک هره مزه کافره
دغه تریل، گلی ډنډه کافره
د یخنۍ زړه مات شینښایي خوره شوه
غوټۍ شوي گل نوي وږمه کافره
د حق انصاف امن خبري کښېږي
د ماشومانو مدرسه کافره
نکریزي لاس ښپي او په زنه تندي
د جینکۍ سره لوپټه کافره
په الله هو شي، الله اکبر الله هو
ده جنتي پښتو درنه کافره
پښتو کافره او ټپه کافره
وایه یو بله هم خوږه کافره
کافر نوروز په دې کافره ورځي!
د میو خوند ښکلي پیاله کافره
هغه چې ما گڼی بې رو گودره
لور یې ولله چې ده پسته کافره
ظهیره نن سبا ته مه پرېږده
نن یې سینې او خوله خوږه کافره

لندن، ۲۳، مارچ، ۲۰۱۸

زمونږ تکل عمل او زیار سیکولرازم راوړل
د نادانانو له پنجري، ترهگرۍ نه وتل
ښځي سړي یو والی، تگ د نوي دور کول
په ویښ بازار کښې خرڅ زمونږه خوئیندي ساتل
کاروباران یې وډ پېره، چودریان، خانان دلالان
د پنجابیانو حاکمانو او زردارانو ظلم



د نوي درو د تهذیب د دلالانو ظلم
هم د مغرب، سعود، مولاو تالبانو ظلم
زما تنکي تنکي بچي بې وخت جنت ته لېږي
او خپل بچي لندن پیرس کښې عیش عشرت ته لېږي
زمونږ حلال نوروز، رباب، ته دوي حرام وایي
هلک جینۍ ته په جومات کښې پټ سلام وایي
واخله ترې خوند د لېونتوب گډا، شنا ورځې دي
د ځلمېتوب او پېغلتوب، ښکلي خندا ورځې دي
مونږ په حجرو، چکلو، کلبونو کښې سندري واورو
سپرلی، مینا، او محبوبا سره بدلي واورو
زاړه فکرونه مسلکونه له جوماتو ورک کړو
هم پوډریان، سړي خواره، ډک له پساتو ورک کړو
پېغلي ځلمي اتلان د امن سور بېرغ اوچت کړو
د لر او بر د یو افغان یو والي ژغ اوچت کړو
بیا د زرتشت، خوشحال، رومی، به مونږ سندرې وایو
بیا ترانې د جمهوریت انصاف به سترې وایو
پیغام د امن، مینې ټول په خوشحالۍ به لمانځو
نوروز سپرلی، غاړه غتۍ، نن په نړۍ به لمانځو

لندن، ۲۲، مارچ، ۲۰۱۷

## زما مینه لا ده تانده

کال خو څه کړې انتظار به عمر وکړم
چې کړم تانده ستا د زړه د چمن خونه
اې محبوبې! امتحان خو زما واخله!
ونه کړم په مینه وینه به زرغونه
لندن، ۲۱، مارچ، ۲۰۲۰

## خواست که وصیت؟

په ډېرو ډېرو، څپو څپو به مینه درکړم خو پښتونه
مینه څه ایمان مې واخله، جوارګر په سودا نه یم
چې شم مړ ژړا به نه کړې، د شرابو غسل راکړه
په خندا خندا مې ښخ کړه، زه سړی د ژړا نه یم
لندن، ۲۱، مارچ، ۲۰۲۰

### کوچۍ ګډې خرومه

د زرتشت په لار روان یمه افغان یم
زه کوچۍ بچۍ یم ګډې خرومه
له امو تر مارګلې زما ورشو ده
نن غلام غونډې زه عمر تېرومه
لندن، ۲۱، مارچ، ۲۰۱۸



## اراده ده لویه ګټه بخت پوهی شي!

چې دوه زړونه سره یو شي مینه وا شي
چې دوه ښکلي سره یو شي نو ښکلا شي
جنګیالی په اس سوره شي لوبه دا ده!
نوره منډه شي په تنده دا ریښتیا دي
لندن، ۲۰، مارچ، ۲۰۲۰

## خواست نه بدل واخله

په خواست د سولې په خبرو نه شي
واخله بدل بیا نر پښتون راوله
ورته بیر ځان لکه پړانګ جوړ کړه
په ټول پنجاب باندې لړزون راوله
لندن، ۱۹، مارچ، ۲۰۲۰

## زړه وکه

چې څومره زړه نه کوي زړه به کوی
زړه پورې! زړه جوړول ستا زړه پورې دی
زړه سواندې زړه مرض دروه لګېدو
زړه ولې خوري دا خو ستا کړه پورې دي
لندن، ۱۹، مارچ، ۲۰۲۰

## مینه مینه ده!

بیا یې بابښو ته ویلې؟
باز چرته بیا درنه ور نه ورز مه؟
کوکۍ په تلو او هم راتلو راکړه
چې څومره مینه ته د ځان سره کړي
چوکۍ لېر ماله هم باخو راکړو
لندن، ۱۹، مارچ، ۲۰۱۸

## دا مازغه د خوړو نه دي

دي وړوکي ککرۍ کښې کائینات مې راغونډ کړي
خو بیا هم لکه د باز په ثرخونو هیولاکښې
دا کتاب د لوې زرتشت، د بودها ، موسی، مخبز
ډکه شوې ده اوس دومره، ننوتې په هر چا کښې
لندن، ۱۹، مارچ، ۲۰۲۰

## د ښځي زور

ته د خپل زور ځینې خبره نه یې!
ظالمې! ولې یې په غته وولې
ستا بې رخۍ خو زما بیخ وه ویستو
اوس یې هم هغسې په ثمته وولې
لندن، ۱۸، مارچ، ۲۰۲۰



## د ګل مکۍ تکل

زما مینا ګل مکۍ به ډېر زر ګل شي
سرې وربمې د ازادۍ به یې خورې شي
امن مینه سکالي به غاړه راکړي
په هر لوري به نوروز ورځې به ښې شي
لندن، ۱۸، مارچ، ۲۰۱۸

## په تیرو او رڼا نه په ریښتونتیا یم

د تیرو نه زه راوتۍ، په رڼا کښې یم لوي شوي
د خونخوار تیرو نه تیر یم، تندرونو یم وهلۍ
اې محبوبې! له ما تمه، تر هغې د مینې مه کړه
چې تر څو پښتون په بام، د خپلواکۍ نه وي ختلۍ
لندن، ۱۸، مارچ، ۲۰۲۰

## د ګنده بوټو د ویستو وخت دي

که ضیا ، بوش، او کرزۍ وو خراړي لاړې
شپه او ورځ په ټپلیوژن ژامې وازې
نه کرونا ، دق او ایډز، ورنزدې کېږې
په ګنده بوټي سپۍ هم نه کړي متیازي
لندن، ۱۵، مارچ، ۲۰۲۰

## لونګينه شپه

باران ورېږي نشهينه شپه
پينځې اوچتې کړه پليتي نه شي
ټکور په مينه درکوم شونډو له دې
چې دې غولينځي چرته چيتې نه شي

لندن، ۱۵، مارچ، ۲۰۲۰

## د غني ورځ لوي پښتون له بختوره

غني خانه! خوند د بهنګ له جن نه تېز وو
لراو بر پېغلو ځلمو ستا غاړ اوچت کړو
د پښتون پاڅون غورځنګ سم سونامی شوه
بي ننګي يې نن بدل په پښتو پت کړو

لندن، ۱۵، مارچ، ۲۰۱۸

## پيرزوئينې

دواړه لاسونه مې په زړه ايښي دي وه نه ورځي!
تا چه لاسونه کړل اوچت ټوله خدايي زما ده
سحر ماښام د ژوند الهام دې پيرزوئينې کوم
تل دې خوشحاله او خندانه وي زما دعا ده

لندن، ۱٤، مارچ، ۲۰۱۸



## حاجی ګله!

ته کينه په حجره کښې اوږده وه رالنډوه يې
وړوکی دي سمبال کړه، زه ښکاري به ښکار کومه
زه اوس هم د زرتښت بچی باور يم په ګلاب
څو پام يې لاندې باندې هوس مينه پرې لوټمه

لندن، ۱٤، مارچ، ۲۰۱۸

## درمل يې څه؟

لاس مې وروړی نه دی ګرمه له يخني رږد پېږي
کخ يې که اوخوړو نو سم پرې کښې خکي لګېږي
کرونه بريښ نه څنګ بې څنګ غريب چې او والی شي
مخ ټنډه سره، تخنې مری، پري سالمنډي لګېږي

لندن، ۱۳، مارچ، ۲۰۲۰

## د کونترې سره مينه لېونتوب دی

ګوزمزی دې کړه کونتره، د الوت پر يې پرکوټ شو
تا ويل زه يمه کونتره، ما وېل ته زما کونتره
لاړې والوتې شوې ورکه، شين چمن مې ټول ازغن شو
خپله لاړلې اوتره، زه دې پرېښودم اوتره

لندن، ۱۳، مارچ، ۲۰۲۰

## د ژوند خوږه فلسفه

خوږه درنه یې مخکې وروستو ګوتي نه وهم درکې
لکه ایلم نه چې لم لري کړي بې لم پاتې شي
لکه د تي لوم بغغر ویلي شي ناڅاپه خوله کښې
دا رنګ درشل ته رسېدل په یو قدم پاتې شي
لندن، ۱۰، مارچ، ۲۰۲۰

## نوي نوي خوند له ژونده

مینه خوند کوي په مینه، بې غرضه بې لالچه
چې په زور یا په پیسه شي، هغه ظلم او حوس دي
بیل بیل خوند ورک له یو بل شو، په یو بل کښې سره حل شو
چې زما د زړه آواز دي، که پېنځه دي که جرس دي
لندن، ۷، مارچ، ۲۰۲۰

## وطنه مینه مې یې

ګنم یوازي ځان د جونو، میکدو، باغونو، لندن جنت کښې
یم د کابل د خورمو وګې، د سوات ښکلو چینو تږې یم
ځرک د تیراه د شپونکې شوت ته غوږونه مې دي لک نیولې
په منډه منډه، ساه تربته وارخطا پسې شودو تږې یم
لندن، ۸، مارچ، ۲۰۲۰



## خپلواکي ژوندون دې

جاپان افغان پېدا خپلواک په یو ورځ
نن زه یم چرته او جاپان چرته دې؟
زه پړانګ زمرې پنجره کښې بند شرمخ ته
څه شوو امان هغه باغبان چرته دې؟
لندن، ٦، مارچ، ۲۰۲۰

## باور ژوند دې

که یې قهر ازمېښتو مې ژوند ټوټې کړو
خو مې اوس هم باور مات نه دې له خدایه!
وینم خدای ځان کښې رسېږم به منزل ته
د پښتون ظهیر باور نه دې بې ځایه
لندن، ٦، مارچ، ۲۰۲۰

## سپینه مینه

ستا لکه ګل پټه مسکا په شونډو
د سترګو چیغې پټولی نشي
دنیا به واوري تینګ یم ستا په مینه
ما ستا له میني اړولی نشي
لندن، ٤، مارچ، ۲۰۲۰

## ژوند؟

ژوند له سحر ماښام غم فکر ويرې تيښتې نه دې
ژوند دې ته وايي چې له هرې لمحې خوند واخلې
تش په خوړو څښلو نشي، شي په منډه، خولو
د ناستې پاستې غورزو پرزو ويښ چلند واخلې
لندن، ۲، مارچ، ۲۰۲۰

## له ځلميتوب تر زړبوديه ماشوم؟

نه په چرګه، چيلۍ، غواه يې سوبه وشوه
يوه خره ده چې يې پوهه په مرض ده
شولو زوړ خو يې وروکۍ لا موړ نه شو
هره ښکلې يې اخستې بس په قرض ده
لندن، ۱، مارچ، ۲۰۲۰

## زه خاورې خدای يم؟

په هر حال کښې لکه ګل خندان مسکان يم
حقيقت کښې له غمونو مې زړه شين دې
لکه خدای په آئينه کښې خپل مخ ګورم
را معلوم شو چې ځان تور دې او که سپين دې؟
لندن، ۲۹، فبروری، ۲۰۲۰



## ښکلي سونامي بادامه

لکه چې مړې په درود را ويښ شي
په څوپل پوکي سوړ تنور سور کړي
اله! د دور بابا راورسيږي
نه مې شته خير راله به سور سور کړي
لندن، ۲٤، فبروری، ۲۰۲۰

## ريښتيا ريښتيا

قسم يې کړې وو، ور رسي به يې سر ته په خير
په نيمه لاره کښې عاجز خدای شته لوی توي يوړو
هڅي مې غټه ويله، نه وم سنګاوڼ يې د سيند
لکه ماهي مې، شمشتې په وچه خوي يوړو
لندن، ۲۳، فبروری، ۲۰۲۰

## ژوند خوند دې

وجود د ژوند شيشه چې ماته شي جوړښت يې نشي
لکه د پياز، د سيلو ټيپ، يې پيوستون ګران شي
ته ما له لاس راکړه، نو زه به دې په شا سپور کړم
ژوند مينه مينه ده، چې تمه شي ژوندون ګران شي
لندن، ۲۳، فبروری، ۲۰۲۰

## ډوبه مینه

کــه دې زمــا لــه لیوتتوبــه نــه تــوبې وکــړې
پــه مــا دې هــم لــه زړه اخلاصــه نــه مــزې وکــړې
د پهلــوي اداب نــه لــرې، پښــتنې پــه لاره
نــن پــه شــرابو مــې ســتا غبــږ کښــې غړغــړې وکــړي
لندن، ۲۷، فبروری، ۲۰۲۰

## منظور پاشتين پښتون ته

ډیــر یادیــدې مــې را تــر غــاړه ووزه
ســتا غــم کښــې ډیــر مــې دي څښــلي ګرانــه
پــه مینــه، زغــم، امــن پښــتون خپلــواک کــړه
نــه څــه دي، تلــي نــه راغلــي ګرانــه
لندن، ۲۷، فبروری، ۲۰۲۰

## غم تني پورې نخښتې

د پښــتون، د کــور او کلــي غــم ککــړ کــړم
خپــل هــم نــه پیــژنم مخکــې زمــا تېــر شــي
!چــې ګیلــه رانــه وه نــه کــړي زمــا جانــه
خــدای قســم چــې کلــه ځــان راځېنــې هېــر شــي
لندن، ۲۵، فبروری، ۲۰۲۰



## یو زه او ته

د ســترګو غشــې چــې لغنــډه شــي نــو او ولــې چرتــه؟
ماتــه هــر څــه کښــې تــه، بــس تــه ښــکلا رښا ښــکارېږې
ماتــه تــه ښــځه نــر یــې دواړه، مخکــې وروســتو ښــکلې
هــم یــې آدم راتــه، او هــم راتــه حــوا ښــکارېږې
لندن، ۲۰، فبروری، ۲۰۲۰

## څه وختونو ژوند فکرونو لیونی کړم

که ویني خوري یې "ګبین مالګه "خویه وویه خوند کړي
پـه ګوتـه، ژبـه، چې یـې څـوې، تړمـه تویـه خونـد کـړي
تتـه، رڼـه، ړنـده، لیـدې نـه شـي، خـو خونـد نشـه یـې؟
لــه هــره اړښــه ووایــه خویــه ده، او خویــه بــه وي
لندن، ۲۰، فبروری، ۲۰۱۸

## په ژوند پوه شه

پوخ شفتالو سور دوو اړخونو مینځ کښې خوند یې بل رنګ
د ســینو میــنځ کښــې دوه ګورګــورې مــې اوار ګــډوي
نــه پــه کعبــه، نــه پــه منبــر، نــه بتخانــه، میخانــه
مــولارقیــب! کــوډ مــار، شــوکمار مــې لکــه مــار ګــډوي؟
لندن، ۱۹، فبروری، ۲۰۱۸

## مينه څان له فلسفه ده؟

د سحر پرښې ګلونو، هوا مسته کښې ګډېږي
زړه مې نن هم پرېږي دي په هر ښکلي نه مرېږي
د سينې پټې تيکي بوي، سر ګردان مې ليونۍ کړي
لکه سپۍ سپلمي راغستۍ ترې تاوېږي راتاوېږي
لندن، ۱۷، فبروری، ۲۰۲۰

## خبره زړه پورې ده

يوازې يم، يوازې وم، پيدا يوازې، او يوازې به ځم
خو خپل نزدې په زړه پردي کړلو يوازې لوغوړن پاتې شو
له دوو د خو بدو نه پاتې، له خپل سيله جلا شوې مرغۍ
سترۍ لټون کښې شو د ورکو خپلو ځان له انديښمن پاتې شو
لندن، ١٦، فبروری، ۲۰۲۰

## وينې شه وينې شه

ولې ډمان شوې په پردي واده کې
د جنازو خپلو نه او وتلۍ
وه د غوايې ځويه لږ ښکر تېره کړه
حلالوي دې ترې نه نه شې تللۍ
لندن، ١٤، فبروری، ۲۰۲۰



## افغانه پښتنه يم

اور په اوړي، ژمي، جاودان آتشکده يمه
شونډې رانزدې نه کړي مچۍ يم تکه سره يمه
مينه يم، ړنده يم، سترګه وره آئينه يمه
لري له مولا، له پلاره، ستا غېږ کښې پرته يمه
ټنګ ورکړه رباب له، کړه مې تشه ډکه شپه يمه
مسته يم، الستة يم، شين خاله سره باغيچه يمه
زه که په تا باندې، ته را لاندې ګو واره يمه
سترګو کښې ټالۍ وهه، زه زړه کښې ستا ميشته يمه
هره ورځ نوروز، او هره شپه سره سبات وکړو
کړه سترګې خوږې په ما، دوو ورځو ميلمنه يمه
نن شپه به وي لوبه، د لوبغاړو ځوک نيک مرغ به وي
زر به شي معلومه، چې د چا د زړه دانه يمه
ښځه يمه، مينه کړم، په نره، له چا غلا نه کړم
واوره اې اوده اولس افغانه! پښتنه يمه
زه او ته نن دواړه خوله په خوله او زړه په زړه سره
ته زما روژه، زه روژه ماتۍ ستا خوږه يمه
غېږ کښې مې سر کښېږده چې ټکور دې په سينو کړمه
ته که دړديدلۍ يې، زه هم دانه وانه يمه
شپه درنه نشه د ژمي، تود محفل کړو ټول اوده
ته په ما کښې ورک شه، زه به ستا په تماشه يمه
راشه نفرتونه، عقيدې، کړو مينه، مينه ټول
غېږ راکړه ظهيره! زه هم ستا د خوب معنا يمه
لندن، ١٥، فبروری، ۲۰۲۰

## FREEDOM IS NOWRUZ

AFGHANISTAN PUSKHTUN LAARYUN PROTEST DECLARED THAT IT WILL BE ON UNTILL DURAND LINE REMOVED AND AFGHANISTAN UNITED
NO PUNJABI EVEN SO CALLED PROGRESSIVE NO KASHMIRIS NO PALESTINE AND NO ROHINGA BURMA EITHER JOINED OR SHOWED SOLIDARITY WITH PUSKHTUN MASSACRES SO AFGHAN PUSKHTUN TOTALLY DISSOCIATE THEMSELVES FROM WILL BE WITH WHO SINCERELY AND OPENLY SUPPORTING US TO RELIGIOUS VIOLENCE KILLING AND MASSACRES OF PUSKHTUN AND IN THE STRUGGLE TO REMOVE DURAND LINE AND BE PART OF ONE UNITED AFGHANISTAN AND BRING AN ETERNAL NAWRUZ OF DEVELOPMENT ،PEACE AND LOVE.

LONG LIVE AFGHAN PUSKHTUN AND AFGHANISTAN

لندن، ۱٤، فبروری، ۲۰۲۰

## د مختلون نوروز

مشال، نقیب، ملالۍ ښه شوه چې راوینښ کړې له خوب
پوه شولې سم دم وې خپو لاس کړلې تیار لاریون ته
نور دې وجود ډار د تالب مُلا فوجي نه مني
دي راروان نوروز، یو والۍ د لر بر مختلون ته

لندن، ۱٤، فبروری، ۲۰۱۸



## تضاد

ده بیش بها مینه، زما آشأ، توراه، قرآن کښې
توهین د مینې دی خرڅیږي چې نن ستا دکان کښې
مینه کښې ژوند تر مرګه، ساه وي له یو بله سره
مینه چې خرڅه شي، څه فرق شو په انسان حیوان کښې؟

لندن، ۱۲، فبروری، ۲۰۲۰

## آغلي پښتنې ته

آغلي شه راپورته پیغله ځوان وځېږوه
یو نوي میرویس خان زیرک شیر خان وځېږوه
که ونه شوه ځلمو نه وطن ګټه په تا فرض دي
یو ښځه ذات دې وي خو باچا خان وځېږوه

لندن، ۱۲، فبروری، ۲۰۱۸

## شتون نه شتون؟

ژوند یو خوب او خوب ژوند مینه د یوبل په زړه، زړه خول دي
شوه روز سفر، سفر دې هیلې او لټول دي
که وخت ښا یې یا وه نه شي مونږه شوي د یو بل یو
دا به کېږي که وه نه شي ګډ دوو زړونو به اجل وي

لندن، ۱۱، فبروری، ۲۰۲۰

## بیا هم ماته فضاګل یې

شي کیدي چې جوړه شوې په کاغذ وي؟
بیا هم زړه ته مې نږدې چې فضا ګل یې
ماله مینه، فکر، چوڼ، څارل راښایې
زړېودي کښې مې، ځوانۍ ته راښکل یې
لندن، ۱۱، فبروری، ۲۰۲۰

## ورځ دې له میني ډک غزل غواړم

کاشکې وربل کښې دې سورګل وګرځم
بیا خیر سل ځل که په اجل وګرځم
زړه سترګې دواړه درته لاړ کښې نیسم
ورځ دې چې ښکلی کړم غزل وګرځم
لندن، ۱۰، فبروری، ۲۰۲۰

## د ژوند لاریون

نن لکه پرون که خنډ او خار د ژوند لاریون کښې شي
سر پري ور کومه خپلواکۍ نور چا ته نه پرېږدم
دا مې فیصله ده یا به شیر یا به شنګېړ شمه
وشوه ډیره موړې! ستا ګوتې نور چا ته نه پرېږدم
لندن، ۹، فبروری، ۲۰۱۸



Tired and Lost about what happening in Afghanistan and Pakistan as one is my right one left hand as we have had a marriage of enforcement. So in the circumstances ،dipped in Gin Tonic which helps do miracles not the Aya Kursi.

Once invited to Wali Bagh by my lovely great Statesman Wali Khan Kaka in response to my question who answered that Nawaz Sharif called him Uncle and that was enough for him to trust him and he was a buddy of my great late buddy Azam Khan Hoti ،we used to drink together.

Great people Great divisions! Mahmood Khan Achakzai called Nawaz Sharif In a statement as a great sincere Punjabi leader. On top ،my Mashar friend SARANJAM Khan invited me and I went with him to meet Nawaz Sharif in central London and similarly when Jhagrha Sahib visited my Hujra In Jam he reinsured me that Nawaz is a man integrity. Nawaz Sharif had offered me an open invitation to call on him but I avoided it due to in what ways the massacres taken place with Puskhtun but now it's a life and death situation and if the Afghanistan and Pakistan government wish to bring peace with sanity I can help resolve hopefully if the army drunk their stubbornness ،and can be contacted at :-

The following couplet of mine represent feelings of anguish and peace:-

لندن، ۱۰، فبروری، ۲۰۲۰

## لټون

په وچو پوندو پولې شوي پښو غرمه کښې رسېدلو درته
خو شونډې وچې، زړه غلبيل سترې اريان پاتې شو
ستا دا د مينې خدای، نه زړه، نظر چا سره مينه لري
بې مخ بې زړه، محبوب د چا نه شو د ځان پاتې شو
لندن، ۸، فبروری، ۲۰۲۰

## خپل ځان منو مونږ

مونږ ټول له خدايه ګيله من يو نور خپل ځان منو مونږ
د حق ملګری چې وي چرته ټول جهان منو مونږ
تور سپين، پوستکې مې ملګرو غولوی نه شي نور
هر قبائيل ياغي خپلواکه ياغيستان منو مونږ
لندن، ۷، فبروری، ۲۰۱۸

## ماشومتوب

بې يرې کړه، په منت تې هم غوښتل
څومره ماشوم ښکلې لغند ماشومتوب
زه زوړ ماشوم له ما ګيله مه کوه
په ما دې ګران ترې اخلم خوند ماشومتوب
لندن، ۷، فبروری، ۲۰۲۰



## لالې د وګيو نه کلچمي غواړي

د ګبينه په سوړه خپله ناست يې
عادت د ګوتو مې زړګې! نه پرېږدي
په اوښه سپور د بچي لاندي شولو
په واويلا مې کرتکې نه پرېږدي
لندن، ۷، فبروری، ۲۰۱۸

## مرخت په مينه نشته

شات او اينځر به دي خوړلي له حوا نه پټ وي؟
په ښکلولو دې شوم سترې بيا هم نه مړېږم
مرخت په مينه باندې نشته تل زه وږې يمه
په نيمه شپه کښې را نه لاړې زه به څه مړېږم؟
لندن، ٦، فبروری، ۲۰۲۰

## انتظار په هيرو هل

د لمر سترګي نن راغستې لکه سم ټيډي بازار کښې
هر موټر ته ځارندويه هر يو ښکلي ته مې زړه شي
سيلاني عکسونه اخلي، يو له بله ښکلوينه
ورته ځير شونډې لاس واوري سولوم يې چې تاوده شي
لندن، ۵، فبروری، ۲۰۲۰

## د ځان ملګري ځو کړه

له خواهشاتو دې ورځ ډکه او شته منه غوارم
له میو ګلو خوشحالۍ دې ډک لمنه غوارم
که مې منې په بسم الله له کومې تیر بوتل کړه
سبا به ګورو زه دې نن جنت ته تلنه غوارم
لندن، ٤، فبروری، ۲۰۲۰

## مشک او رامبیل

ماشوم لکه د مور په تۍ په مینه وهي شونډې
خوربږي یې په ذهن مشک رامبیل نشه نشه شي
زه تا چې یادوم همیش بیا څه رنګه تنها یې؟
ستا خیال جنت جنت، زما هم ستا په زړه کښې شپه شي!
لندن، ٤، فبروری، ۲۰۱۸

## خپل زوړ اقدار کړی نوې

اتڼ، شراب، کباب، رباب، پښتونولي لاړې دي
پښتون خمیر کښې زغم، ماتم په خوشحالۍ تېروي
په ژوند او مرګ دواړو خندا توقي ټقالي کوي
اولې په غټه ګټه غم، ژوند په سختۍ تېروي
لندن، ٤، فبروری، ۲۰۱۸



## دیوالونه مې ملګري

د نیمې شپې یوازې کټ کښې خوب مې وتښتیدو
ته رانه لرې، کرم خبري دیوالونو سره
زه خبر نه وم اند کې مینه به بلا وي دومره
سوبه یې نشي په مئین لوبې کړي زړونو سره
لندن، ۳، فبروری، ۲۰۲۰

## ځان او پیژنه

د مرګ له یرې پټېدل خو ښځې هم نه کوي
مرګ ته بلنه ورکړه ځان آباد آزاد جوړ کړه
د پلار نیکه بودها زرتشت هډوکي ولې شپېلۍ؟
غرونه بیدیا او دریابونه شاد آباد جوړ کړه
لندن، ۳، فبروری، ۲۰۱۸

## خپلواکي چې هیره نه

خیر دی تیرې دې پیړۍ کلونه تېر شي
نه نقیب، ارمان لوښي چې درنه هېر شي
ځان به ورک کړي که یو ځای نه شي پښتونه
چې مشال، پاشتین کړي سیر نو ته به سیر شي
لندن، ۲، فبروری، ۲۰۲۰

## خوند له یو بله واخله

دا "لاتدې باندې "، "خوږ تراخه "د ژوندانه نامې دي
که ته رالاتدې سره لمبه، باندې کلاره به ځم
بس تیروو به سره وخت خوند له یو بل به اخلو
ګیر یم ستا لاړ کښې، وتی نشم ستا په لاره به ځم
لندن، ۲، فبروری، ۲۰۱۹

## آسیا اروپا مې ده زړه

ته مې یاد ېږي که مې نه یاد ېږي
سترګو کښې ساه رڼا مې ته غرېږي
راشه لږ غوږ خو زما زړه ته کښېږده
چې ټوله ته په کښې نغمه غګېږي
لندن، ۱، فبروری، ۲۰۲۰

## مني مینه افغانۍ روپۍ

کله ټینګه موټې کښې، کله په مې جونو هم
کله وګې تګې له، کله په کورونو هم
کله تیز رفتار، خواړه، ډیر په فیشننونو هم
کله جواري هم شي، کله په سیلونو هم
خوښه افغانۍ مې ده، خوښه هم روپۍ مې ده
مني افغانۍ روپۍ، دا عبادت مینه ده
مني زما مینه ده، مني زما مینه ده
لندن، ۳۰، جنوري، ۲۰۲۰



## زما ګل پښتون بچی

دا غمې بچې ایرو نه را وتلې
نن پخې ابلې ستا کیږې ګنډې نه ژاړي
سترګي سرې مسکا پیغام د لوی صبا دی
په دې متو به خپل حق درځینې غواړي
لندن، ۳۰، جنوري، ۲۰۲۰

## لوي اریانه افغانستان

د فقیر وزیر خیمه خپلواک پښتون کوچ
دغه ځیری نن دنیا دي څرګند کړي
د بنو پښتونستان مناظره کښې
د منظور راتګ بابا دي څرګند کړي
لندن، ۲۸، جنوري، ۲۰۲۰

## پښتون بدل نه پرېږدي

مونږ له پیړیو د مذهب بندیان یو
نن راویښ شوي خپل ملکونه اخلو
داسې یې مه ګڼه اې تور مغله!
د یو په سر به سل سرونه اخلو
لندن، ۲۸، جنوري، ۲۰۲۰

## زه ته راضي

له يو ادم حوا ، مئينه په ما ، لور مور ، که مې يې درخاني
مدام د يو بل سره يوځای، مونږ د چا څه غلامان خو نه يو
ټوله خبره خو زما او ستا ، قاضي په کښې لاکومه مولې؟
د يو بل زړه ساتو، کړو مينه، نفرت نه څه حيوانان خو نه يو
لندن، ۲۸، جنوري، ۲۰۲۰

## سور بيرغ

دا سره رنګونه زمونږ سرې وينې په شنه زرغونه
له لوی امو تر اباسين جيلم نوروز راولې
په وينو سور بيرغ د مينې لوی افغان يو کړي
بيا د زرتشت، ميرويس بابا سور ساز او سوز را ولې
لندن، ۲٦، جنوري، ۲۰۲۰

## ستا رضا زما رضا

خدای دې خپه مه که ته خپه نو ځان مې خپه
په دلاسو به دې زه ځينې دواړه ښپې ونيسم
چې مې تر کومه راضي کړې نه وي پوهه شه په دا
زه شپه او ورځ به ستا د مخې دروازې ونيسم
لندن، ۲٦، جنوري، ۲۰۲۰



## حرام حلال شو ورته

ستا ناڅاپي راتله په نيمه شپه کښې
وم ژړه غونۍ په خندا يې سر کړم
سمه خدائيږنه راته جوړه شولې
حرام خو څه، په ناروا يې سر کړم
لندن، ۲۵، جنوري، ۲۰۲۰

## ړوند زاهد

زاهده ولې به يې زړه پورې زه نه ليوه وم مينه مې ده
په سترګو ړوند شې وينې نه ښکلې ده ګرانه زما
که راسره ده او که نه تل زما زړه کښې اوسې
منت يې نه کړم دغه ګرانه شوه اسانه زما
لندن، ۲٤، جنوري، ۲۰۲۰

## پښتونه ويښ شه خوځښت

وخت دې ورکيږي ځان قربان کړه چې سم ځان جوړ کړي
په زغم چلول نه شي په زور او احتجاج به کيږي
نور نه په صبر، يو اړخيز امن په سوله کيږي
ځان چې کړي بای پرې، هله ګټه په دې جاج به کيږي
لندن، ۲٤، جنوري، ۲۰۱۸

## ته په خووږ مې خوشحالېږې

چـــې ريښـــتيا دي کـــه دروغ، تـــا ســـاتلې ډيـــر پـــه تمـــه
خدای خبر چې زه دې زړه کښې، که په خيال کښې هم رادرومم؟
ايـــا دا توخـــه د مينـــی، ايـــا دغـــه انســـانيت دی؟
ولــې زړه ســتا پــرې جــوړېږي، چــې پــه کومــه زه خــووګېږم؟
لندن، ۲۳، جنوري، ۲۰۲۰

## سوچه پښتو؟

کـــه خوشـــحالي راشـــي، اړيکـــه راشـــي
را دې شـــي را دې شـــي پـــه ټيکـــه راشـــي
کلـــه نـــا کلـــه داســـې او خـــوئېږي
دســـړي غـــيږ کښـــې ورتـــه څړيکـــه راشـــي؟
لندن، ۲۳، جنوري، ۲۰۱۸

## داسې ښاندانه اوسه

مـــا کلـــه کلـــه فکـــر يوســـي لـــوينی خـــو نـــه يـــم؟
خـــو ســـتا څهـــره زړه آئينـــه کښـــې مـــې ښـــاندانه ســـاتي
کـــه دا څهـــره د وخـــت دهشـــت چرتـــه کښـــې ماتـــه کړلـــه
مـــا ليـــونی بـــه کـــړي پريشـــان او پښـــيمانه ســـاتي
لندن، ۲۲، جنوري، ۲۰۲۰



## د اميد جوړښت

مثـــال د مينـــې لکـــه شـــونډې چـــې کـــړي ليـــو پـــه شـــونډو
تضـــاد پـــه مينـــه، لکـــه کـــرک دې د ائينـــې پـــه مـــنځ کښـــې
تشـــه پـــه ســـترګو کښـــې مســـکا ســـتا زړه ناروغـــه جـــوړ کـــړي
لکـــه چـــې اوپيـــرې اميـــد د انديښـــنې پـــه مـــنځ کښـــې
لندن، ۲۱، جنوري، ۲۰۲۰

## درې اړخيز کړکيچ

پـــه بـــر مـــوډه درې اړخييـــز کښـــې ګيـــر شـــوم
چـــې څـــومره مخکـــې درومـــم وروســـتو ځمـــه
هـــــيڅ نـــــه پوهېږمـــــه پـــــه دا مسمســـــه
ځـــــان جـــــوړومم او کـــــه يـــــې ورکومـــــه
لندن، ۲۰، جنوري، ۲۰۲۰

## زړه مې اوګوره د ننه ته په کښې ته يې

ته راته های Hi وکړه او زه به درته هيلو Hello وايم
فضـــا همـــا تـــه پـــه قســـم چـــې رســـېدل ګـــران دي
يـا راتـه او وايـه چې جانی، جان لندن تـه درتـه درځي
هيتهـرو بـه چـاڼ کـړه ځکـه ســتا چې پيژندل ګـران دي
لندن، ۱۹، جنوري، ۲۰۲۰

## زه شیخ چلی نه یمه

چې چا له زړه ورکړي ګوګل کښې وي، خو تا سره وي
دا کیدی نه شي، چې بدل شي د بل چا سره وي
که ته مې نه شوې ستا یادونه بائیباد لرمه
که وي فرضي هم، وایې به د فضا سره وي
لندن، ۱۹، جنوري، ۲۰۲۰

## ما کښې ته خپل مخ ویني؟

ګوته اول خپله ځان ته نیسه بل چې یاد نه کړې
زه چې څه یم زه یم، هېڅ پروا زه د بل چا نه کړم
تا ته که زه ښه ښکارم که بد دغه ایمان د ستا
زه ایمانداری سره مئین په تا، بل چا نه یم
لندن، ۱۸، جنوري، ۲۰۲۰

## رانه خپه شوله ژبې مې شوله

ښه مینه ناکه ډیره سخته هم خولګۍ مې شوله
رانه په تشه بس خپه لکه ابۍ مې شوله
لکه باوره ستا د راتلو پسې اوار نا قلار
په وچه غاړه مې هم غاړې جوړ ژبۍ مې شوله
لندن، ۱۸، جنوري، ۲۰۲۰



## د ولی ثواب

د ژوند څاڅکي مې قبول کړه، شه یې جوړه محافظه!
که مئینه په رښتیا یې، نو بچې ګلاب مې واخله!
سترګې پټې، ځان کړه ډوب، د خوږ ژوند مراقبه کښې
زه به لاس در باندې کښېږدم، د ولیانو ثواب واخله
لندن، ۱۷، جنوري، ۲۰۲۰

## یو شرق غرب

زوږ خو، زه نه یم په زړو د جهالت رواجو
هلک جینۍ لري دا حق چې ملګرتیا وکړي
مور، پلار، ملا، قاضي دې وشوه خپله لاره کوي
وخت دې چې شرق او غرب شي یو دا فیصله وکړي
لندن، ۱۶، جنوري، ۲۰۲۰

## مشال مه هیروئ
## اقبال خان ته هرکلئ

هر کله راشئ د مشال پښتون لیجنډ پلاره
د امن مینې د یو والي آرزومند پلاره
مشال په صف کې د حسن حسین پښتون زبادوی
هم که ملاله د سوات که د هلمند پلاره
لندن، ۱۶، جنوري، ۲۰۱۸

## راشۍ یو شو

زما کور اور زما ځمکه له امو تر ګوادره
د کنعان تر بولانه لرم خونه بختوره
شرمیدل ترې جنتونه، د خدای کور حور او غلمان
ته تنځرې او مایان، واړه هر لورې ګلان
د انسان، د لوی شیطان، دا ظلمونه او اورونه
بارانونو جوړ سحره کړه وینې، زوي دي توېږي
ونې، بوتې له نظر ورک، لاوه اورې د ظلمونو
که نن نه شو مونږ یو موټۍ، زرګاو زوړ نسل ورکېږي
راشۍ یو شو که کنعان، که افغان دې .یو ذات دې
که زرتشت، یهود، آریاو یو، لرې دې له ذات او پات
لندن، ١٦، جنوري، ۲۰۲۰

## خبرتیا

زړه چې پرې خووږ نه کړي که پوهه نه شي پوښتنه وکړه
په زور، نفرت، ګواښ، نه، ارزش په ست جرګو جوړېږي
غم او ښادي د یو بل خیال ساتل، کور اور جوړوي
کلیوالي، ګوندي، په مینه، تلو راتلو جوړېږي
لندن، ١٥، جنوري، ۲۰۲۰



## ځښت ویښ شه

د ځینې ځینې خلکو فکر مه کړه
یو ورځې دا به زمونږ ځینې نیسي
بیا د شیر شاه، ابدالي وخت به راشي
دغه تورمخ به مې لمني نیسي
لندن، ١٤، جنوري، ۲۰۲۰

## ګټه تاوان د مینې

مینه ړنده ده، لیونۍ ده، لوی ګړنګ، سمندر
مینه مېړانه، ریښتینتیا ده، زیار ګټل د لوبې
که لامبوزن نه وي، د زړه سترګې دې هم ړندې وي
نو لاړې ډوب شوې دا هم دي ګټل بایلل د لوبې
لندن، ١٤، جنوري، ۲۰۲۰

## د پښتون ژوندون ګټه

ګټه ګټه د پښتون ګټه
خپله خپلواکي په مخکې تلون ګټه
اوس په پېښور، بنو، کابل، ننګرهار
مخکې په جیلم، امو پاڅون ګټه
لندن، ١٣، جنوري، ۲۰۲۰

## شونډې سره مرچکي

ساقي ستا غېږه کښې نسکور پاتې شوم
چې نه د کور او نه ده ګور پاتې شوم
شونډې سرې شهد که دې سره مرچکي
که دې جنت هم زه په اور پاتې شوم
لندن، ۱۳، جنوري، ۲۰۲۰

## زوړ ځلمی

زوړ شوې پېښې بیا هم د ځلمیانو کوې
نوې هم تا ته نن زړې ښکاري
ظهیره! ګران خو په ما ځکه یې ډېر
چې وایې بدې درته ښې ښکاری
لندن، ۱۲، جنوري، ۲۰۲۰

## احساس

تیلی مې څه درکړو، شوغلې د انغري ماتې شوې
اوس راته وایې ولې، "څه مړه! په اور کښې نه یې
پام کوه زړه دې لیونی دی، غشي نشي زغمی
چرته غلط ګزار به وکړې نن په سور کښې نه یې
لندن، ۱۱، جنوري، ۲۰۲۰



## ستا د ساه په ساه ګښې والوت

رانزدې لکه د ګل شوه، سره نشه وه خوریدله
ویل یې جوخته مې کړه ځان ته خوله په خوله سینې بدن یو
مخامخ مې رانزدې کړه، د دوو تنو نه یو ساه شوو
ساه د دواړو شوه تربته خو ولاړ لکه یو تن یو
لندن، ۱۰، جنوري، ۲۰۱۸

## افغان پښتون

ځان راته بد ښکاري چې وایم د سپي له ذات شو
په پردي غم څوکی ما مه شمېره درګډ ولاړ وي
خپله کوي د بل منې نه سم د خدای له ذات دی
لکی پردې ته وهي ورور ته تل مخ ولاړ وي
لندن، ۱۰، جنوري، ۲۰۱۸

## مینه او اخلاص

همېش به تله دې درنه پخه وي
چې د درنو ښکلو وي لاس درسره
ما ته خو خوږ له شهد شکري زیات
مینه کومه په اخلاص درسره
لندن، ۱۰، جنوري، ۲۰۱۸

## دارو نشه

هيروين ښبل مرګونيي زهر ښبل دي
ولې د ژوند نه بې آزاره يې ته؟
تالب بوټان سپين پوست دي وژني ګوري
دښمن ته ولې تابعداره يې ته؟

لندن، ۹، جنوري، ۲۰۱۸

## د محسن داوړ زړګي په وينا

ځار له زړګي شم چې مې زړه او هم ځيګر جوړوي
ما له کابل او کندهار او پيښور جوړوي
د باچا خان او د ايپي فقير نوسي شائلمي
لر او بر يو، د ننګرهار نه هشنغر جوړوي

لندن، ۹، جنوري، ۲۰۲۰

## مچۍ مه پاروه

که زور يې نه وي په ژړا به درله سر اوخوري ډېر
ماشوم اوده له ډوبه خوبه چې راويښه نه کړې
هر څه هر څه کوه د ښځي تخرګ به نه ګروې
مچۍ اوده ګاونډه کښې ښه وي چې يې تريخښه نه کړي

لندن، ۸، جنوري، ۲۰۲۰



## سوله د وياړ په کار ده

ځان خرڅې ښه، خو د وطن ځمکه چې خرڅه نه کړې
د خپلواکۍ ګټه به اخلي کله ساه چې ورکړې
له هغې سولې دې سودمند مرګ د غيرت او پښتو
مورخور ولور کښې قبائيل لوی پشتونخواه چې ورکړی

لندن، ۸، جنوري، ۲۰۲۰

## مسيحا طبيب

شونډې په شونډو چې مې کښېږدې نور دارو څه کوم
لکه په پوخ تالو د مالګې غړغړې ټکور شي
که په خوږه سترګه را اوګوري او غاړه راکړي
نو به ظهير زهير، مالدار په زړه، د نورو نور شي

لندن، ۷، جنوري، ۲۰۲۰

## زه حساب به درنه غواړم

که د محشر په ورځې وي که نه وي
زه به حساب خپل دهشتګرد سره کړم
وطن جنت به زر په وينه جوړ کړم
دغه ټينګار په وياړ باور سره کړم

لندن، ٦، جنوري، ۲۰۲۰

## جدايي لړم چيچل کړي

د تورو شپو، د تورګمو پوښتنه څله کوې؟
زه خو په ويښه دې، د ورځې په خوبو کښې اوسم
هره لمحه د جدايي لکه لړم مې چيچي
زه په جنت کښې د دوزخ په سرو لمبو کښې اوسم
لندن، ٦، جنوري، ۲۰۲۰

## دروغ نه ريښتيا

که درته او وايم چې ما واخله زه تا به واخلم
ښه به وي يو شو سره، يو له بل بلا واخلو
مونږ له پېړيو ناليدلو ته سجدې کړي دي
وخت دی چې پوه شو د درواغ په ځای ريښتيا واخلو
لندن، ٥، جنوري، ۲۰۲۰

## خواچې! ښه ساده هوښيار يم؟

يم ستا مئين خانه واده، کوڅۍ، چچو ټټو خو نه يمه ستا
غلام دې نه شوم که مې ستا سترګې، سينې خوښېږي
که نه پوهېږم ښه پوهېږم ګوري پوه شه نوره
پخې چرګې پکې مې ډکې خورماني خوښېږي
لندن، ٤، جنوري، ۲۰۲۰



## مونږ د يو بل به تل ځان وو

ما ستا ولې يې کړو راجوښت، تا مې شا نه لاس راتاو کړو
د ګاري کور کې مې، نن هم ستړګو کښې غړېږي
اې خوږې! ته را نه لاړې، زه دې پرېښودم يواځې
په خوږو تراخو يادونو دې زه پايم، وخت تيرېږي
لندن، ٤، جنوري، ۲۰۱۸

## شکر زړه کښې خو دې اوسم

په هم دې اميد پائيږم، ايرو خپلو نه ټوکېږم
شکر زړه کښې دې يم ننه، که ډېر لرې درنه اوسم
د اغيارو په ديار مې، درپسې سترګې ختلې
چرته ورکه رانه نشې، له لمن دې ټينګه نيسم
لندن، ۳، جنوري، ۲۰۲۰

## ځان پوه کړه

چې شي خبره د پښتو په ښهً او نهً نه پوهېږي
بيا ليونۍ شي، په توده، نه په سړه پوهېږي
سمه شه مکره نخرې کټ نه به دې وه توغوي
سم جټ پښتون دې ظهير، ګوره په يوه پوهېږي
لندن، ۲، جنوري، ۲۰۲۰

## نوي ژوند نوي کال

په هر لوري مينه امن سکون خور هر کس خند پړي
معلومېږي وخت بدل شو چې نن يو زړه او دماغ دی
قارون نشته فرعون نشته د ملا مذهب نوم نشته
دلته ژوند دی دلته خوند دی، دلته هر ځای لکه باغ دی

لندن، ۱، جنوري، ۲۰۲۰

## مينه په مينه شي

مينه نه شي ای زړګيه! نور په زوره
مينه مينه شي په مينه ځويه وروره
که خرخ شوي په توري او سهود نه يې
راشه راشه غاړه راکړه نو بيا ګوره

لندن، ۱، جنوري، ۲۰۲۰

## پښتون ځيګدن نوي کال

پښتون ځېږدن ورځ ده د جو کلي کښې
په جم خېبر، روجګل د افريدو کلي کښې
زرتشت، ابرم، دواړه دې سر په اتڼ
د انسانيت د امن شتو کلي کښې

لندن، ۱، جنوري، ۲۰۲۰



## په نوي کال ګورې ما مه هيره وه

ستا زړه که کاڼی وي زه سخت شوخين پښتون يم ګورې
يمه کوهکن، ماتوم تېږي، د ژوند شپون يم ګورې
له ګوادره تر امو، چمن لوي کور دي زمونږ
ستا رنځ، انځور، شم رغولی روغنتون يم ګورې

لندن، ۱، جنوري، ۲۰۲۰

## هر څه هر څه کښې ته يې

ته خو ته څه کړي چې ستا فکر هم له تا ښکلی دي
چې هر يو ښکلی ته زه ګورم په کښې ته ښکارېږي
وشوه يو څو ورځې دې پاتې اوس خو راشه کنه!
په سترګو سترګو کښې مې ښه ښکارېږي نه ښکارېږي؟

لندن، ۳۰، دسمبر، ۲۰۱۹

### راځه يوبل سره کړو زړونه بدل

راشه چې زړونه کړو بدل يو بله
زه به په تا کښې ته په ما کښې اوسې
ګيلې له له بله ورکې به شي
زه به ستا زړه ته زما ساه کښې اوسې

لندن، ۳۰، دسمبر، ۲۰۱۹

## اوخوځېږه

ټول کارونه اپوټه کړي، د چا عقل نه ور رسي
د خدايې تعريف لايق دی، پښتون يو دی پښتون خدای دې
په يوه ټينګ لکه سپين غر دې، له خپل ځايه نه خوځيږي
دې ته دروند وايې که سپک، په يو ځای دې خو بې ځای دې؟
لندن، ۲۹، دسمبر، ۲۰۱۹

## ډيران ډک له غمو

نه به او مومي هم سنګ زما که پوهه شي
که چاڼ کچ وکړي په ځمکه اسمانونو
مور دې پوهه ده ګلالې يې سور غمې دی
نن دې ځکه لټوي په ډيرانونو
لندن، ۲۸، دسمبر، ۲۰۱۹



15 March 2016 : Zaheer & Arsalan:
Dubai Fountain UAE



BACHA KHAN BABA



BACHA KHAN AND WALI KHAN



BACHA KHAN AND WALI KHAN



With Malik Israr Family members in Teddy Bazar Jam





21 May 2013 International Rotary Meeting Catford London



On our Farm Azam Abad Warsak




20March 2014  with the principal of my Islamia Collegiate School



8 June 2013 Pakistan High Commissioner London




**23 May 2014 Delivering Lecture at the Westminster University London**



4 October Regents Park
London Mosque



4 October Regents Park
London Mosque




26 September 2015 Red
Square Moscow




**26 September 2015**
**Revolution Square Moscow**




**25 November 2015 Victoria Westminster London**



**15 December 2016 Zaheer with Tulip Sidiq Member of Parliament at Palace of Westminster**




**2 February 2016 With my son Dr Adnan in Bunbury Perth Australia**





**15 December 2016 Zaheer with his close friend Dr Richard Stone who is now disabled at Tulip Sidiq 's inivite at Member of Parliament at Palace of Westminster**




**16 June 2016 : Solidarity with Jo In Houses of Parliament London :Hate Hate Vote Love**



14 August 2016 With Mayor of Brent On Invite of Brent Labour Leader Attended Pakistan Day in Brent Town Hall London



17 July 2016 to ANP meeting in London





**26 February 2014 Zaheer ,**
**prof Abdullah Sadq & Arsalan**
**Islamabad Pakistan**



**27 January 2020 Jinnah Park with Begum Nasim Khan on Khan Wali Khan Kaka Jinaza Funeral Peshawar**



**4 April 2014 Led & Award Dubai Business Leaders Council Dubai**



**My Father Malik Alhaj Abdul Azam Afridi**











PROVINCIAL SERVICES







































## ډاکټر احسان ظهير افريدی

ښاغلي احسان ظهير افريدی حمزه، همېش، اجمل، طوفان، کامل، ناظر، خاطر، خيبر او قيوم کوثر غوندې صاحبانو سره ورته د ملګرتيا، ناستې ولاړې او نزدېکت شرف هم حاصل دی.

د ښاغلي ظهير د شاعرۍ موضوعات، علامات، تشبيهات، کنايات،ژبه، رنګ روغن بېخي ځانګړی، خوږ او اثري دي.قاميت، مقاميت، انسان دوستي او ترقي پسندي ئې د خوبښې سرخطونه دي. انداز ې فلسفيانه، منطقي او مدلل ښکاري.

کله کله دومره رندانه شوخ شي چې په لوستونکو غونې لشې لشې کړي او د ځينو ټولنيزو کردارونو داسې بې نشې جراحي وکړي چې هغه په ځان خبرېږي کار شوی وي. ازاد خيالي او شعله بياني د دوي د شعر لويه خاصه ده.

ډاکټر اباسين يوسفزے

پښتو ادبي مرکز، پېښور، پښتونخوا

0345 9309207

خپلواک پښتو ادبي جرګه خيبر پښتونخوا